خراسان غږ

خراسان غږ مجله
لسمه ګڼه

وَلَا تَهِنُوا فِي ابْتِغَاءِ الْقَوْمِ إِن تَكُونُوا تَأْلَمُونَ فَإِنَّهُمْ يَأْلَمُونَ كَمَا تَأْلَمُونَ وَتَرْجُونَ مِنَ اللَّهِ مَا لَا يَرْجُونَ وَكَانَ اللَّهُ عَلِيمًا

د دښمني ډلي په تعقيبولو کښې سستي مه کوئ، که تاسي کړاؤ ګالئ، نو ستاسي په شان هغوی هم کړاؤ ګالي. او تاسي له الله څخه د هغه څه هيله من ياست چي هغوی يې هيله من نه دي. الله پر هر څه پوهيږئ او الله د حکمت او پوهي خاوند دی.

[سُورَةُ النساء :104]

ديني، تاريخي، سياسي، ادبي او خبري مجله

تفسير القرآن الكريم

د سفارتونو امارت

د دوستانو له ځلي

د ډالرو بنځلي

سرښندونکي غازيان

لنډه کيسه

د ډير دغرونو زمري

ابو دجانه تقبله الله تعالى

مؤسسة العزائم الإعلامية

سه شنبه ۱ ربيع الأول ۱۴۴۴هـ

مؤسســـة العـــزائم يــې وړانـدې کـــوي

##ديني برخه

1 تفسير القرآن الكريم

6 نثر اللؤلؤ والمرجان (في سلسلة معرفة الرحيم الرحمان) نهم درس

11 الفلاح والرشاد في مسائل الجهاد (صحيح البخاري كتاب الجهاد) نهم درس

17 سيرت النبي صلى الله عليه وسلم (اووم درس)

23 سعيد بن عامر الجمحي رضی الله عنه

سياسي برخه

28 د سفارتونو امارت

30 د دوستانو له ډلې د ډالرو بنډلې

45 د وزيرستان د القاعدې د منهج او فعاليتونو په اړه يوه کورنۍ ګواهي!

ادبي برخه

47 شعر (ځک د بارودو کمربند ته يې کتل خندل يې)

48 د دير د غرونو زمرى استاذ ابو دجانه تقبله الله

55 ســـربښـنـدونکي غـازيـان لنډه کيسه

62 انفوګراپيک (مؤسسة العزائم الإعلامية د تير يو کال راپور)

66 شعر (دا صليبيان چې کړي وحشت په اسلامي نړۍ کې)

خبري برخه

63 انفوګراپيک (خراسان ولايت د صفر د مياشتې د بريدونو پايلې)

64 خراسان د مرتدينو مقبره

تفسير القرآن الكريم

سُورَةُ التَّوْبَة

لسم درس ۱۰

أعوذ بالله من الشيطان الرجيم

[مخکې آیت کې الله عزوجل دا خبره وکړه چې دې منافقانو لپاره که نبي علیه السلام هر څومره بخښنه وغواړي نو دا ورته فائده نه ورکوي، ځکه دوی د مغفرت اهل ندي، دوی کفار او مرتدین دي. اوس دې آیت کریمه کې الله عزوجل منافقانو ته بل زجر ورکوي او ددوی یو څو نور صفات به ذکر کړي]

فَرِحَ الْمُخَلَّفُونَ بِمَقْعَدِهِمْ خِلَافَ رَسُولِ اللَّهِ وَكَرِهُوا أَنْ يُجَاهِدُوا بِأَمْوَالِهِمْ وَأَنْفُسِهِمْ فِي سَبِيلِ اللَّهِ وَقَالُوا لَا تَنْفِرُوا فِي الْحَرِّ قُلْ نَارُ جَهَنَّمَ أَشَدُّ حَرًّا لَوْ كَانُوا يَفْقَهُونَ (81)

ژباړه: خوشحاله دي دا پاتې کړې شوي، (د جهاد څخه) په کیناستلو خپلو باندې خلاف د رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه، او بد ګڼي دوی چې جهاد وکړي په مالونو خپلو سره او په ځانونو خپلو سره په لار د الله تعالی کې او وایي دوی نورو خلکو ته مه وځئ په ګرمۍ کې (د جهاد لپاره)، ته اووایه اوور د جهنم ډیر سخت ګرم دی که دوی پوهیدی (نو داسې به یې نه کولای).

تفسير:

دې آیت کریمه کې هم د منافقانو یو څو صفات ذکر کیږي:

اول:جهاد څخه وروسته پاتې کیدل.

دویم: د جهاد څخه قعود باندې خوشحالي او فخر کول. دریم: په مال او نفس سره جهادونه بد ګڼل.

څلورم: نور خلک هم په ډول ډول شبهاتو سره د جهاد نه منع کوي.

[فَرِحَ الْمُخَلَّفُونَ بِمَقْعَدِهِمْ]:

المخلفون څخه هغه منافقان مراد دي چې هغوی پریښودلې شوي وو، د نبي علیه السلام څخه یې اجازه غوښتې وه، او هغه ورته اجازت ورکړی و، او مدینه کې یې پریښي وو. یا معنا دا چې الله عزوجل د جهاد لپاره ددغه کسانو وتل بد ګڼي، نو وروسته یې پریښي وو، او یا هم شیطان سست کړي وو او یا مومنانو د ځان څخه وروسته پریښي وو، مومنان ترې لاړل او دا منافقان یې پریښودل.

ډیر عجیبه منافقان وو، چې جهاد نه وروسته پاتې وو، د نبي علیه السلام مخالفت یې کړی و، او بیا په خپل کار خفه هم نه وو بلکې خوشحاله وو.

ګناه کول جرم دی او په ګناه باندې خوشحالي کول ستر جرم دی.

[خِلَافَ رَسُولِ اللَّهِ]:

اخفش او یونس وایي: [الْخِلَافُ بِمَعْنَى الْخَلْفِ، أَيْ: بَعْدَ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ] دلته خلاف په معنا د وروسته والي دی، معنا وروسته د نبي علیه السلام څخه. ځکه د امام (امیر) څخه مخالف اړخ چې ذکر کیږي، هغه د وروسته طرف دی. قطرب او زجاج وایي: [مَعْنَى خِلَافَ رَسُولِ اللَّهِ: مُخَالَفَةَ الرَّسُولِ حِينَ سَارَ وأقاموا] چې ددې معنا ده د نبي علیه السلام مخالفت کول کله چې هغه روان شو او دوی پاتې شو.

نو دوه معناګانې شوې: یا مراد وروسته پاتې کیدل دي او یا هم د نبي علیه السلام مخالفت کول دي. بیا دا چې منصوب دی، دا ځکه چې مفعول له دی. علت د قعود مخالفت د رسول الله علیه السلام دی. او یا هم دا نصب یې د حال جوړیدو له امله دی، معنا به دا شي: پداسې حال کې چې دوی مخالفت کونکي دي.

[وَكَرِهُوا أَنْ يُجَاهِدُوا بِأَمْوَالِهِمْ وَأَنْفُسِهِمْ فِي سَبِيلِ اللَّهِ]:

دوی د الله تعالی په لار کې جهادونه په مالونو او ځانونو بد ګڼي، ځکه چې په خپلو مالونو او نفسونو بخیلان دي. ایمان او اخلاص پکې نشته او نفاق پکې موجود دی چې هغه د جهاد څخه منع کونکی دی. او دې کې د مومنانو صفت دی چې هغوی په خوښه جهادونه کوي، هغوی باندې باعث ایمان دی او نفاق پکې مفقود دی.

بیا دلته کراهت طبعي مقصود ندی، ځکه په نفس باندې جهاد خو خامخا بد لګي، خو هدف دا دی چې دا منافقان جهاد د شریعت حکم ګرځیدو له امله بدګڼي، چې دا ولې شرعي حکم دی، ولې په مونږ فرض شوې او دا کفر دی. شیخ الاسلام محمد بن عبد الوهاب وایي:

الناقض الخامس: من أبغض شيئا من جاء به الرسول صلى الله عليه وسلم ولو عمل به كفر وهذا باتفاق العلماء.

پنځم ناقض د اسلام دا دی چې څوک د نبي علیه السلام راوړې شریعت یو حکم سره بغض وکړي، اګر که عمل هم پرې کوي، خو دا په اتفاق د علماؤ سره کافر شو. لکه د (اقناع) مصنف او نورو پدې باندې اجماع نقل کړې ده. ځکه الله عزوجل د هغه چا د کفر پریکړه کړې چې هغوی د الله تعالی د نازل شوي شریعت سره بغض او کینه لري.

[وَالَّذِيْنَ كَفَرُوْا فَتَعْسًا لَّهُمْ وَ اَضَلَّ اَعْمَالَهُمْ. ذٰلِكَ بِاَنَّهُمْ كَرِهُوْا مَاۤ اَنْزَلَ اللّٰهُ فَاَحْبَطَ اَعْمَالَهُمْ] سورة محمد ٨ او ٩.

ژباړه: او هغه کسان چې کافران شویدي نو د هغو لپاره هلاکت دی او الله دهغو عملونه بیلارې کړیدي. ځکه چې هغوی هغه (شریعت) بد وګانه چې الله نازل کړیدی، لدې امله الله دهغوی عملونه بابیزه کړل.

[وَقَالُوا لَا تَنْفِرُوا فِي الْحَرِّ]:

دې منافقانو به خپلوانو او دوستانو ته ویل چې ګرمۍ کې مه وځئ، یعنې خپله خو خود نه وتل بلکې ځان سره یې نور خلک هم پاتې کول، او دې کار سره یې د صحابه وو جهاد او شهادت ته شوق او رغبت ماتوو، او د الله او رسول علیه السلام امر خلاف توصیه یې ورته کوله.

نو د منافق پیژندنې یو خه معیار دا دی چې خپله هم سنګر او جهاد ته نه ځي، خو ددې سره سره نورو خلکو ته هم وسوسې اچوي، خلک د جهاد څخه منع کوي، هر هغه کس چې په جهادي صف یې خلک بدګمانه کول، دوی منافقان دي او د منافقانو تعامل ورسره پکار دی.

[قُلْ نَارُ جَهَنَّمَ أَشَدُّ حَرًّا لَوْ كَانُوا يَفْقَهُونَ]:

الله عزوجل نبي علیه السلام ته امر وکړو چې دوی ته اووایه د جهنم اوور زیات ګرم دی که چیرې دوی پوهیږی.

معنا دا چې اې منافقانو تاسې ځنګه ددې لږې ګرمۍ څخه تښتئ او اوور د جهنم چې ستاسې استوګنځای دی، هغه خو زیات ګرم دی، نو ددغه لږې ګرمۍ څخه ځان ژغورلو له امله تاسې ابدي ابدي ګرمۍ، اوورونو او عذابونو ته روان یاست.

نن سبا هم خلک مجاهدینو ته وایي چې ځانونه او بچیان ددې بمونو په ګرمۍ مه سوځوئ، خپل ځان مه خاورې کوئ، دا خبرې نن نه پنځلس سوه کاله مخکې هم دې منافقانو او زندیقانو کړې دي.

دوی ته الهي جواب دا دی چې د جهنم اوور زیات سخت دی، مونږ چې دا اوورونه زغمو، هدف مو دا دی چې د قبر او جهنم عذابونو او ګرمۍ څخه ځانونه وژغورو. ان شاء الله.

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: «نَارُكُمْ جُزْءٌ مِنْ سَبْعِينَ جُزْءًا مِنْ نَارِ جَهَنَّمَ»، قِيلَ يَا رَسُولَ اللَّهِ إِنْ كَانَتْ لَكَافِيَةً قَالَ: «فُضِّلَتْ عَلَيْهِنَّ بِتِسْعَةٍ وَسِتِّينَ جُزْءًا كُلُّهُنَّ مِثْلُ حَرِّهَا» متفق عليه.

ژباړه: ستاسې اوور د جهنم اوور د اویا برخو څخه یوه برخه ده، وویل شول اې د الله رسوله! د عذاب لپاره خو د دنیا اوور هم کافي و. هغه وفرمایل: د جهنم اوور پدې اوورونو باندې نهه شپیته برخې زیات ګرم دی، چې هره برخه یې ددې په شانته ګرمه ده.

حاصل دا دی چې دا منافقان پوهه او فقاهت نه لري، که دوی فقه لرلې نو دا فاني دنیا به یې په ابدي ژوند نه غوره کولای.

[اوس دې آیت مبارکه کې هم د منافقانو یو صفت او بیا د هغې عاقبت او زجر بیانیږي]

فَلْيَضْحَكُوا قَلِيلًا وَلْيَبْكُوا كَثِيرًا جَزَاءً بِمَا كَانُوا يَكْسِبُونَ (82)

ژباړه: نو ودې خاندي دوی لږه زمانه او ودې ژاړي ډیره زمانه،

بدله ورکيدې شي په سبب د هغه عملونو چې دوی کړيدي.

تفسير:

[فَلْيَضْحَكُوا قَلِيلًا وَلْيَبْكُوا كَثِيرًا]:

دا دواړه د امر صيغې دي، خو د خبر په معنا دي. يعني زر دی چې دوی به لږه زمانه وخاندي او ډيره زمانه به وژاړي، د امر صيغه يې ځکه راوړه چې دا کار يقيني دی، ځکه خبر کې من حيث هو الخبر د صدق او کذب احتمال وي، خو انشاء امر او نهي کې دا احتمال نه وي.

قليلا او کثيرا د نصب علت مصدريت او يا ظرفيت دی، لکه [ضَحِكًا قَلِيلًا، وَبُكَاءً كَثِيرًا] يا داسې [زَمَانًا قَلِيلًا، وَزَمَانًا كَثِيرًا].

[جَزَاءً بِمَا كَانُوا يَكْسِبُونَ]:

دوی باندې الله عزوجل ظلم نه کوي، چې دومره سختې سزاګانې يې ورته مقرر کړي دي، بلکې دوی داسې ناوړه کړنې ترسره کولې ځکه پدې برخه ليک اخته شو.

[جَزاءً] هم د مصدريت له امله منصوب دی.

دا د منافقانو صفت دی، چې هميش مومنانو مجاهدينو پورې خندا کوي، ټوقې کوي. خو الله ورته سخت تهديد ورکوي، چې خير نن وخاندئ، هر څومره چې خندلای شئ خو سبا ورځ به بيا ډير زيات وژاړئ.

نن سبا بعضې ناپوهه خلک مجاهدينو پسې خبرې کوي، مخې ته به يې چاى پروت وي، يوه خپه به يې په بله اړولې وي، خه مجلس به يې جوړ وي، او مجاهدينو عيبونه به لټوي، فلانې داسې دی او فلانې داسې دی. او ساده ګانو نسبتونه به ورته کوي، ځانونه به ورته زيات هوښياران ښکاري، خو رب ورته تهديد ورکړی چې ددغه خندا ګانو، ټوقو او استهزاء ګانو پور به څو څو چنده پرې کوئ.

دا آيت د هغه حديث په شان دی چې : وَاللَّهِ لَوْ تَعْلَمُونَ مَا أَعْلَمُ لَضَحِكْتُمْ قَلِيلًا وَلَبَكَيْتُمْ كَثِيرًا. صحيح البخاري. ژباړه: قسم په الله که تاسې په هغه څه خبر شئ چې ماته معلوم دي، نو تاسې به لږه موده وخاندئ او زيات وخت به وژاړئ.

[دې آيت کې هم الله عزوجل جهاد څخه وروسته پاتې کيدونکو ته زجر ورکوي او د جهاد څخه حرمان د هغوی لپاره لويه جزا وټاکل شوه]

فَإِنْ رَجَعَكَ اللَّهُ إِلَى طَائِفَةٍ مِنْهُمْ فَاسْتَأْذَنُوكَ لِلْخُرُوجِ فَقُلْ لَنْ تَخْرُجُوا مَعِيَ أَبَدًا وَلَنْ تُقَاتِلُوا مَعِيَ عَدُوًّا إِنَّكُمْ رَضِيتُمْ بِالْقُعُودِ أَوَّلَ مَرَّةٍ فَاقْعُدُوا مَعَ الْخَالِفِينَ (83)

ژباړه: نو که بيرته راوګرځولې ته الله يوې ډلې د دوی ته، نو اجازت وغواړي ستا څخه د وتلو (د جهاد لپاره) نو ته ورته اووايه هيڅکله مه وځئ ما سره او هيڅکله جهاد مه کوئ زما په ملګرتيا کې ددښمن سره، يقينا رضا شوي ياستئ تاسې په کيناستلو اول ځل، نو کينئ تاسې د پاتې کيدونکو سره.

تفسير:

[فَإِنْ رَجَعَكَ اللَّهُ إِلَى طَائِفَةٍ مِنْهُمْ]:

رجع لفظ متعدي دی، د رد په شان، او رجوع لازم دی. خو دلته رجع څخه متعدي معنا مراد ده.

او دا ځکه يې رجع وويل چې نبي عليه السلام په سفر کې و او دا آيتونهورباندې نازل شول.

[إِلَى طائِفَةٍ] يې ځکه وويل، چې مدينه کې پاتې کيدونکي ټول خو منافقان نه وو، بلکې د شرعي اعذارو خاوندان مومنان هم پکې وو. او بعضې بې عذره مومنان هم وو، چې بيا ورته رب العالمين بښنه وکړه.

او يا دويم قول پکې دا دی چې دا لفظ يې ځکه استعمال کړو، چې د منافقانو څخه بعضو توبه وويستله او جهاد څخه ناستې باندې پښيمانه وو.

[فَاسْتَأْذَنُوكَ لِلْخُرُوجِ فَقُلْ لَنْ تَخْرُجُوا مَعِيَ أَبَدًا وَلَنْ تُقَاتِلُوا مَعِيَ عَدُوًّا]:

تا سره په بله غزوه کې د تللو اجازت وغواړي، نو ورته اووايه چې تاسې ته د تګ اجازت نشته، زمونږ په ملګرتيا کې ددښمن سره جنګيدو سعادت ستاسې لپاره نه دی.

دا جهاد خو ډير مبارک عمل دی، هر سړي ته نه نصيب کيږي، بلکې دا خاص د الله عزوجل په فضل باندې انسان ته نصيب کيږي. الله عزوجل چې چا څخه خفه شي د نيک اعمالو توفيق ترې واخلي. او مومن باندې دا ډيره سخته تماميږي.

نو دا خبره ورته وکړه چې مونږ سره جنګ ته مه وځئ:

١.دوی ته عقوبت او زور ورکولو لپاره. ٢.ددوی په ويستلو کې خو هغه مفاسد دي، چې مخکې الله عزوجل ذکر کړل چې دا خلک په تاسې کې فتنه او فساد خپروي، ددوی په وتلو کې خير نشته.

[إِنَّكُمْ رَضِيتُمْ بِالْقُعُودِ أَوَّلَ مَرَّةٍ فَاقْعُدُوا مَعَ الْخَالِفِينَ]:

دا علت دې د ماقبل، وايي ما سره ځکه مه وځئ چې تاسې د تبوک په سخته کې پاتې شوي ياستئ، نو وس د آسانۍ غزا ته مه وځئ. ستاسې ايمان خو مونږ کتلې دی چې سخته کې پاتې کوئ نو بيا مو ولې بوځو ؟

[فَاقْعُدُوا مَعَ الْخالِفِينَ] دا په ماقبل باندې تفريع ده، چې کور کې د زنانه وو سره کينئ. او دا هم مقام د تهديد او زجر دی، خليفة المسلمين ابو بکر البغدادي تقبله الله هم بعضې مواضعو کې خلکو ته ويلي و، چې صفا جهاد کولای شئ وکړئ او که نه يې شئ کولای نو په کور کې زنانه وو سره کينئ خو د جهاد صف مه خرابوئ، نو داسې خطابات ددې آيتونو څخه مستنبط دي.

والخالفين:

١.د خَالِف جمع ده. لکه دوی د وتونکو غازيانو څخه وروسته پاتې کيږي. او مراد ترې زنانه او ماشومان دي.

٢.او چا ويلي دي چې خالفين معنا فاسدين ده، معنا يې دا ده، عربان وايي [فُلَانٌ خَالَفَ أَهْلَ بَيْتِهِ إِذَا كَانَ فَاسِدًا فِيهِمْ] فلانى د خپلې کورنۍ سره خلاف دی، دا هله ويل کيږي چې يو کس پدغه کورنۍ کې فاسد وي. نو داسې صورت کې به منافقان مراد شي.

٣.فَرَّاءُ وايي: مَعْنَاهُ الْمُخَالِفِينَ. ددې نه مراد مخالفين دي. دې حال کې به هم منافقان، مرجفين او د اسلام دښمنان مراد شي.

[دې آيت کې الله عزوجل د منافقانو په اړه يو بل حکم ذکر کوي چې نبي عليه السلام ته وايي ددې منافقانو په قبر باندې مه ودريږه او دعا ورله مه غواړه] وَلَا تُصَلِّ عَلَى أَحَدٍ مِنْهُمْ مَاتَ أَبَدًا وَلَا تَقُمْ عَلَى قَبْرِهِ إِنَّهُمْ كَفَرُوا بِاللَّهِ وَرَسُولِهِ وَمَاتُوا وَهُمْ فَاسِقُونَ (84)

ژباړه: او هيڅکله مونځ (د جنازې) مه کوه په يو تن ددوی چې مړ شي او مه ودريږه د هغه د قبر په خوا کې، يقينا دوي کفر کړی دی په الله تعالى او په رسول د هغه او مړه شوي دي دوی په داسې حال چې دوی نافرمان وو.

تفسير:

[وَلَا تُصَلِّ عَلَى أَحَدٍ مِنْهُمْ مَاتَ أَبَدًا وَلَا تَقُمْ عَلَى قَبْرِهِ]:

شان نزول ددې آيت کريمه داسې دی:

عَنِ ابْنِ عُمَرَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا: أَنَّ عَبْدَ اللَّهِ بْنَ أُبَيٍّ لَمَّا تُوُفِّيَ، جَاءَ ابْنُهُ إِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَقَالَ: يَا رَسُولَ اللَّهِ، أَعْطِنِي قَمِيصَكَ أُكَفِّنْهُ فِيهِ، وَصَلِّ عَلَيْهِ، وَاسْتَغْفِرْ لَهُ، فَأَعْطَاهُ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَمِيصَهُ، فَقَالَ: «آذِنِّي أُصَلِّي عَلَيْهِ»، فَآذَنَهُ، فَلَمَّا أَرَادَ أَنْ يُصَلِّيَ عَلَيْهِ جَذَبَهُ عُمَرُ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ، فَقَالَ: أَلَيْسَ اللَّهُ نَهَاكَ أَنْ تُصَلِّيَ عَلَى المُنَافِقِينَ؟ فَقَالَ: " أَنَا بَيْنَ خِيرَتَيْنِ، قَالَ: {اسْتَغْفِرْ لَهُمْ أَوْ لاَ تَسْتَغْفِرْ لَهُمْ إِنْ تَسْتَغْفِرْ لَهُمْ سَبْعِينَ مَرَّةً، فَلَنْ يَغْفِرَ اللَّهُ لَهُمْ} [التوبة: 80] " فَصَلَّى عَلَيْهِ، فَنَزَلَتْ: {وَلاَ تُصَلِّ عَلَى أَحَدٍ مِنْهُمْ مَاتَ أَبَدًا، وَلاَ تَقُمْ عَلَى قَبْرِهِ} [التوبة: 84]

عبد الله بن عمر رضي الله عنهما وايي: کله چې عبد الله بن أبي مړ شو، د هغه زوی نبي عليه السلام ته راغی او ويې ويل: اې د الله رسوله! ته خپل قميص ماته راکړه، چې زه پکې پلار خښ کړم، او جنازې مونځ هم پرې وکړه، ښښنه هم ورله وغواړه، نو نبي عليه السلام ورته خپل قميص ورکړو، او ورته يې وويل: بيا ما خبر کړه، چې مونځ پرې وکړم. هغه نبي عليه السلام خبر کړو، کله چې نبي عليه السلام اراده وکړه چې هغه باندې د جنازې لمونځ وکړي، نو عمر رضي الله عنه هغه کش کړو، او ورته يې وويل: آيا الله عزوجل ته د منافقانو جنازو څخه نه يې منع کړې ؟ هغه ورته وويل: ما ته الله عزوجل ددوه خبرو اختيار راکړی دی، [که بخښنه غواړې ته دوی لره، او که نه غواړې بخښنه دوی لره (يو شان ده)] او د جنازې مونځ يې پرې وکړو، نو الله عزوجل دا آيت نازل کړو.

[إِنَّهُمْ كَفَرُوا بِاللَّهِ وَرَسُولِهِ وَمَاتُوا وَهُمْ فَاسِقُونَ]:

دا علت دی، چې جنازې پرې ولې

مه کوه؟ وايي ځکه چې دوی کفر کړی و، او ښکاره نافرمانۍ په حالت کې وفات شوي وو.

دا آيت دليل دې پدې خبره چې څوک د الله او رسول عليه السلام مخالفت کوي، د غير الله څخه کومک غواړي، بابا ګانو نه اولادونه غواړي، يا وضعي قوانينو ته خپلې پريکړې وروړي، جهاد پسې ټوقې کوي، مجاهدينو پسې مسخرې کوي، نو دې خلکو باندې جنازه کول ندي پکار.

دغه رنګ پدې خبره هم دليل دی چې يو کس کې نفاق موجود وي، د شريعت د احکامو سپکاوي پکې موجود وي، جهاد او مجاهدينو تحقير کوي، نو دا خلک که حجونه وکړي، که طوافونه وکړي، که روژې او مونځونه وکړي، که نبي عليه السلام په قميص کې خښ کړی شي، که نبي عليه السلام پرې د جنازې لمونځ هم وکړي، که ښښنه هم ورته وغواړي، که په خوله کې ورته خپلې مبارکې لاړې هم واچوي، خو چې توبه ونه باسي، الله عزوجل يې نه ښښي. لکه ابن سلول ته دې ټولو افعالو کومه ګټه ونه رسوله، بلکې د جهنم لمبو ته ورغی. نعوذ بالله.

[دې آيت کريمه کې هم الله عزوجل دا خبره بيانوي چې د منافقانو مالونه او اولادونه دې تاسې تعجب کې وانه چوي]

وَلَا تُعْجِبْكَ أَمْوَالُهُمْ وَأَوْلَادُهُمْ إِنَّمَا يُرِيدُ اللَّهُ أَنْ يُعَذِّبَهُمْ بِهَا فِي الدُّنْيَا وَتَزْهَقَ أَنْفُسُهُمْ وَهُمْ كَافِرُونَ (85)

ژباړه: او تعجب کې دې وانه چوي تا لره مالونه ددوی او اولادونه ددوی، يقينا غواړي الله تعالی چې عذاب ورکړي دوی لره په هغې سره په دنيا کې او وځي روحونه ددوی په داسې حال چې دوی کافر وي.

تفسير:

[وَلَا تُعْجِبْكَ أَمْوَالُهُمْ وَأَوْلَادُهُمْ]:

داسې آيت کريمه مخکې هم تير شوی دی، دواړو کې د الفاظو تغيير شته، خو دلته يې دې مقصد لپاره راوړو چې نفاق ددغه دوه شيانو د وجې پيدا کيږي، مال او د اولاد مينه. او دغه شان د مالداره منافق او هغه منافق چې اولادونه يې زيات وي، هغوی کې کوم فرق نشته. يا هم دا تعليم دی که ددې منافقانو بچيان نيکان خلک هم وي خو منافقانو سره تعامل کې تاسې ددغه بچيانو لحاظ يې مه کوئ، لکه عبد الله بن أبي بن سلول، زوي عبد الله رضي الله عنه نيک انسان و، د هغه مطالبې له امله پرې نبي عليه السلام د جنازې مونځ وکړ.

يا دا فرق هم بيان شوی چې مخکنی آيت د منافقانو يوې ډلې په اړه و، او دا د بلې ډلې په اړه دی.

او يا هم دا آيت د يهوديانو په اړه دی او هغه لومړی آيت د منافقانو په اړه دی.

[دې آيت کريمه کې هم منافقانو لپاره زجر دی، چې خه مالداره وي، خه روغ مټ وي، خو جهاد او تشکيل په وخت به بيا عذرونه او بهانې شروع کړي، او وايي به چې مونږ د زنانه وو سره کورونو کې پريږدئ]

وَإِذَا أُنْزِلَتْ سُورَةٌ أَنْ آمِنُوا بِاللَّهِ وَجَاهِدُوا مَعَ رَسُولِهِ اسْتَأْذَنَكَ أُولُو الطَّوْلِ مِنْهُمْ وَقَالُوا ذَرْنَا نَكُنْ مَعَ الْقَاعِدِينَ (86)

ژباړه: او کله چې نازل کړې شي يو سورت (په دې خبره) چې ايمان راوړئ په الله تعالی او جهاد وکړئ په ملګرتيا د رسول د هغه (صلی الله عليه وسلم) کې، نو اجازت غواړي ستا نه د قدرت والا خلک ددوی نه، او وايي دوی چې پريږده مونږه چې شو مونږه د کيناستونکو سره.

تفسير:

[وَإِذَا أُنْزِلَتْ سُورَةٌ أَنْ آمِنُوا بِاللَّهِ وَجَاهِدُوا مَعَ رَسُولِهِ]:

کله چې سورت نازل کړې شي، مراد د سورت څخه:

١.قرآن کريم دی. ٢.يا د سورت بعضې حصه مراد ده، يعنې څو آيتونه. ٣.يا ټول سورت مراد دی. ۴.يا دا سورت توبه مراد ده.

دا «أَنْ» په [أَنْ آمِنُوا بِاللَّهِ] کې د نازليدونکې حکم تفسير دی، او يا مصدريه دی خو باء حرف جار ترې حذف شوی دی، اصلا داسې دی: [بأن آمنوا].

دا خطاب مومنانو ته هم شامليدای شي او منافقانو ته هم، مومنانو خو ايمان راوړی و، نو هغوی لپاره دوام او استقامت مراد و او منافقانو لپاره خالص ايمان مراد دی ځکه هغوی د ايمان دعوه کوله خو نفاق پکې موجود و.

فايده:

ايمان يې مخکې ذکر کړو، او جهاد يې وروسته ذکر کړو، ځکه چې ايمان اساس او اصل دی، چې ايمان نه وي نو جهاد په نوم مبارزه چاته فايده نه ورکوي. لکه طالبان وايي مونږ شل کاله جنګ کړی دی، نو شل کاله جنګ خو د افغان مرتد حکومت هم وکړو، امريکايانو، اروپايانو ټولو وکړو. آيا دې ټولو ته به جهاد ويل کيږي؟ نا، بلکې [من قاتل لتكون كلمة الله هي العليا فهو في سبيل الله] دا نبوي قاعده ده، چې هدف د الله ددين سرلوړي وي، منهج يې صفا وي، دا جهاد بلل کيږي، د ملګرو ملتونو رسميت شرکې ترلاسه کولو په پار مبارزه جهاد نه بلل کيږي، ولو که سل کاله هم وشي.

[اسْتَأْذَنَكَ أُولُو الطَّوْلِ مِنْهُمْ]:

أولوا الطول چا ته وايي؟

ابن عباس او حسن وايي: د پراخه مال خاوندان. أصم وايي: مشران او سرداران.

دا د پراخه مال خاوندان او مشران يې ځکه ذکر کړل چې دوی خو بايد خامخا ووځي، ددوی پراخې او استطاعت دا تقاضا کوي، چې اسلام لپاره قرباني ورکړي. هيڅ نوعه عذر نه لري.

[وَقَالُوا ذَرْنَا نَكُنْ مَعَ الْقَاعِدِينَ]:

مونږ د غزوې څخه وروسته پاتې کيدونکو معذوره خلکو سره پريږدئ. لکه ضعيفان او مريضان.

[دې آيت کې هم الله عزوجل منافقانو ته زورونه ورکوي، او ددوی دوه بد صفات ذکر کوي چې زنانه وو سره خوشحاله دي او په زړونو يې الله مهر لګولی دی، ناپوهه دي]

رَضُوا بِأَنْ يَكُونُوا مَعَ الْخَوَالِفِ وَطُبِعَ عَلَى قُلُوبِهِمْ فَهُمْ لَا يَفْقَهُونَ (87)

ژباړه: خوشحاله دي دوی پدې خبره چې د پاتې کيدونکو ښځو سره شي او مُهر وهلې شوی دی په زړونو ددوی نو دوی نه پوهيږي.

تفسير:

دې آيت کريمه کې د منافقانو دوه صفات دي:

اول: ښځو په شان کور کې ناستې ته خوشحاليږي.

دويم: په زړونو يې الله عزوجل مهر وهلې ځکه ناپوهه دي.

[رَضُوا بِأَنْ يَكُونُوا مَعَ الْخَوَالِفِ]:

وَالْخَوَالِفُ: هغه زنانه وو ته ويل کيږي چې د سړو څخه وروسته په کورونو کې ناستې وي. او يا هم مراد ترې فساديان دي لکه مخکې چې تير شو.

[وَطُبِعَ عَلَى قُلُوبِهِمْ فَهُمْ لَا يَفْقَهُونَ]:

الله عزوجل ددوی ناوړه کړنو له امله ددوی په زړونو مهرونه لګولي دي، چې دوی وس سرګردانه دي، خپل نفع او نقصان نه پيژني، او د حيواناتو په څير دي. د جهاد په ګټه ندي خبر او د زنانه وو سره کورونو کې کيناستو په نقصان نه پوهيږي. د دنيا زوال او د عقبی دايمي خيرونو په ارزښت ندي خبر، ځکه جهادونه نه کوي.

[دې دوه آيتونو کې الله عزوجل د نبي عليه السلام او د صحابه وو مدحه کوي او مجاهدينو لپاره بشارت ذکر کوي، د قرآن کريم طريقه دا ده چې اضداد ذکر کوي، مخکې منافقان او د هغوی عاقبت ذکر شو، اوس د مجاهدينو بيان او د هغوی ابدي بريا ذکر کوي]

لَكِنِ الرَّسُولُ وَالَّذِينَ آمَنُوا مَعَهُ جَاهَدُوا بِأَمْوَالِهِمْ وَأَنْفُسِهِمْ وَأُولَئِكَ لَهُمُ الْخَيْرَاتُ وَأُولَئِكَ هُمُ الْمُفْلِحُونَ (88)

ژباړه: مګر رسول الله (صلی الله عليه وسلم) او هغه څوک چې ايمان يې راوړی دی دده تابعدارۍ کې، جهاد کوي په مالونو خپلو سره او نفسونو خپلو سره او دغه کسان ددوی لپاره ډيره خوشحالي ده او همدغه کسان کامياب دي.

تفسير:

[لَكِنِ الرَّسُولُ وَالَّذِينَ آمَنُوا مَعَهُ جَاهَدُوا بِأَمْوَالِهِمْ وَأَنْفُسِهِمْ]:

ددې استدراک څخه هدف منافقانو ته خبرداری دی، که تاسې جهاد ته شا کړه، د زنانه وو سره د نغرې او تنور غاړه مو ونيوله، نو دا اسلام ته کوم نقصان نه ورکوي، بلکې ستاسې څخه غوره او مخلص مومنان شته چې هغوی د جهاد فريضه پرمخ وړي، د اسلامي نظام قيام په پار مبارزه کوي. لکه الله عزوجل سورت الأنعام ٨٩ کې فرمايي:

فَإِنْ يَكْفُرْ بِهَا هَؤُلَاءِ فَقَدْ وَكَّلْنَا بِهَا قَوْمًا لَيْسُوا بِهَا بِكَافِرِينَ. سورة الأنعام.

ژباړه: اوس که دا خلك د هغه له منلو څخه انکار کوي نو (پروا

نشته) مونږ څه نورو خلکو ته دانعمت ورسپارلی دی چې له هغه څخه منکران نه دي.

[وَأُولَئِكَ لَهُمُ الْخَيْرَاتُ وَأُولَئِكَ هُمُ الْمُفْلِحُونَ]:

خيرات د خير جمع ده، يعني مجاهدينو لپاره ددين او دنيا فايدې دي. يا هم مراد ترې د خايسته مخونو والا حورې دي. لکه الله عزوجل فرمايي: فِيهِنَّ خَيْرَاتٌ حِسَانٌ. سورة الرحمن. ژباړه: پدې جنتونو کې د غوره اخلاقو او خايسته مخونو والا حورې دي. دلته ترې مراد هدف ترلاسه کونکي بريالي مجاهدين دي.

اسم اشارې تکرار ددوی د لوړ شان او د سترو اجرونو لپاره راغلی دی.

أَعَدَّ اللَّهُ لَهُمْ جَنَّاتٍ تَجْرِي مِنْ تَحْتِهَا الْأَنْهَارُ خَالِدِينَ فِيهَا ذَلِكَ الْفَوْزُ الْعَظِيمُ (89)

ژباړه: تيار کړي دي الله تعالی دوی لپاره جنتونه، چې بهيږي لاندې د هغې نه ولې، هميشه به وي دوی په هغې کې، او دا لويه کاميابي ده.

تفسير:

جنات باغونو ته ويل کيږي، چې ددغه ونو او بنګلو د لاندې به نهرونه روان وي، او مخکې يې څه نا څه بيان تير شوی دی.

[مخکې آيتونو کې الله عزوجل د مدينې منافقانو اعذار او بهانې ذکر کړې، وس د شاوخوا بانډچيانو حال ذکر کوي]

وَجَاءَ الْمُعَذِّرُونَ مِنَ الْأَعْرَابِ لِيُؤْذَنَ لَهُمْ وَقَعَدَ الَّذِينَ كَذَبُوا اللَّهَ وَرَسُولَهُ سَيُصِيبُ الَّذِينَ كَفَرُوا مِنْهُمْ عَذَابٌ أَلِيمٌ (90)

ژباړه: او راغلل ددروغو بهانې جوړونکي د بانډچيانو څخه، ددې لپاره چې اجازت وکړې شي دوی ته او کيناستل هغه کسان چې دروغ يې ويلي وو الله تعالی ته او د رسول د هغه ته (صلی الله عليه وسلم)، زر دي چې وبه رسيږي هغه کسانو ته چې په کفر پاتې شويدي ددوی نه عذاب دردناک.

تفسير:

[وَجَاءَ الْمُعَذِّرُونَ مِنَ الْأَعْرَابِ]:

[الْمُعَذِّرُونَ] څخه څوک مراد دي ؟

اول: الْفَرَّاء، وَالزَّجَّاج، او ابْنَ الْأَنْبَارِيّ وايي ددې څخه مراد هغه خلک دي چې په رښتيا هم معذوره وو.

دويم: جَوْهَرِي او صَاحِبُ الْكَشَّاف وايي: دا د عذَّر مادې څخه دی، او هغه چاته ويل کيږي چې حقيقت کې عذر نه لري، ددروغو بهانې جوړوي. نو حاصله معنا به يې دا شي دې نه مراد [مبطلون] باطل بهانې جوړونکي خلک دي. ځکه ددوی عذرونه باطل وو.

[وَقَعَدَ الَّذِينَ كَذَبُوا اللَّهَ وَرَسُولَهُ]:

د بانډچيانو يوې ډلې خو عذر وړاندې کړو، خو بلې ډلې بيخي عذر هم وړاندې نه کړو، پرته له کوم عذره د غزوې څخه پاتې شو. او دا د بانډچيانو منافقان وو، چې حقيقت کې يې ايمان نه وو راوړی، او دروغجن وو. اوس دغه منافقانو ته الله عزوجل تهديد ورکوي:

[سَيُصِيبُ الَّذِينَ كَفَرُوا مِنْهُمْ عَذَابٌ أَلِيمٌ]:

د جهاد څخه وروسته پاتې کيدونکو بانډچې منافقانو لپاره لوی تهديد دی، الله عزوجل دغه کسان کافران وبلل او دوی لپاره يې دردناک عذاب خبر ورکړو، جزاء من جنس العمل وي، أليم هغه عذاب ته وايي چې ظاهرا دومره غټ نه ښکاري خو حقيقت کې مُؤلِم يعني دردونکی وي. او ددې عذاب اطلاق د دنيا او آخرت په عذابونو باندې کيږي.

ابْنُ الْمُنْذِرِ، ابْنُ أَبِي حَاتِمٍ، او أَبُو الشَّيْخِ د محمد ابْنِ إِسْحَاق څخه ذکر کوي: چې د بنو غفار يو څو کسان راغلل او عذر يې وړاندې کړو، پدوی کې خفاف بن إيماء هم و. يا دا هم ويل شوي چې دا د عَامِرِ بْنِ الطُّفَيْلِ ډله وه، هغوی نبي عليه السلام ته ووېل که مونږ تا سره غزا ته تللي وای نو د طيء قبيلې بانډچيانو به زمونږ په کورنيو او حيواناتو حملې کړې وې.

[وس دې آيت کې الله عزوجل د شرعي عذرونو والا ذکر کوي، چې په هغوی باندې گناه او ملامتيا نشته]

لَيْسَ عَلَى الضُّعَفَاءِ وَلَا عَلَى الْمَرْضَى وَلَا عَلَى الَّذِينَ لَا يَجِدُونَ مَا يُنْفِقُونَ حَرَجٌ إِذَا نَصَحُوا لِلَّهِ وَرَسُولِه مَا عَلَى الْمُحْسِنِينَ مِنْ سَبِيلٍ وَاللَّهُ غَفُورٌ رَحِيمٌ (91)

ژباړه: نشته دې گناه په کمزورو باندې او نه په مريضانو باندې او نه په هغه کسانو چې نه مونده کوي څه شی چې خرچ کړي (په کيناستلو د جهاد) کله چې اخلاص کوي الله او رسول د هغه سره، نشته په احسان کونکو باندې هيڅ ملامتيا او الله تعالی بخښونکی رحم کونکی دی.

تفسير:

[لَيْسَ عَلَى الضُّعَفَاءِ وَلَا عَلَى الْمَرْضَى وَلَا عَلَى الَّذِينَ لَا يَجِدُونَ مَا يُنْفِقُونَ حَرَجٌ]:

د أصحاب الأعذار بيان شروع شو، دا رد دی په هغه خلکو چې روغ جوړ دي او ځان لپاره عذرونه بيانوي. تر ټولو لومړی يې ضعيفان ذکر کړل، دا ځکه چې ضعيفانو په اصل خلقت کې عذر وي، لکه بوډا ګان، ړوند، ګوډ، دايمي ناروغان او داسې نور.

دويم مريضان ذکر شو، چې دا عارضي عذر دي، اصل خلقت کې روغ وي، خو وروسته ورته مرض عارض شوی وي. او د مرض اطلاق هر هغه چا باندې کيږي چې لغت او شريعت کې ورته مريض ويل کيږي.

دريم قسم هغه کسان دي، چې مالي توان نه لري. جهادي وسائل او اسبابو لپاره بل ته محتاج دي، نو الله عزوجل ددغه درې ډوله خلکو څخه گناه پورته کړې ده، او پدوی معرکې ته تلل واجب نه دي.

نو صاحب الأعذار په لاندې ډول دي:

۱.ماشوم. ۲. زنانه. ۳.مريض. ۴.غلام. ۵. ليونی. ٦. ګوډ. ۷. ړوند. ۸. خنثی مشکل ۹.هغه غريب چې د جهاد ته تګ نفقه او همدغه شان اسلحه اخستلو وس نه لري.

نو جهاد په مسلمان سړي بالغ عاقل آزاد سالم البدن او استطاعت لرونکي باندې فرض دی.

امام نووي وايي:

امام مراهق (هغه هلکان چې بلوغ ته نږدې وي) او زنانه د زخميانو تداوي او اوبو راوړو لپاره بوتللی شي. خو ليوني ته به په هيڅ صورت اجازت نه ورکوي. او خنثی مشکل باندې هم جهاد نشته.

هغه مريض چې د جنګ او سورلي کولو وس نه لري او يا هم جنګ کې ورته سخت مشقت وي، نور لږه تبه او د غاښ درد وغيره عذر نه دی.

هغه ګوډ چې ګوډ والی يې ښکاره وي، کچېرته ګوډ والی يې لږ و نو بيا پرې جهاد لازم دی. په ړوند هم جهاد نشته، او د يوې سترګې خاوند او هغه کس چې نظر يې کم وي هم جهاد فرض دی، کله چې ځان د اسلحې ژغورلی او دښمن معلومولې شي. او په هغه غريب هم جهاد نشته چې اسلحه وغيره نشي اخستلې، خو که امام يې ورته ورکوي نو بيا پرې لازم دی.[روضة الطالبين وعمدة المفتيين للامام النووي ج10/ صـ208]

د دغه شرعي حاجتونو له امله چې څوک له جهاده ايسار شي نو الله جل جلاله ورته د جهاد اجر ورکوي. مشهور حديث:

عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ : أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ رَجَعَ مِنْ غَزْوَةِ تَبُوكَ ، فَدَنَا مِنَ الْمَدِينَةِ ، فَقَالَ : " إِنَّ بِالْمَدِينَةِ أَقْوَامًا مَا سِرْتُمْ مَسِيرًا ، وَلَا قَطَعْتُمْ وَادِيًا إِلَّا كَانُوا مَعَكُمْ " ، قَالُوا : يَا رَسُولَ اللَّهِ، وَهُمْ بِالْمَدِينَةِ، قَالَ : " وَهُمْ بِالْمَدِينَةِ حَبَسَهُمُ الْعُذْرُ". متفق عليه

انس بن مالک فرمايي کله چې رسول الله صلی الله عليه وسلم له تبوک راوګرځيد او مدينې ته نږدې شو نو هغه وفرمايل: په مدينه کې بعضې داسې خلک دي، چې تاسې سره په هر مزل او هر خوږ کې شريک و، صحابه و وفرمايل: ای د الله رسوله دوی په مدينه کې و او اجر کې مونږ سره شريک دي. هغه وفرمايل: او دوی په مدينه کې و، خو عذر ايسار کړي وو.

عن أبي بردة قال سَمِعْتُ أَبَا مُوسَى مِرَارًا ، يَقُولُ : قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ : " إِذَا مَرِضَ الْعَبْدُ أَوْ سَافَرَ كُتِبَ لَهُ مِثْلُ مَا كَانَ يَعْمَلُ مُقِيمًا صَحِيحًا". [صحيح البخاري]

رسول الله صلی الله عليه وسلم وفرمايل: کله چې انسان مريض شي او يا په سفر ولاړ شي، دې ته د هغه اعمالو اجر ليکلې کيږي، چې ده به په صحت او کور (اقامت) کې کول.

عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ عَمْرٍو ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وسَلَّمَ ، قَالَ : " مَا أَحَدٌ مِنَ النَّاس يُصَابُ بِبِلَاءٍ فِي جَسَدِهِ إِلَّا أَمَرَ اللهُ عَزَّ وَجَلَّ الْمَلَائِكَةَ الَّذِينَ يَحْفَظُونَهُ ، فَقَالَ : اكْتُبُوا لعَبْدي كُلَّ يَوْمٍ وَلَيْلَةٍ مَا كَانَ يَعْمَلُ مِنْ خَيْرٍ، مَا كَانَ فِيَ وِثَاقَي". [مسند أحمد]

ژباړه: کله چې د يو تن په بدن باندې څه مريضتيا ولږي نو الله

جل جلاله هغه ساتونکو ملائکو ته وویل: چې زما بنده به چې شپه او ورځ کوم نیک اعمال کول، هغه ورله ولیکئ تر څو چې زما په بند (مرض) کې ترلی وي.
د دغه کسانو پرته جهاد په هر چا لازم دي، خصوصا نن سبا چې دښمن د مسلمانانو ساحې قبضه کړې او په لکونو سړي او زنانه ورسره بندیانې دي. او اسلامي نظام مفقود دی نو جهاد څخه ایساریدونکي هیڅ جواز نه لري.

[إِذَا نَصَحُوا لِلَّهِ وَرَسُولِهِ مَا عَلَى الْمُحْسِنِينَ مِنْ سَبِيلٍ وَاللَّهُ غَفُورٌ رَحِيمٌ]:

د عذرونو خاوندانو د پاتې کیدو اجازت هله دی چې کله دوی کې دا شرط موجود وي: " إذا نصحوا لله ورسوله " یعني الله او رسول سره به کلک مخلص وي. النصح ویل کیږي، عمل د دوکې (او ګډون) څخه پاکول، نفطویه وایي: خالص کولو ته وایي.
وَالنُّصْحُ لِلَّهِ: په الله باندې ایمان راوړل، توحید منل او د شرک څخه ډډه کول، د هغه په شریعت عمل کول، د شریعت مخالفت کونکی پریښودل، ولو که هر څوک وي. او د الله سره نصح کې د الله بندګانو سره خیرخواهي هم داخله ده، د الله د لارې غازیانو سره مینه او کومک کول هم پکې شامل دي، او د مجاهدینو دښمنانو سره هر نوعه تعاون څخه ځان ساتل.
وَنَصِيحَةُ الرَّسُولِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: د نبي علیه السلام نبوت تصدیق کول، په راوړي شریعت یې ایمان راوړل، هر امر کې یې اطاعت او هر نهي څخه یې ځان منع کول، چا سره چې هغه دوستي وي هغه سره دوستي او د هغه دښمن سره دښمني کول، د هغه سره کامل محبت او د هغه د سنت طریقو تعظیم کول، او د هغه سنت طریقې ژوندۍ ساتل وغیره.
د مسلم روایت کې هم راځي:
عن تميم الداري أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: «الدِّينُ النَّصِيحَةُ - ثَلَاثًا -، قَالُوا: لِمَنْ؟ قَالَ: لِلَّهِ، ولكتابه، وَلِرَسُولِهِ، وَلِأَئِمَّةِ الْمُسْلِمِينَ، وَعَامَّتِهِمْ». صحیح مسلم.
ژباړه: نبي علیه السلام درې کرت وفرمایل: دین خیرخواهي ده، هغوی وویل: د چا لپاره ؟ هغه وفرمایل: الله لپاره، د هغه کتاب، د هغه رسول، د مسلمانانو امامانو او عامو مسلمانانو لپاره.
[ما على المحسنين] کې اشاره ده دې ته چې دا معذوره خلک به د خپل وسع مطابق یو څه کوي، مثلا په بدن جهاد نشي کولی نو په ژبه او قلم باندې جهاد وکړي، د مجاهدینو دفاع وکړي. وغیره.
[دې آیت کریمه کې څلورم قسم معذورین ذکر دي چې سفر لپاره سورلی ورسره نه وي]

وَلَا عَلَى الَّذِينَ إِذَا مَا أَتَوْكَ لِتَحْمِلَهُمْ قُلْتَ لَا أَجِدُ مَا أَحْمِلُكُمْ عَلَيْهِ تَوَلَّوْا وَأَعْيُنُهُمْ تَفِيضُ مِنَ الدَّمْعِ حَزَنًا أَلَّا يَجِدُوا مَا يُنْفِقُونَ (92)

ژباړه: او نشته ګناه په هغه کسانو باندې چې کله راغلل تاته دې لپاره چې سورلی ورکړې دوی لره نو تا وویل چې زه نه مومنده کوم هغه څه چې سپاره کړم تاسې په هغې باندې، نو وګرځیدل دوی او سترګو ددوی تویولې اوښکې د وجې د غم نه، پدې خبره چې نه مومنده کوي هغه څه چې خرچ کړې دوی.

تفسیر:
[وَلَا عَلَى الَّذِينَ إِذَا مَا أَتَوْكَ لِتَحْمِلَهُمْ]:
د هغه صحابه وو عظمت شان بیانوي، چې جهاد ته تللو ارمانجن و، خو سورلی یې نه درلودې، نبي علیه السلام سره هم اسباب محدود وو، هغه هم جواب کړل، نو ددوی د نصح او خیرخواهي دا حال و، چې ژړل یې، دومره خفه وو. داسې نه وو چې ځانونه یې پټول بلکې په پاتې کیدو خفه وو.

[حَزَنًا أَلَّا يَجِدُوا مَا يُنْفِقُونَ]:
پدې خفه وو چې څه یې مونده نه کړل، یا معنا دا ده، دوی پدې خفه وو چې خپله هم څه نه لري او نبي علیه السلام سره یې هم څه مونده نه کړل.
دا صحابه وو، داسې یې نه کول چې مونږ خو معذوره یو، ځان غلی ونیسه، نه نبي علیه السلام ته راځي، چې مونږ ته ترتیب جوړ کړه چې جهاد او غزوې ته لاړ شو.
نبي علیه السلام سید البشر دی، ژوندی دی، خو صحابه وو ته سورلی نشي ورکولای نو نن سبا ددې زماني پیران به څنګه مشکل کشا وي او چا له به څنګه اولادونه ورکړي ؟ څنګه به یې حاجتونه پوره کړي ؟
[دې آیت کې وس دغه غریبو صحابه وو مقابل کې مالداره خلک بیانوي، چې سره د مالدارۍ جهاد نه کوي]

إِنَّمَا السَّبِيلُ عَلَى الَّذِينَ يَسْتَأْذِنُونَكَ وَهُمْ أَغْنِيَاءُ رَضُوا بِأَنْ يَكُونُوا مَعَ الْخَوَالِفِ وَطَبَعَ اللَّهُ عَلَى قُلُوبِهِمْ فَهُمْ لَا يَعْلَمُونَ (93)

ژباړه: یقینا ملامتیا په هغه کسانو ده چې اجازت غواړي ستا څخه (د پریښودلو د جهاد) او دوی مالداره وي، خوشحاله دي دوی پدې خبره چې شي د پاتې کیدونکو سره او مهر وهلی دی الله تعالی په زړونو ددوی باندې، نو دوی نه پوهیږي.
تفسیر:
[إِنَّمَا السَّبِيلُ عَلَى الَّذِينَ يَسْتَأْذِنُونَكَ وَهُمْ أَغْنِيَاءُ]:
یعني لار د ملامتیا، د عقوبت او مؤاخذې په هغه چا ده چې پراخې سره د پاتې کیدو اجازت غواړي. دوی مال لري، سورلی لري، خو بیا هم ښځو سره پاتې کیږي، دغه خلک ملامته دي.

[رَضُوا بِأَنْ يَكُونُوا مَعَ الْخَوَالِفِ]:
دا کلام مستأنف دی، د سوال جواب دی، سوال دا رازي چې دوی مالداره دي نو بیا ولې اجازت غواړي ؟ جواب یې دا دی: چې دوی ښځو سره کیناستل غواړي.

[وَطَبَعَ اللَّهُ عَلَى قُلُوبِهِمْ فَهُمْ لَا يَعْلَمُونَ]:
دا هم د اجازت غوښتلو دویم سبب دی، او عطف ده په [رضوا بأن يكونوا مع الخوالف] باندې، چې الله عزوجل ددوی په زړونو مهرونه وهلي دي. او ددغه مهر له امله دوی ګټه او تاوان نه پیژني، مخکې هم داسې علت تیر شو.

نثر اللؤلؤ والمرجان

في سلسلة معرفة الرحيم الرحمان

نهم درس

أحمد الله وأسبّحه بعلوّه وكماله الذي خلق السموات والأرض على مِنواله ونُوِّرَت بنوره وزُيّنَتْ بجماله ثم استوى على العرش لائقا بذاته وجلاله ولا يخفى عليه شيئ من أمور العالم وأفعاله وعليم بجميع أحواله وأعلن الفوز لمن امتثل بإنزاله وإرساله وأصلي وأسلّم على رسوله ونبيه محمد وعلى أهل بيته وأصحابه وآله، أمابعد:

محترمو مسلمانو وررونو او خويندو!

مخکې د عقيدې په ذکر شوي بحث کې مونږ د لوی الله عزوجل په توفيق سره د عرش د اثبات متعلق مسائل شروع کړي وه، چې د هغې له جملې څخه د عرش د لغوي او شرعي معنا څخه فارغ شوی وو، نو اوس دې درس کې د الله متعال په توفيق سره د عرش او په هغې د پاڅه د الله تبارک وتعالی د استواء (پورته کيدو) اثبات د قران کريم د اياتونو څخه شروع کوو.

نداء القران
بإثبات العرش والإستواء عليه للرحمان

اوس راځو او هغه دلائل ذکر کوو چې قران کې د عرش په اثبات او په هغې د الله تبارک تعالى د استواء متعلق راغلي دي:

(اول) د سورة طه پنځم ۵ نمبر اية کريمه الله تبارک وتعالى فرمايي: { الرحمن على العرش استوى} (ژباړه) رحمان ذات په عرش باندې پورته شوی دی.

(دويم) د سورة السجدة ۴ نمبر اية کې الله تبارک.وتعالى فرمايي: {اللَّهُ الَّذِي خَلَقَ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضَ وَمَا بَيْنَهُمَا فِي سِتَّةِ أَيَّامٍ ثُمَّ اسْتَوَى عَلَى الْعَرْشِ}

ژباړه: الله هغه ذات دی چې اسمانونه او ځمکه او هغه څه چې د دې تر منځ دي په شپږو ورځو کې پيدا کړل، بيا يې له هغې وروسته پورته شو په عرش باندې.

(دريم) د سورة الفرقان نهه پنځوسم ۵۹ نمبر اية کريمه کې الله تبارک وتعالى فرمايي: {الَّذِي خَلَقَ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضَ وَمَا بَيْنَهُمَا فِي سِتَّةِ أَيَّامٍ ثُمَّ اسْتَوَى عَلَى الْعَرْشِ الرَّحْمَنُ فَسْأَلْ بِهِ خَبِيرًا}

ژباړه: (الله) هغه ذات دی چې په شپږو ورځو کې يې اسمانونه او ځمکه او ټول هغه څه پيدا کړل چې د اسمانونو او ځمکې په منځ کې دي، بيا هغه پر عرش باندې پورته شو، هغه ډير مهربان دی، نو د هغه د مقام تپوس له کوم خبر لرونکي څخه وکړه.

(څلورم) سورة الرّعد دويم ۲ نمبر اية کريمه کې الله تبارک وتعالى فرمايي: {اللَّهُ الَّذِي رَفَعَ السَّمَاوَاتِ بِغَيْرِ عَمَدٍ تَرَوْنَهَا ثُمَّ اسْتَوَى عَلَى الْعَرْشِ }

ژباړه: الله هغه ذات دی چې اسمانونه يې بغير له ستنو نه (پورته) ودرولي دي، کوم چې تاسې يې خپله وينئ. بيا له هغې وروسته په عرش پورته شوی دی.

(پنځم) د سورة يُونس دريم ۳ نمبر اية کريمه الله تبارک وتعالى فرمايي: {إِنَّ رَبَّكُمُ اللَّهُ الَّذِي خَلَقَ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضَ فِي سِتَّةِ أَيَّامٍ ثُمَّ اسْتَوَى عَلَى الْعَرْشِ}

ژباړه: بې شکه رب ستاسې هماغه الله دی، کوم چې آسمانونه او ځمکه (ټول) په شپږو ورځو کې پيدا کړل، او بيا له هغې وروسته په عرش پورته شوی.

(شپږم) د سورة الحديد څلورم ۴ نمبر اية کريمه الله تبارک وتعالى فرمايي: {هُوَ الَّذِي خَلَقَ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضَ فِي سِتَّةِ أَيَّامٍ ثُمَّ اسْتَوَى عَلَى الْعَرْشِ}

ژباړه: او (الله) هغه ذات دی چې اسمانونه او ځمکه يې په شپږو ورځو کې پيدا کړل، او بيا وروسته له هغې نه په عرش پورته شوی.

(اووم) د سورة الأعراف څلورپنځوسم ۵۴ نمبر اية کريمه کې الله تبارک وتعالى فرمايي: {إِنَّ رَبَّكُمُ اللَّهُ الَّذِي خَلَقَ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضَ فِي سِتَّةِ أَيَّامٍ ثُمَّ اسْتَوَى عَلَى الْعَرْشِ}

(ژباړه) بې شکه رب (پالونکی) ستاسو الله دی چې اسمانونه او ځمکې يې په شپږو ورځو کې پيدا کړل، او بيا په عرش پورته شوی دی.

التذکير بنقل الوضاحة والتفسير

تر دې ځايه دا د عرش او په عرش باندې د الله عزوجل د استواء هغه روښ او ښکاره دلائل دي کوم چې تاسو د الله تعالى د مقدس کتاب قران عظيم الشان څخه وليدل، چې په هغې کې الله سبحانه وتعالی ځانته عرش او په هغې د پورته کيدونه په اوو ۷ مقامو کې خبر ورکړی، او دغه صفت يې ځانته ثابت کړی اوس دلته د استواء على العرش متعلق د سلفو او مفسرينو څه رأيه ده راشئ او دا هم ملاحظه کړئ.

(۱) امام بخاري رحمه الله په خپل صحيح کې په کتاب التوحيد باب وكان عرشه على الماء کې د مشهور تابعي او مفسر امام مجاهد المتوفى هـ۱۰۴ رحمه الله نه نقل کړی فرمايي:

قال مجاهد استوى: علا على العرش يعني مجاهد د استوى په معنا کې فرمايي: په عرش پورته شوی دی.

(۲) امام اسحاق بن راهويه المروزی المتوفى هـ۲۳۸ رحمه الله فرمايي سمعت بشربن عمرقال

سمعت غير واحد من المفسرين يقول: {الرحمن على العرش استوى} أي ارتفع . فرمايي: ما د بشر بن عمر نه واوريدل، چې هغه وفرمايل ما د ډيرو مفسرينو څخه اوريدلي چې فرمايل يې د الرحمن على العرش استوى معنا ده يعني په عرش پورته شوی دی وګوره [شرح أصول الاعتقاد للالكائي ۳/۳۹۷] او [العرش للذهبي۲/۱۰]

(۳) مشهور امام او مفسر علامه بن جرير الطبری

المتوفى هـ۳۱۰ رحمه الله د (ثم استوى على العرش) په تفسير کې فرمايي: أي علا وارتفع يعني بره شوی په عرش او پورته شوی دی پرې وګوره [تفسير الطبري ۱۱/۱۶]، او دغه ډول په [۱۷/۴۸۰] ص کې د استوى على العرش په تفسير کې فرمايي: وعلا عليه وذلک يوم السبت فيما قيل. او دغه الله په دې عرش پورته شوی او دا د خالي په ورځ پورته شوی، لکه څنګه چې ويل شوی.

(۴) امام بيهقي المتوفى هـ۴۵۸ رحمه الله د ابن عباس رضي الله عنهما نه نقل کړی چې هغه فرمايي {ثم استوى صعد} يعني بيا يې استوى وکړه يعني وختلو [الأسماء والصفات ۲/۳۰۷]

(٥) ابوالعاليه الرياحي المتوفي هـ ٩٣ رحمه الله د ده نه امام بخاري رحمه الله په خپل صحيح کې په کتاب التوحيد باب وكان عرشه على الماء کې نقل کړی فرمايي: وقال أبو العالية الرياحي" {استوى إلى السماء} أي ارتفع الغرض په مذکوره اياتونو کې د استواء على العرش نه مراد په عرش باندې د پاسه کيدل او په هغې پورته کيدل مراد دي، چې په دې معنا باندې مونږ تاسو ته دغه د پنځو معتمدو أئمه او مفسرينو نه د هغوی

اقوال نقل کړل، نور هم ډير اهل علم شته چې هغوی هم د استواء نه مراد په دی اياتونو کې صعود او ارتفاع مراد کړی کوم چې علامه ذهبی رحمه الله په العرش کتاب کې ذکر کړی چې اختصار يې په دی ډول دی.

(٦)رُبيع بن أنس البكرى المتوفى هـ ١٤٠رحمه الله

(٧) امام مفسر بغوى المتوفى ٥١٠ هـ رحمه الله (٨) ابوالعباس احمد بن يحى الشيبانى المتوفى هـ ٢٩٢ رحمه الله.

(٩) خليل بن أحمد المتوفى هـ ١٧٠ رحمه الله (١٠) علامه ابو عمر بن عبدالبر المتوفى هـ ٤٦٣ رحمه الله

(١١) ابو عبدالله محمد بن زياد المعروف بابن الأعرابى المتوفى هـ ٢٣١ رحمه الله او دغه نظريه د أهل السنه والجماعة په نزد اجماعي نظريه ده چې استوى على العرش معنا ارتفاع على العرش ده، تفصيل لپاره الصواعق المرسلة اجتماع الجيوش مجموع الفتاوى العرش للذهبى ولابن ابى شيبه شرح اصول الاعتقاد للالكائى التمهيد لابن عبدالبر وغيرها کتابونه کتل ضروري دي.

الإقتباس والإستضاء لمعرفة أقسام الإستواء

دا چې جهميه او د هغوی طرفداران هميش د حق نه د انکار او مخ اړونې لپاره قِسم قِسم تأويلات او بهانې مخ ته کوي چې حق د خلکو مخ ته باطل او باطل حق ثابت کړي، چې يوه د هغوی د باطلو شبهاتو څخه دا ده، چې دوی وايي: استواء د عربو په کلام کې په ډيرو معناوو راځي، او دغه په عرش د استواء نه مراد چونکه تعين په دې معنا نه دی راغلی، نو لهذا د دې نه د صعود او ارتفاع معنا اخيستل جايز نه دي؟ الجواب بعون الله الوهاب: هغه دا دی چې استواء چې په عربي لغت کې ذکر شوي نو هغه په دوه قسمه ده.

(١) مطلق او دا ديته وايي چې دغه استواء د هيڅ يو حرف سره نه وي متصل شوي لکه د الله تبارک وتعالی دا وينا چې فرمايی { ولما بلغ أشده واستوى} او کله چې هغه ځوانۍ ته ورسيده او پوره شو.

نو دغه مطلق استوا د پوره والي تکميل او اتمام په معنا سره راځي.

(٢) مقيد او دا په درې قسمه ده.

(اول) مقيد په حرف د (إلى) سره او دا په سورة البقرة

٢٩ نمبر اية کې ده، چې فرمايي: {ثم استوى إلى السماء فسوٰهن سبع سموات} د اول ايت معنا ده او بيا اراده وکړه الله اسمان پس جوړ يې کړل اوه ٧ اسمانونه.

او دويم : سُورَةُ حٰمٓ السجدة/فُصِّلَت : چې فرمايي:

{ثُمَّ اسْتَوَىٰٓ إِلَى السَّمَآءِ وَهِيَ دُخَانٌ فَقَالَ لَهَا وَلِلْأَرْضِ ائْتِيَا طَوْعًا أَوْ كَرْهًا قَالَتَآ أَتَيْنَا طَآئِعِينَ}

ژباړه: او بيا اراده وکړه الله اسمان (جوړولو) ته او هغه لوگی وو پس امر يې وکړو هغه ته او ځمکې ته چې راشي که ستاسو خوښه وي، او که نه نو دواړو وويل مونږ طاعت کوونکی راځو.

دلته په دې دواړو اياتونو کې استواء د ارادې او توجه په معنا سره راځي، وگوره: [اقاويل الثقات ص١٢٧ لمرعى بن يوسف المقدسى]

(دويم) مقيد بحرف د (واو) سره هغه واو چې په معنی د (مع) سره وي چې فعل مفعول مفعول معه ته متعدی کوي لکه استوى الماء والخشبة يعني مع الخشبة اوبه د لرگې سره برابرې شوی (استوى الليل والنهار) يعني مع النهار شپه د ورځ سره په مقدار کې برابره شوه، نو دلته استوى د برابر والي او يو شان والي په معنا سره راځي.

(دريم) مقيد په حرف د (على) سره لکه دا هم قران کې

ډير ذکر شوی مثلاً سورة هود ٤٤ کې فرمايی {واستوت على الجودي} او کشتۍ د جودي د غر له پاسه ودريده.

او سورالفتح ٢٩ کې فرمايي

{فاستوى على سوقه}او بيا هغه پورته په خپلې تنې ودريده نو دغه اخري ذکر شوی استواء چې مقيد وي په قيد د حرف (على) سره دا د پورته والي يعنې علو او ارتفاع په معنا سره راځي او قران کې چې څومره مقاماتو کې چې هغه وه ٧ مقامات دي چې د الله تبارک وتعالی په کې ځانته په عرش د استواء تذکره کړی هغو ټولو کې استواء مقيد ده په حرف د (على) سره چې د دې نه معلومه شوه چې د استواء على العرش معنا معلومه ده چې هغه پورته والی او اوچتوالی د الله عزوجل دی د عرش د پاڅه او د دې ډول استواء نه په همدې معنا باندې علامه ابن القيم رحمه الله د اهل اللغة والاو اجماع نقل کړی ده، وگوره! [مختصر الصواعق المرسلة ١/٣٧٢]

نو د جهميه وو دا اعتراض چې استواء په معنا کې تعيين نه دی ثابت دا خبره غلطه ده نو د استواء على العرش نه همدا معنا ثابته شوه چې الله تبارك وتعالى په عرش باندې پورته شوی څنگه چې د هغه د ذات سره لايق حق او مناسب وي، څه رنگ والی او کيفيت يې هيڅ مخلوق ته نه دی معلوم بس د مؤمن عقيده په دې باره کې همدا وي چې الله عرش استواء کړی مونږ يې له کيفيت نه نه يو خبر کړي، بس مونږ ورباندې همدغه شان ايمان لرو، او همدا د اهل السنة والجماعة مسلک مذهب او عقيده ده د امام مالک بن انس رحمه الله نه چا پوښتنه وکړه، چې رحمن ذات په عرش استوى څنگه کړی؟ نو راوي فرمايي: امام مالک رحمه الله باندې د ډير غضب او غوصې له کبله خولې راغلې او بيا يې ورته وويل: الاستواء معلوم، والكيف مجهول، والإيمان به واجب، والسؤال عنه بدعة، (ژباړه) استواء د الله (د معنی په اعتبار سره) معلومه ده، او کيفيت د استواء نامعلوم دی او ايمان په استواء د الله په عرش باندې واجب دی او تپوس کول يې د کيفيت نه بدعت دی، او له دې بعد يې دی سايل ته وويل وما أراك إلا رجل سوء؛ ثم أمر به فأخرج. استواء د الله او زه نه وينم تا لره مگر يو بد انسان بيا يې امر وکړه او د مجلس څخه وويستل شو [وگوره شرح حديث جبريل لابن تيمية ص ٣٢]

دغه ډول شيخ الاسلام ابن تيمية رحمه الله د امام مالک رحمه الله مذکور قول نقل کوي. او فرمايي: وهكذا سائر الأئمة، قولهم يوافق قول مالك: في أنا لا نعلم كيفية استوائه كما لا نعلم كيفية ذاته، ولكن نعلم المعنى الذي دل عليه الخطاب، فنعلم معنى الاستواء، ولا نعلم كيفيته.

(ژباړه): دغه ډول ټول د دين امامان چې د هغوی قول د امام مالک د قول سره موافق دی په دې کې چې مونږ د استواء په کيفيت داسې نه پوهيږو لکه څنگه چې په کيفيت د ذات د هغه نه پوهيږو ها البته په هغه معنا د استواء پوهيږو په کوم چې دغه خطاب دلالت کوي نو مونږ په دې اساس سره د استواء معنی پيژنو خو کيفيت يې نه پيژنو وگوره [مجموع الفتاوى ٥/٣٦٥].

دغه ډول امام يوسف بن مرعي المقدسي المتوفى ١٠٣٣ هـ دالالکائي په حوالې سره په سند د ام سلمي رضي الله عنها څخه نقل کړی فرمايي: عن أم سلمة رضي الله عنها في قوله تعالى {الرحمن على العرش استوى} طه الإستواء معلوم والكيف مجهول والإيمان به واجب والسؤال عنه بدعه والبحث عنه كفر. (ژباړه) د اُم سلمى رضى الله عنها څخه د الله تعالى د دې قول په باره کې نقل دي چې فرمايي (او رحمان ذات په عرش پورته شوی دی) استواء معلومه (د معنا په اعتبار سره) خو کيفيت د استواء نامعلوم دی ايمان پرې واجب دی تپوس کول د کيفيت د استواء نه بدعة دی او بحث کول د کيفيت په باره کې کفر دی [أقاويل الثقات ص٦١]، د استواء متعلق دغه ډول قول د ربيعة بن أبي عبد الرحمن نه هم نقل دی چې أنه سئل عن قوله تعالى {الرحمن على العرش استوى} فقال الإستواء غير مجهول والكيف غير معقول ومن الله الرسالة وعلى الرسول البلاغ وعلينا التصديق.

(ژباړه) بې شکه له ده څخه پوښتنه وشوه د الله تعالی د دې قول متعلق چې {الرحمن على العرش استوى} دی نو ده وفرمايل استواء مجهوله نه ده، او کيفيت معقول نه دی د الله له طرف نه راليږل دي او د رسول ذمه رسَول دي، او په مونږ يې تصديق واجب دی. [أقاويل الثقات ص ١٢١] وگوره [شرح اصول الاعتقاد ٣/٥٨١].

الغرض اهل السنه والجماعه د استواء على العرش د صفت سره د ټولو صفاتو د الله عزوجل همدا عقيده لري، چې کيفيت او تمثيل يې حرام گڼي دا چې عرش فى الجمله به څومره جلي او بديهي دلايلو ثابت دی د دې متعلق د مفسرقرطبی يو قول هم واورئ: سره له دې چې موصوف دی باب کې د اشاعره وو څخه دی فرمايي: أظهر الأقوال وإن كنت لا أقول به ولا أختاره ما تظاهرت عليه الآي والأخبار والفضلاء الأخيار أن الله سبحانه على عرشه كما أخبر في كتابه بلا كيف بائن من جميع خلقه هذا جملة مذهب السلف الصالح.

(ژباړه) په أقوالو کې له ټولو نه

ښکاره قول (د صحت په اعتبار سره) اګر چې زه په دې قول هم نه کوم او اختياروم يې هم نه هغه هغه دی چې (په تائيد کې يې) اياتونه احاديث او غوره بهتر خلک (امامان د دين) مرسته کوي او هغه دا دی چې بې شکه الله سبحانه وتعالى په خپل عرش باندې دی لکه څنګه يې چې په خپل کتاب کې د هغې نه خبر ورکړی بغير له کيفيت څخه جدا دی د خپل مخلوق نه او دا خلاصه مذهب د سلف صالحينو دی. ، [شرح أسماء الله الحسنى ص ۱۷۱]، وکذا نقل عنه ابن تيمية رحمه الله فی [درء تعارض العقل والنقل ۶/۲۵۸]، الغرض د جمله اهل السنه والجماعه د سلفو عقيده هم دا ده کومه چې دلته قرطبي ذکر کړی او مونږ هم د ګڼ شمير اهل علمو نه ذکر کړه کما مرّ عنی مرارا والحمد لله رب العالمين

تسويد المعطلة والنفاة

بدفع الوساوس وحل الشبهات

د معطله وو نور هم يو شمير اعتراضونه، وسوسې او شبهې شته چې د الله تبارك وتعالي د دې فعلي صفت استواء على العرش نه يې د انکار کولو لپاره مخې مخې ته کوي او بې علمه ساده مسلمانان د قران او حديث او په اجماع د امت او د سليم فطرت د دې ثابت اعتقاد څخه منحرف کوي.

(۱) مثلاً دوی وايي که عرش او په هغې استواء د الله تبارك وتعالى ومنل شي نو الله ته جسميت لازميږي.

(۲) عرش مخلوق دی او الله خالق دی نو دې سره احتياج د خالق مخلوق ته راځي.

(۳) عرش لوی دی که الله لوی دی که دواړه مساوي دي.

(۴) استواء نه مراد استيلاء ده چې غلبې ته وايي علو او ارتفاع ترينه مراد نه ده.

(۵) د عرش او اسمان نسبت چې الله ځان ته کړی د هغې نه مراد دا دی چې دا دعا قبوله ده نه دا چې الله تبارك وتعالى بره دی.

اوس مونږ مخکې له دې نه چې د الله په فضل او توفيق سره د دې شبهاتو نه نمبر په نمبر جوابونه وکړو اول د هغې نه مخکې دا واورئ چې دغه شبهې او

وسوسې د الله د صفاتو په باره کې د هغه چا ذهنونو ته راځي چې هغوی د مخکې نه د الله باره کې تشبيه په ذهن کې پرته وي. لکه: ابن القيم رحمه الله فرمايي ولهذا قال بعض أهل العلم إن كل معطل مشبه ولا يستقيم له التعطيل إلا بعد التشبيه.

ژباړه: او د دې وجې نه فرمايلي بعضو سلفو چې هر معطل دا مشبه وي تعطيل ده ته نه برابريږي مګر وروسته له تشبيه نه. [الصواعق المرسله ۱/۲۴۴]، نو چې د چا ذهن کې د مخکې نه د الله رب متعال باره کې د تشبيه او تمثيل خاکه موجوده نه وي نو هغه هرګز د خپل رب باره کې د دغه نوع خرافاتو نه ښکار کيږي اوس د دوی د شبهاتو نه جوابونه واورئ!

(اوله شبهه او د هغې نه جواب) د اولې شبهې او وسوسې نه يې جواب دا دی چې دغه عرش او په هغې د الله استواء خپله الله تبارك وتعالى په قران کې ذکر کړی او دغه قران په عربي ژبه کې په عربي رسول صلى الله عليه وسلم نازل شوی دی او هغه هم د استوا نه همدا ارتفاع او علو مراد کړې چې ان شاء الله وروسته به په مستقل فصل کې هغه احاديث هم ذکر شي چې هغې کې همدې مقصود باندې صراحت شوی دی او بيا لکونه صحابه کرام او تابعين عظام دغه اورى او په دوی کې د يو ذهن کې هم چرته دغه ويره او فکر نه راځي چې ګويا د دې نه خو جسميت لازميږي، خو صدۍ صدۍ بعد د خيرالقرون نه وروسته د دين نه منحرفو ته د دې پاک اعتقاد نه دا خوف محسوس شو چې د دې نه جسميت لازميږي او د دې وسوسې په مرسته د پاک رب د پاکو صفاتو نه انکار ته اماده کيږي او حال دا چې دا ټول د جهم بن صفوان نه پاتې شوی هغه څه دي چې هغه د جعد بن درهم نه او هغه دابان بن سمعان نه او هغه د طالوت او طالوت د خپل ماما لبيد بن أعصم اليهودي نه اخذ کړی هغه لبيد چې په رسول الله صلى الله عليه وسلم يې سحر کړی وه. [الحيدة والاعتذار ص۱۶]

او دويم جواب دا : چې دغه معطله خو الله ته په حياة علم قدرت او دغه ډول يو څو نورو صفاتو هم قائل دي، نو دوی ته مونږ دا جواب کوو چې څه وخت تاسو دغه صفات هم منئ او په دې سره الله ته جسميت نه لازميږي نو د عرش په منلو او په هغې د استواء له وجهی نه خو قطعاً جسميت نه لازميږي فما كان جوابهم فهو جوابنا

(دويمه شبهه او د هغې نه جوابونه) دويمه شبهه د دوی چې د خالق احتياج مخلوق ته راځي.

(اول جواب) دا دی چې دا خبره هم غلطه او هسې شيطاني وسوسه ده ځکه مونږ که لږ د الله په مخلوقاتو کې نظر واچو نو وبه وينو چې اسمان دا د ځمکې د پاسه دی خو ځمکې ته محتاج نه دی سپوږمۍ لمر او ستوري وګورئ دا د ځمکې د پاسه دي خو ځمکې ته محتاج نه دي سره له دې چې دا مخلوق دی بل مخلوق ته احتياج او ضرورت نه لري نو الله تبارك وتعالى چې دا خالق دی د استواء على العرش د وجې نه څنګه عرش ته چې مخلوق دی محتاج شي نو مخکې مونږ وويل چې دغه سوچونه او تشبيهات د هغه چا ذهن ته راځي چې د هغوی په اذهانو کې مخکې نه د تشبيه مرض مضمر وی والعياذ بالله.

(دريم جواب) بل عجيبه دا ده چرته د يو صحابي او تابعي ذهن ته دغه شبهه او وسوسه پرې نه وته خو د لبيد بن اعصم مدرسه کې د الله د تقديس او تسبيح داسې غم خواره پيدا شو چې د صحابه وو نه هم ځان مخکې مخکې کوي.

(دريمه شبهه او د هغې نه جواب) دا چې الله په عرش دی نو عرش غټ دی او که الله او که دواړه مساوي دي والعياذ بالله نو د دې (الجواب) بعون الله الوهاب دا دی چې دغه ډول بيځايه سؤال کول دا هغه خرافات دي چې انسان ته پرې حکايةً هم حيا ودريږي.

شيخ الاسلام رحمه الله د دې جواب کې د امام الدارمي رحمه الله هغه قول نقل کړی چې هغه د مريسي جهمي د دې اعتراض په جواب کې کړی دی شيخ الاسلام فرمايي: قال عثمان بن سعيد الدارمي في نقضه على المريسي وصاحبه وأعجب من هذا كله قياسك الله بقياس العرش ومقداره ووزنه من صغير أو كبير وزعمت كالصبيان العميان إن كان الله أكبر من العرش أو أصغر منه أو مثله فإن كان الله أصغر فقد صيرتم العرش أعظم منه وإن كان أكبر من العرش فقد ادعيتم فيه فضلا عن العرش وإن كان مثله فإنه إذا ضم إلى العرش السموات والأرض كانت أكبر مع خرافات تكلم بها وترهات يلعب بها وضلالات يضل بها لو كان من يعمل لله لقطع قشرة لسانه والخيبة لقوم هذا فقيههم والمنظور إليه مع هذا التمييز كله وهذا النظر وكل هذه الجهالات والضلالات فيقال لهذا البقباق النفاخ إن الله أعظم من كل شيء وأكبر من كل خلق ولم يحمله العرش عظما ولاقوة ولا حملة العرش حملوه بقوتهم ولا استقلوا بعرشه ولكنهم حملوه بقدرته .

ژباړه: عثمان بن سعيد الدارمي په خپل کتاب (نقض سعيد على المريسي الجهمي العنيد) کتاب کې مريس جهمي او د هغه ملګرو ته يې جواب ويلی (هغه دا چې) او د دې ټولو نه خو زياته د تعجب (شرم) وړ هغه ستا دا قياس کول د الله دی د عرش د مقدار او د وزن د هغې سره چې وړوکی دی که لوی دی؟ او د ړندو ماشومانو غوندې ګمان دې کړی دی (چې وايي که تاسو دا ګمان کوئ چې الله د عرش د پاڅه دی نو بيا تاسو څه جواب کوئ چې) که چرته الله د عرش نه غټ وي او يا وړوکی وي او يا د هغې سره برابر وي نو که الله وړوکی وي نو عرش مو ترې نه غټ وګرځاوه او که د عرش نه لوی وي نو بيا خو تاسو خپله دا ومنله چې د ده څه حصه د عرش نه زياته شوه (نو په عرش څنګه ځای شو) او که د عرش سره يو مقدار او مثل وي نو بيا خو چې د عرش سره آسمانونه او ځمکې يو ځای شي نو بيا خو دا عرش د الله نه لوی شو او داسې نور خرافات چې ده پرې تلفظ کړی دی او هسې په باطلو لوبيدلي دي، او داسې د ګمراهۍ خبرې يې کړي دي چې (انسان) په هغې سره ګمراه کيدلی شي نو چا چې عمل د الله لپاره کړی وي نو خامخا به په دې خبر کولو د هغه د ژبې پوستکي قطع شوي وای نو هلاکت او رسوايي دی وي هغه قوم ته چې فقيه (پوه او عالم) يې داسې وي او هغه څه چې ده ته ښه ښکاره شوي

سره د ده د ټول عقل د ده نو دا نظر او ټول (دا چې دوی ويلی) جهالت او ګمراهي ده نو دې کړتن پړسيدونکي ته به جواب کې دا ويلی شي چې بې شکه الله له هر څه نه چې ده پيدا کړی لوی او غټ دی نو نه خو عرش (الله لره) د خپل لوی والی نه او نه يې د خپل قوت په وجه پورته کړی دی او نه خو د عرش حمله ملايکو په خپل قوت سره پورته کړې او نه يې دغه عرش د هغه پورته کړی دی ها ليکن که دوی دغه بار کړی نو په قدرت د هغه (الله تبارك وتعالى) [بيان تلبس الجهميه ۳/۲۴۱،۲۴۲،۲۴۳]

(څلورمه شبهه او د هغې نه جواب) او هغه دا چې دوی وايي استواء نه مراد استيلاء ده چې غلبې ته وايي علو او ارتفاع ترينه مراد نه ده نو د

دې جواب بعون الله الوهاب په څو وجوو سره دی

(اوله وجه) هيڅ دليل د هيڅ لغوي نه څوک په دې نه شي ثابتولی چې استوى په عربي ژبه کې د استيلاء په معنا راغلي وی محمد بن احمد بن نضر فرمايي ما د لغة د امام ابن الأعرابي نه واوريدل چې فرمايل يې ماته ابن أبی دؤاد (چې دا يو معتزلي وه او د خلق القران عقيده يې لرله له ما نه يې مطالبه وکړه دا چې) وويل چې زه ده ته بعضې معنا او لغات پيدا کړم چې استواء په کې د استيلاء په معنا راغلي وي (تر څو د الرحمن على العرش استوى نه انکار ورته اسان شي فرمايي) ما ورته وويل: والله ما يكون هذا ولا أصبته " قسم په الله دا نه شي کيدای او نه ته په دې کې مقصد ته رسيدلی شې [الابانة لابن بطة ٣/١٦٦]، [تاريخ بغداد للخطيب ٥/٢٨٣]

(٢ وجه) او هغه دا ده چې استيلاء قهر غلبې او په يو شي باندې قدرت حاصلولو ته وايي وروسته له دې چې په دې کې ورسره چا ضد او مقابله کړې وي نو اوس دې يو کتوونکی وګوري او فکر دې وکړي چې ايا د الله تبارک وتعالى سره څوک په ځمکه او آسمانونو کې داسې شته چې په عرش باندې يې د الله سره ضد او مقابله وه نو وروسته د دې مقابلې نه پرې الله غلبه وکړه سبحان الله دا څومره د الله په شان کې د بې قدرۍ او بې ادبۍ الفاظ او د هغه د تسبيح تقديس او تعظيم مخالف عقيده ده امام دارمي رحمه الله دغه اعتقاد سخت مردود ګرځولی او د دې معتقد او قائل باره کې يې فرمايلي: فهل سمع سامع بجاهل أجهل بالله ممن يدعي أن الله استولى على عرشه مغالبة.

ژباړه: ايا کوم اوريدونکي اوريدلي داسې يو جاهل نه چې هغه په الله ډير جاهل وي د هغه چا څخه چې دا دعوی کوي چې الله په عرش استيلا کړې د وجې د مغالبی نه [نقض سعيد على المريسي الجهمي العنيد ١/٤٥٥]. نو معلومه شوه چې استيلاء دې ته وايي چې يو جانب د بل جانب سره مقابله کې وي نو چې کوم غالب شي نو د هغه په صفت کې ويل کيږي، چې استولى فلان على المدينة او القرية وعلى كذا وكذا او دغه پول داود بن علي فرمايي: مونږ د ابن الأعرابي سره ناست وو چې يو سړی ورته راغی او ورته ويې فرمايل: "ما معنى قوله: {على العرش استوى} د دې څه معنی ده چې رحمن ذات په عرش استوی کړې نو هغه ورته وفرمايل "هو على عرشه كما أخبر هغه په خپل عرش دی لکه څنګه يې چې خبر ورکړی نو هغه کس ورته وويل : يا أبا عبد الله إنما معناه استولى. ای ابو عبدالله (دا د ابن الاعرابی اسم کنيه وه) د دې معنا استولی ده نو ابن الاعرابی ورته وويل: "اسكت لا يقال استولى على الشيء حتى يكون له مضاد فإذا غلب أحدهما قيل: استولى" ژباړه: چپ شه استولى په يو شي باندې دا نه ويل کيږي مګر د هغه چا په صفت کې چې هغه په هغې کې خپل ضد او مخالف لري نو چې کله يو په دوی کې په بل غالب شي نو بيا ويل کيږي چې استولی (فلانی په فلاني غالب شوو) [الأسماء والصفات للبيهقي ٢/٣١١]، [ابن قدامه في صفة العلوء ص١٧٤]

(٣دريمه وجه) دا ده که استوی د استولی په معنا شی نو بيا د دې څو دا معنا شوه چې الله په دومره مخلوقاتو کې صرف په عرش غلبه کړې او په نورو يې لا غلبه هم نه ده حاصله کړې، الله أکبر کبرت كلمة تخرج من أفواههم، وګوره د دې نظريې نتايج او په هغې رد په [نقض سعيد على المريسي الجهمي العنيد ١/٤٥٥]

(٤ وجه) دې باره کې چې دغه معطله کوم شعر په دليل کې پيش کوي راشئ او د هغې هم لږه جائزه واخلئ شعر داسې دی:

قد استوى بشر على العراق
من غير سيف ودم مهراق

دلته استدلال د دوی په دې شعر کې د استوی ګ د کلمې څخه دی دليل دا پيش کوي چې ګوره دلته بشر په عراق حمله وکړه نو غالب او قاهر وګرځيده په عراق باندې نو معلومه شوه چې استوی د استيلاء په معنا ده څکه شاعر د استيلاء په ځای استوی ذکر کړی نو (على العرش استوى) کې هم مراد استيلاء ده نه علو او ارتفاع چې د دوی د دې وسوسې نه هم دا څو جوابونه لرو.

(اول جواب) مونږ مخکې ثابته کړه چې په عربي ژبه کې استوی د استيلاء په معنا هرګز نه راځي [اقاويل الثقات ص١٢٤]

(دويم جواب) استيلاء نه مراد غلبه ده نو که استوی د استيلاء په معنا اخلی نو د الله تبارک وتعالى په حق کی دوه قسمه توهين او بې ادبي واقع کيږي.

(١) الله سره مو په عرش باندې مخالفت کوونکی او مقابله کوونکی ومانه نو حق لرو چې پوښتنه وکړو چې دا څوک وو چې الله عزوجل سره په عرش باندې په جنګ ؤ، او الله پرې غالب شو او هغه مغلوب وګرځيده؟!!

(٢) الله مو صرف په عرش باندې غالب وګڼلو او نور مخلوق مو د هغه د قهر او غلبې نه مستثنی وګرځاوه او دا د صريح قران صحيح سنت ثابت اجماع سليم عقل او جوړ فطرة ټولو نه مخالفت دی.

(دريم جواب) دا شعر ثابت نه دی د دې متعلق ابن تيميه رحمه الله فرمايي: ولم يثبت نقل صحيح أنه شعر عربي وكان غير واحد من أئمة اللغة أنكروه وقالوا:

إنه بيت مصنوع لا يعرف في اللغة وقد علم أنه لو احتج بحديث رسول الله صلى الله عليه وسلم لاحتاج إلى صحته فكيف ببيت من الشعر لا يعرف إسناده وقد طعن فيه أئمة اللغة؛

ژباړه: او په هيڅ صحيح نقل سره ثابت نه دی چې دا عربي شعر دی او ډيرو امامانو د لغة دغه شعر منکر ګڼلی دی، او ويلي يې دي چې دا بيت د ځان نه جوړ شوی دی په لغة کې دغه معنا هيڅ پيژندلی نه شي، او دا څو معلومه ده چې که څوک د رسول الله صلى الله عليه وسلم په حديث هم دليل نيسي نو حاجت شته چې د صحت معلومات يې وشي نو پس څه حال به وي د هغه بيت چې د ثبوت سند يې نه دی معلوم او سره له دې چې د لغة امامانو پرې طعن هم لګولی، [مجموع الفتاوی ٥/١٤٦].

(څلورم جواب) د دې شعر باره کې دا هم ويل شوي چې دا شعر هغه وخت ويل شوی چې کله بشر بن مروان په عراق حمله وکړه او هغه يې ونيوه نو د عراق په کرسی چې څنګه کيناست نو دا شعر وويل شو. كما في [مجموع الفتاوى ١٧/٣٧٥]

نو په دې مناسبت سره بيا دا شعر د هغه چا لپاره دليل نه شي کيدې چې هغوی د استوی نه دلته استيلاء مراد کوي څکه دلته د اقتدار په کرسی د پاڅه کيناستلو ته استواء ويل شوي او همدا زمونږ مقصد هم دی، ګنې صحابه او تابعينو ډيرو د دوی څخه غټ غټ ښارونه فتح کړي خو د هيڅ چا باره کې دا نه دي ويل شوي چې استوى على البلد يعنې ده په ښار باندې غلبه وکړه.

(پنځم جواب) بل د دې شعر په باره کې ويل شوي چې دا د يو نصراني شعر دی چې نوم يې اخطل دی امام جوهري په تاج اللغة کې أخطل ته منسوب کړی دی نو اوس د الله تبارك وتعالى په عرش د استواء متعلق د قران دومره صريح نصوصو مقابله د يو داسې شعر په وجه کولی شي، چې هغه هم يو کافر نصراني ويلی وي. سبحان الله.

څه ښه فرمايلي دي هغه چا چې فرمايلي يې:

قبحا لمن نبذ القرآن وراءه ..
وإذا استدل يقول قال الأخطل

بدرنګ دې وي هغه کس چې قران شاته غورځوي، او چې کله هم دليل پيش کوي نو وايي چې اخطل ويلی دی كما في [مجموع الفتاوى ٦/٢٩٧]

(پنځمه شبهه او د هغې جواب) دا چې دوی وايي چې توجو په دعاء کې بره اسمان طرف ته کيږي نو د دې نه دا مراد هرګز نه دی چې ګويا الله بره دی، بلکې دا بره توجو د دعاء قبله ده نو جواب بعون الله الوهاب په څو وجوهو سره دی.

(١) په دغه دعوي باندې کتاب او سنت کې هيڅ دليل وجود نه لري.

(٢) د رسول الله صلى الله عليه وسلم نه صحيح ثابت دي چې هغه په دعا کې هم مخ قبلې ته ګرځولی او دا تري په ډيرو مواضعو کې ثابت دی.

(٣) قبله هغه وي چې مخ ورته ګرځول کيږي، نه چې سر او سترګې ورته پورته کيږي.

(٤) که چيرته اسمان د دعاء قبله شي نو بيا لازم دي چې دعا کې انسان مخ قبلې ته مخامخ کړي لکه څنګه په لمونځ کې انسان مخ قبلې ته مخامخ کوي، شيخ الاسلام ابن تيمية رحمه الله د دې شبهې خايسته علمي انداز سره جواب بلکې جوابونه کړي دي او دغه اعتقاد چې عرش او يا اسمان دا د دعا لپاره قبله ده د کتاب او سنت او اجماع د امت نه مخالف أو د أبطل الباطل له جملې څخه يې ګرځولی دی، [بيان تلبيس الجهمية ٤/ من ٥٤٤ الى ٥٥٢].

د اسلامي دولت د رسمي ویاند مجاهد شیخ
أبو عمر المهاجر (حفظه الله تعالی) د غږيزې وینا چې عنوان یې دی:
(ټول د الله په رسۍ منګولې ولګوئ او اختلاف مه کوئ)
څخه

غوره څپرکي

۱

اسلامي دولت په خپله لاره روان دی، د توحید بیرغ یې پورته کړی، د دې پولې ساتي او په هر قیمتي او ګران بها څیزونو یې دفاع کوي، د الله تعالی د امر پرځای کولو په پار د الله له دښمنانو سره جګړه کوي،

۲

ای مسلمانانو! زیری واخلئ د توحید زمریانو او د جهاد شهسوارانو دا کلک هوډ کړی چې د طواغیتو په زندانونو کې به یو مسلمان بندي هم پاتې نه شي ان شاءالله، په دې له الله تعالی د مدد غوښتونکي او په هغه سبحانه وتعالی توکل کوونکي دي، که وخت ډیر ونیسي یا لږ خو هرو مرو دا کار کوي، او د الله تعالی په مدد او قوت سره به زندانونه زمونږ لومړی هدف وي، تر څو ترې ټول ورونه او خویندې وباسو.

۳

هغوی چې اسلامي دولت آزاد کړل او د دښمن په لیکو کې دي، هغوی ته مو پیغام دادی چې مونږ تاسې پرېښودئ تر څو تاسې پوه شئ چې مونږ د وژنو سره د مینې او یا د واک د غوښتلو لپاره نه جنګیږو، بلکې مونږ د لا إله إلا الله، د مسلمانانو د صف د یووالي او د الله تعالی په مضبوطه رسۍ د هغوی د منګولو لګولو لپاره جنګیږو، تاسې مو پرېښودئ تر څو په خپلو ګریوانونو کې سر ښکته کړئ، د هدایت لور ته راوګرځئ او له ګمراهیو توبه وباسئ، زمونږ دروازې ستاسې راتګ لپاره خلاصې دي، او د جماعت په صف کې ستاسې ودریدل راته تاسې سره له جنګ کولو ډیر خوښ دي، په خپلو کړنو مو سوچ وکړئ او د ټولو کارونو انجام الله لره دی.

مؤسسة العزائم الإعلامية

ألفلاح والرشاد في مسائل الجهاد

نهم درس : صحيح البخاري كتاب الجهاد

الحمد لله رب العالمين والصلاة والسلام على رسوله الأمين وعلى أزواجه وأصحابه ومن تبعهم في إحسان إلى يوم الدين أما بعد:

محترمو مسلمانانو وروڼو او خويندو!

مونږ مخکې درس کې د لوی الله په توفيق سره د الفلاح والرشاد په سلسله واره لړۍ کې د اتلسم حديث شرح او وضاحت وکړ، اوس د لوی الله په توفيق سره راځو نولسم (۱۹) حديث او د هغې شرح او وضاحت شروع کوو.

حديث١٩

رقم الحديث ٢٨٠١

عن أبي هريرة -رضي الله عنه- أن رسول الله -صلى الله عليه وسلم- قال: «والذي نفسي بيده, لا يكلم أحد في سبيل الله -والله أعلم بمن يكلم في سبيله- إلا جاء يوم القيامة واللون لون الدم, والريح ريح المسك

(ژباړه): له ابوهريره رضی الله عنه نه روايت دی، هغه فرمايي چې: بې شکه رسول الله صلی الله صلی الله عليه وسلم وفرمايل: قسم په هغه ذات چې زما روح د هغه په واک کې ده نه شي زخمي کېدای يو کس د الله په لاره کې او الله ښه پوهېږي په هغه چا چې زخمي کېدای شي په لاره د هغه کې، مګر دا چې رابه شي د قيامت په ورځ په داسې حال کې چې رنګ به يې د وينې وي او بوی به يې د مشک (عنبرو) وي.

التفكر والمراقبة فى ذكر التطبيق والمناسبة

دي حديث کې د امام بخاري رحمه الله استاد چې عبدالله بن يوسف التنيسي دی چې د توثيق او تعديل په باب کې د ثقة او ثبت په اوصافو موصوف راوي دی، امام بخاري رحمه الله دغه حديث له ده څخه په سند د ابوهريره رضی الله عنه ذکر کوي بيا مناسبت د باب له حديث سره واضح دی چې هغه د(يكلم) کلمه ده چې د جرح مرادف او هم معنا کلمه ده.

إغاثة المغيث في ذكر شرح الحديث

(لايكلم احد) کلم زخم ته وايي او (احد) نکره ده د نفي د حکم لاندې ده نو معنا دا چې دغه زخمي که هر څوک وي نر وي که ښځه، آزاد وي که غلام، دغه اجر ورته ورکول کېږي. خو دلته يوه خبره ضروري ده چې ذکر شي هغه دا چې اسلام او ايمان به شرط وي چې مسلمان نه وي او يا يې نيت د اعلاء کلمة الله لپاره نه وي نو بيا يې قرباني ضايع ده. ځکه صحيح مسلم کې د ابوهريره رضی الله عنه نه د همام په روايت کې داسې الفاظ دي چې (كل كلم يكلمه المسلم) او دا د قرآن او د نورو احاديثو نه هم ښکاره معلومه ده. نو غالباً همدا وجه ده چې رسول الله صلی الله عليه وسلم وفرمايل (في سبيل الله) يعنې د دې نه مراد جهاد دی علامه ابن بطال فرمايي:

المراد به الجهاد، ويدخل فيه بالمعنى كل من جرح فى سبيل بر أو وجه مما أباحه الله تعالى كقتال أهل البغى والخوارج واللصوص، أو أمر بمعروف أو نهى عن منكر، ألا ترى قوله (صلى الله عليه وسلم)

(ژباړه): مراد په دې سره هغه جهاد دی او په دې کې په دې معنی سره هر هغه څوک داخلېږي چې په نېکه لاره کې زخمي شي او يا په هغه څه کې چې الله ورته هغې کې قتال مباح ګرځولی. لکه قتال کول د باغيانو خوارجو او غلو (قطاع الطرق) سره، او يا د امر بالمعروف او نهی عن المنكر په وجه زخمي شي، آيا ته نه ګورې د نبي صلی الله عليه وسلم دې قول ته چې فرمايي: (من قتل دون ماله فهو شهيد) څوک چې د خپل مال د حفاظت او دفاع په وجه ووژل شي نو دا شهيد دی.

[شرح ابن بطال ٥/٢٠]

(والله أعلم بمن يكلم فى سبيله) چې دې مقام کې دېته جمله معترضه ويل کېږي او غالباً دې کې اشاره او تنبيه ده، جوړولو د نيت او پيدا کولو د اخلاص ته په جهاد کې، او يا دا چې دې کې تفخيم د شان د زخمي او تعظيم او فضيلة د هغه ذکر دی چې نبي صلی الله عليه وسلم يې په اندازې او مقدار علم نه لري، والله اعلم. بل دا هم ترې ثابتېږي چې نبی صلی الله عليه وسلم هم په غيبو نه پوهېږي او نه بل کوم ولي، (الا جاء) جاء په خپله حقيقی معنا باندې دی، راتللو ته وايي، نو دې کې اشاره ده چې قيامت حق دی او راتلل په کې يقيني دي. (واللون لون الدم) په (واللون) کې واو حاليه دی او الف لام په کې دا عوض د مضاف اليه دی او هغه (دم) دی يعني رنګ د وينې به رنګ د وينې وي. (والريح ريح المسک) دلته هم واو حاليه دی يعنې په داسې حال کې چې د دغه زخم وينه به د وينې بوی نه کوي بلکې د دې بوی به د جنتي مشک او عنبر بوی وي.

القول المدوح في تعميم فضيلة المجروح

بيا دلته يو سوال دی او هغه دا چې دا فضيلت د کوم زخمي لپاره

دی، هغه چې له دې زخم سره همدې حالت کې وفات شي او که نه هغه زخمي ته هم شامل دی چې زخمونه يې جوړ شوي وي او وروسته بيا په بل سبب وفات شي نو دې متعلق علامه قسطلاني فرمايي:

أن الصفة المذكورة لا تختص بالشهيد بل هي حاصلة لكل من جرح ويحتمل أن يكون المراد بهذا الجرح هو ما يموت صاحبه بسببه قبل اندماله لا ما يندمل في الدنيا فإن أثر الجراحة وسيلان الدم يزول ولا ينفي ذلك أن يكون له فضل في الجملة لكن الظاهر أن الذي يجيء يوم القيامة وجرحه يثعب دما من فارق الدنيا وجرحه كذلك.

(ژباړه): بې شکه مذکوره صفت دا د شهيد پورې خاص نه دی، بلکې دا فضيلت حاصل دی هر هغه چاته چې زخمي شي، او احتمال لري چې مراد په دې سره هغه زخم وي چې د هغې له سببه دغه زخمي مړ کيږي مخکې له دينه چې زخمونه يې وچ شي نو دا نه چې زخمونه يې مخکې له مرگ نه په دنيا کې وچ شي بې شکه د زخم اثر او د وينې بهيدل دې سره ختميږي خو دې سره د دې نفيې نه راځي چې دې زخمي ته دې في الجمله فضليت ثابت نه شي خو.ليکن ښکاره دا ده چې هغه کس چې د قيامت په ورځ راشي او د زخم څخه وينې بهيږي نو دا هغه کس چې له دنيا نه په داسې حال کې جدا شي چې زخمونه يې همداسې وي يعنې وينې ترې بهيږي[٢٠/٦]، دا شوه د زخمي متعلق د علامه قسطلاني رأيه اگر چې زړه ته دا ډيره کوزيږي خو دا هم امکان لري چې د جوړو زخمونو والا هم په دې حالت کې الله راپاڅوي د وجې د فضيلت

نه په لاره د الله کې ځکه حديث کې فضيلت د زخم فی سبيل الله مطلق ذکر شوی نو دا مطلق به په خپل اطلاق جاري کيږي او همدا غوره ښکاري ترڅو هر زخمي فی سبيل الله ته دغه فضيلت شامل شي والله اعلم.

فوائد الحديث

[١] حديث دليل دی په فضيلت د جهاد فی سبيل الله کې

[٢] هغه زخم عندالله قبول او صاحب يې د خير او اجر مستحق گرځي چې د الله په لاره کې وجود ته راغلی وي.

[٣] رسول الله صلی الله عليه وسلم په غيبو نه پوهيږي چې د يو چا د زړه راز او نيت معلوم کړی شي.

[۴] د نيت محل هغه زړه دی.

[۵] جهاد کې صفا او روغ نيت او اخلاص کولو سره مرتبې او مقام حاصليږي او قرباني د قبوليت درجې ته رسيږي.

[٦] شهيد به د خپل لباس سره دفن کولی شي.

[۷] قيامت حق دی انسان به پکې د خپل عمل سره راپورته کيږي.

[٨] انسان ته به د قيامت په ورځ د اعمالو بدلې ورکول کيږي.

[٩] دنيا دارالأعمال او اخرت دارالجزاء ده.

[١٠] الله تبارک وتعالی په دې قادر دی چې د شهيدانو د وينو صفت بدل کړي او خوشبو پکې پيدا کړي.

[١١] حديث د جهاد په خير د جهاد کوونکي يعنې د مجاهد په عزت، شرف او فضيلت هم لوی دليل دی.

١١ - باب قول الله عز وجل: {قل هل تربصون بنا إلا إحدى الحسنيين} [التوبة ٥٢]، والحرب سجال باب ثابت په باره د يادولو د دې ويناء د الله عزوجل چې فرمايي ته ورته ووايه ای پيغمبره (چې) تاسو (ای کفارو) انتظار نه کوئ زمونږ باره مگر يو له دوه وو خائسته (کارونو) څخه. او دغه ډول په دې باره کې چې جنگ په شان د بوقو دی.

حصول الأجروالثواب
بتشريح كلمات ما فی الباب

دلته هم د (باب) کلمې باره کې د مخکې پشان دوه اعرابه جاري کيدلی شي (هل) دا حرف استفهام دی په معنی د نفي سره (تربصون) جمع مخاطب مضارع ده اصل کې دا تتربصون وو يوه تا پکې حذف شوي انتظار ته ويلی شي (واو) دا په تربصون کې فاعل دی يعنې تاسو انتظار نه کوئ (بنا) کې با جاره ده او (نا) ضمير مجرور متصل دی متعلق دی په تربصون پورې يعنې زمونږ باره کې (إلا) ديته اداة الحصر وايي (احدی) د امضاف دی (الحسنين) ته او دغه مجموعه مفعول بِهِ دی ابن بطال له مهلب څخه نقل کړی چې مراد له دې څخه فتح او غنيمت او يا شهادت او جنت دی. (والحرب سجال) حرب جنگ ته وايي سجال په کسری يعنې په زير د سين او زبر د جيم سره جمع د سجل ده سجل يعنې مفرد يې په فتحې د سين سره لوستل کيږي او دا د کوهي بوقې ته وايي نو مراد دا چې جهاد کې هميش غلبه نه راځي بلکې کله به غالب او کله به مغلوب کيږي.

مطر الرحمة والسحاب
فی ذکر مناسبة ترجمة الباب مع الكتاب

دا باب د کتاب الجهاد د عدد او شمير په اعتبار سره يوولسم(١١) نمبر باب دی امام بخاري رحمه الله په دې کې يو حديث د عبد الله بن عباس رضی الله عنه ذکر کوي بيا مناسبت د ترجمة الباب د کتاب الجهاد سره ښکاره معلوم دی چې هغه د (قتال) او د (الحرب) کلمې دي چې اسلام کې ترينه په جهاد سره تعبير کيږي والله اعلم.

حديث ٢٠
رقم الحديث ٢٨٠٢

عن عبيد الله بن عبد الله أن عبد الله بن عباس أخبره أن أبا سفيان أخبره "أن هرقل قال له: سألتك كيف كان قتالكم إياه، فزعمت أن الحرب سجال ودول، فكذلك الرسل تبتلى ثم تكون لهم العاقبة .

ژباړه: عبيد الله بن شهاب نه روايت دی چې عبدالله بن عباس ده ته خبر ورکړی چې بې شکه ابو سفيان هغه ته خبر ورکړی چې بې شکه هرقل هغه (ابوسفيان) ته ويلي چې ما له تاته وپوښتل چې ستاسو د جنگ نتيجه څنگه وي د هغه (نبي صلی الله عليه وسلم) سره نو تا ځواب راکړ چې بې شکه (دغه) جنگ (زمونږ او د هغه تر منځه په شان د) بوقو وي او اوړي راوړي نو پس همداسې حال وي د پيغمبرانو چې ازمايلی شي بيا اخري نتيجه د کاميابۍ د دوی په برخه وي.

التفکر والمراقبة
فی ذکر التطبيق والمناسبة

په دې حديث کې د بخاري رحمه الله استاذ هغه يحيی بن بکير رحمه الله دی چې د تعديل او توثيق په باب کې د ثقةٌ په درجه او صفت موصوف دی د هغه نه دغه حديث په سند سره د ابن عباس رضی الله عنهما نه نقل کوي بيا دغه حديث دا د يو طويل حديث وړه حصه ده مطول په کتاب د بدء الوحي کې په شپږم نمبر سره ذکر شوی او له دينه بغير تقريباً بخاري رحمه الله په خپل صحيح کې په څوارلس ۱۴ مقاماتو کې ذکر کړی دی بيا مناسبت د حديث د ترجمة الباب سره په فقهي طور سره ثابت دی. ځکه ترجمة الباب کې (الحسنيين) ذکر دی او حديث کې دې دواړو کې د يوې د حصول سبب ذکر دی او هغه پدې ډول چې جنگ د بوقو پشان دی نو چې غالب شوې فتحه او غنيمت دی او که مغلوب شوې نو شهادت او کرامت دی چې يو د حُسنَيَينو نه خامخا حاصل شو.

شفاء الأمراض
بدفع الشبهة والاعتراض

امام بخاري رحمه الله چې دلته د ترجمة الباب لپاره کوم حديث د ابن عباس ذکر کړی دغه د ترجمة الباب سره هيڅ ربط او مناسبت نه لري!!

علامه ابن بطال رحمه الله د دې جواب کې فرمايي قيل: تعلقه بها صحيح، والآية مصدقة للحديث، والحديث مبين للآية وإذا كانت الحرب سجالا، فذلك إحدى الحسنيين؛ لأنها إن كانت علينا فهى الشهادة، وهى أكبر الحسنيين، وإن كانت لنا فهى الغنيمة، وهى أصغر الحسنيين، فالحديث مطابق لمعنى الآية.

ژباړه: ويل شوي دي چې تعلق د دې حديث د ايت سره صحيح دی دغه ايت د حديث تصديق کوونکی دی او حديث د دې ايت بيان او وضاحت کوونکی دی نو چې کله جنگ په شان د بوقو شي نو دا يو د دوه خايسته کارونو څخه شوه ځکه که بوقه په مونږ راپورته شوه نو دا شهادت دی او دا لويه حسنه ده او که زمونږ له طرف نه پورته شي نو بيا دا غنيمت دی او دا بيا له شهادت نه وړه خايسته حسنه ده نو پس حديث مطابق شو د ايت سره [٥/٢١].

إغاثة المغيث في ذکر شرح الحديث

(أن هِرقل) هِرقل په زير د ها او په زبر د راء په سکون د قاف سره لوستل کيږي دا د روم د بادشاه خپل نوم دی او لقب يې قيصر دی لکه څنگه چې د فارس د باشاه لقب کسریٰ او د مصر د بادشاه لقب فرعون دی (سألتك كيف كان قتالكم اياه) دا د هغه پوښتنو له جملو څخه يوه پوښتنه ده چې د روم بادشاه هِرقل له ابو سفيان څخه کړې وې او دغه وخت لا ابو سفيان اسلام نه ؤ قبول کړی او د تجارت لپاره هلته تلی ؤ چې روسته

بيا دا کيسه هغه خپله ابن عباس رضی الله عنهما ته کړي وه. (فزعمت ان الحرب سجال) زعم دا غالب به دروغو کې حسابيږي خو کله کله په حق او رښتيا کې هم استعماليږي د سجال معنا د باب د الفاظو په تشريح کې تيره شوې (دُول) په پيش د دال او په زبر د واو سره دا جمع د دولة ده.

اوريدو رااوريدو ته ويلی شي دولة ته هم دولت ځکه وايي چې دا هم په خپل ځای برقرار نه پاتې کيږي کله د يو لاس ته ورځي او کله د بل نو ابو سفيان هم د جنګ نه تعبير په بوقو او دول سره وکړلو (ثم ...العاقبة) عاقبة په لغت کې اولاد او نسل ته وايي او په اصطلاح کې وايي (اخر کل شئ وخاتمته) ته بيا د نيکانو باره کې خايسته نتيجې او احسني بدلې ته او د بدانو باره کې وايي بدې نتيجې او ناکاره بدلې ته مثلا عرب وايي عاقبة الخير خير و عاقبة الجريمة وخيمة (ژباړه) انجام او نتيجه د خير خير وي او عاقبت د بد کار تاواني وي.

فوائد الحديث

[۱] د حق د معرفت لپاره تحقيق کول پکار دی.

[۲] که يو سړی حق وپيژني او حق ته حق هم ووايي بيا هم دا فايده نه رسوي ترڅو د حق تابعداري ونه کړي.

[۳] امتحانات په انبياؤ هم راځي بلکې په هغوی له نورو امت په نسبت سره زيات مبتلی کيږي.

[۴] نبي صلی الله عليه وسلم جهادونه کړي دي.

[۵] کفار هم په دې معترف دي چې اخيري د خير نتيجه دا د انبياؤ ده.

[٦] نو د دې انبياؤ اتباعو ته به هم دغه احسنه خاتمه او احسنه نتيجه لاس ته ورځي.

۱۲ - باب قول الله تعالى

{من المؤمنين رجال صدقوا ما عاهدوا الله عليه فمنهم من قضى نحبه ومنهم من ينتظر وما بدلوا تبديلا}

باب ثابت دی په يادولو د دې قول د الله تعالی (چې فرمايي) بعضې له مؤمنانو څخه داسې نارينه دي چې رښتوني ثابت شوو په هغه څه کې چې دوی عهد کړی ؤ په هغې باندې د الله سره پس بعضو له هغوی هغه څوک دي چې خپل نذر يې پوره کړ او بعضې له هغوی څخه هغه څوک دي (چې د خپلې برخې د پوره کولو) انتظار کوي او تبديلي يې رانه وستله (په خپلو عهدونو کې) هيڅ تبديلي (الأحزاب ۲۳)

حصول الأجر والثواب
بتشريح الكلمات مافى ترجمة الباب

يعني هذا باب في ذکر قول الله تعالی او د ابوذر په نسخه کې قول الله عزوجل دی (من المؤمنين) دا خبر مقدم دی (رجال) مبتدا مؤخر ده (صدقوا) دا صفت د (رجال) دی ځکه جمله د نکرې صفت واقع کيدلی شي (ما) موصول (عاهدوا الله عليه) دا جمله صله ده موصول سره له صلې خپلې دا معطوف عليه شو او د دې باره کې راځي چې دينه مراد هغه صحابه کرام وو چې احد ته ووتل او عهد يې وکړو چې شا به نه ګرځوو او د مقاتل څخه نقل دی چې دينه مراد د ليلة العقبة والا صحابه دي چې په ثبات يې د رسول الله صلی الله عليه وسلم سره عهد کړی وو.

(فمنهم) کې فا عاطفه ده(من موصول دی (قضی نحبه) دا ټوله جمله صله د موصول سره دا هم معطوف عليه دويم شو يعني نذر يې کړی ؤ چې تر هغه وخته به جنګيږي چې ترڅو يې شهادت نه وي حاصل کړی لکه انس بن النضر او طلحه رضی الله عنهما (النحب) نذر ته وايي چې يو انسان يو عمل په ځان د الله د رضا لپاره لازم وګرځوي. (ومنهم من ينتظر) د دې ترکيب هم د مخکې جملې پشان دی چې دا بيا دريم معطوف عليه شوو او له دې نه مراد ژوندي هغه صحابه دي چې د شهادت انتظار باسي.

(وما بدلوا تبديلا) دا هم د مخکې جملې غوندې څلورم معطوف شو په مخکې معطوف عليه خپل او دا ټول بيا جمله اسميه ده او مقصد دا چې دوی په خپل عهد او ذمه داسې کلک ولاړ دي چې د حالاتو سخت والی او د مصائبو کړاوونو او دردونو په عهد ماتولو او ياهم په هغې کې تغيير او تبديل راوستو ته نه دي اماده کړي، بلکې په هغې کلک ولاړ دي، او لکه د منافقانو دا دروغ او بهانې نه کوي چې کورونه زمونږ بې سرپرسته پاتې دي.

مطر الرحمة والسحاب
بذكر مناسبة ترجمة الباب مع الكتاب

دا باب د کتاب الجهاد د ابوابو د عدد او شمير په اعتبارسره دولسم ۱۲ باب دی.

امام بخاري رحمه الله په دې کې دوه حديثه د انس رضي الله عنه نه په يو سند سره ذکر کوي. بيا مناسبت د ترجمة الباب د کتاب الجهاد سره غير مخفي دی په دې دول چې د مجاهدينو اوچت او عالي صفات په کې د جهاد له وجې ذکر شوي دي. والله اعلم.

حديث ۲۱
رقم الحديث ۳۸۰۳

عن أنس -رضي الله عنه- قال: "غاب عمي أنس بن النضر عن قتال بدر: فقال: يا رسول الله، غبت عن أول قتال قاتلت المشركين، لئن الله أشهدني قتال المشركين ليرين الله ما أصنع. فلما كان يوم أحد وانكشف المسلمون قال: اللهم إني أعتذر إليك مما صنع هؤلاء، يعني أصحابه، وأبرأ إليك مما صنع هؤلاء، يعني المشركين. ثم تقدم فاستقبله سعد بن معاذ، فقال: يا سعد بن معاذ، الجنة ورب النضر، إني أجد ريحها من دون أحد. قال سعد: فما استطعت يا رسول الله ما صنع. قال أنس: فوجدنا به بضعا وثمانين ضربة بالسيف أو طعنة برمح أو رمية بسهم، ووجدناه قد قتل وقد مثل به المشركون، فما عرفه أحد إلا أخته ببنانه. قال أنس: كنا نرى -أو نظن- أن هذه الآية نزلت فيه وفي أشباهه: {من المؤمنين رجال صدقوا ما عاهدوا الله عليه

ژباړه: د انس رضي الله عنه څخه روايت دی هغه فرمايي چې زما تره انس بن نضر رضي الله عنه د بدر د معرکې نه وروسته پاتې شوی ؤ نو هغه وفرمايل ای د الله رسوله زه د اول هغه قتال څخه وروسته پاتې شوی يم چې ته پکې د مشرکانو سره جنګيدلی يې که چېرته زه الله د دې مشرکانو جنګ ته حاضر کړم نو الله به يې ښايي هغه څه چې زه يې (پدې جنګ کې) کوم پس کله چې د احد (د جنګ) ورځ شوه او مسلمانان شاته شول نو ويې فرمايل: يا الله زه تاته عذر پيش کوم د هغه څه چې دوی وکړل په دې سره يې خپل ملګري يادول (او بيا يې وفرمايل ای الله)او زه بيزاري اختياروم له هغه څه نه چې دوی وکړل يعني مشرکانو بيا جنګ ته ور مخکې شو نو (په دې وخت کې ورته) سعد بن معاذ په مخه ورغی نو (نضر) ورته وويل ای سعد بن معاذه جنت دی، زما دې د نضر په رب قسم وي زه يې بوی د احد د غر نه نزدې محسوسوم

نو سعد وفرمايل ای د الله رسوله زه وس نه لرم د هغه (عمل) چې هغه وکړ، نو انس وفرمايل چې مونږ بيا مونده چې په هغه باندې څه د پاڅه اتيا ګذارونه د توري او زخمونه د نيزو او د غشو وو او مونږ مونده که په داسې حال کې چې شهيد شوی ؤ، او مشرکانو مُثله کړی وو، نو پس هيڅ چا ونه پيژنده زمونږ څخه مګر خور د هغه له بندونو (د ګوتو) د هغه نه وپيژنده.

انس بن مالک رضي الله عنه وفرمايل مونږ به دا ويل او دا يقين مو وو چې دغه ايت د ده او د ده پشان خلکو باره کې نازل شوی چې (څه نارينه دي له مؤمنانو څخه ريشتوني ثابت شو په هغو وعدو کې چې کړي يې وي د الله سره)

التفكر والمراقبه
فی ذکر التطبيق والمناسبة

په دې حديث کې د بخاري رحمه الله شيخ او استاذ هغه محمد بن سعيد الخزاعی البصري رحمه الله دی چې په مردويه سره هم ملقب دی.

د تعديل او توثيق په برخه کې د ثقةٌ په صفت موصوف راوی دی، له ده څخه دغه حديث په سند سره له انس رضي الله عنه څخه نقل کوي او په صحيح البخاري کې له دې نه بغير د ده نه بل روايت نه دی شوی، بيا مناسبت د حديث د باب سره ښه ښکاره او جلی دی، په دې دول چې ترجمة الباب کې د جهاد له وجې نه د مجاهدينو متعلق ايت ذکر دی او په حديث کې د دې ايت مصداق او د نزول سبب ذکر دی چې دغه مقدار په حديث کې په وضاحت سره ذکر دی.

إغاثة المغيث في ذكر شرح الحديث

(غاب عمي انس بن نضر) يعني جنګ ته نه وو حاضر شوی صحيح مسلم کې الفاظ دي چې انس بن مالک د انس بن نضر د بدر نه د پاتې کيدو متعلق فرمايي چې فَشَقَّ عليه يعني نضر رضي الله عنه باندې دا د غزا نه وروسته پاتې کيدل ډيره درنه تمامه شوه بيا دا خبره چې دا څه عذر وو چې دا د بدر غزا ته نه وو حاضرشوی نو غالبا هغه وجه دا وه چې د بدر غزوه علی غير ميعاد وإرادة وه ځکه نبي صلي الله عليه وسلم او صحابه

كرام د ابوسفيان د قافلې د راتاوولو لپاره وتلي وو نه د جنګ په اراده، نو له دې وجې نه د تللو لپاره څه اعلان وغيره نه وو شوى جنګ بيا وروسته متعين شوو.

(غبت عن اول قتال ....) ځکه د بدر معرکه دا د رسول الله صلي الله عليه وسلم لومړۍ غزا وه او دا د هجرت د دويم کال په ابتدا کې شوى وه (لئن الله أشهدني قتال المشركين ليرين الله ما أصنع)

او دا د انس بن نضر هغه نذر منل دي چې د دې په پوره کولو کې په عهد بر قرار او ريشتونى پاتې شوى ؤ.

(فلما كان يوم أحد) يوم دلته مرفوع لوستلى شي ځکه د كان فعل تامه لپاره فاعل دى.

(وانكشف المسلمون) يعنې شكست وخوړلو مسلمانانو ځکه په بعضو نسخو کې دي چې (انهزم الناس) نو دا معنا د إنكشف ده (قال) يعني نضر بن انس: (اللهم إني أعتذر إليك مما صنع هؤلاء) يعنې په دې کې د خپلو مسلمانانو ورونو معذرت الله ته پيش كوي او دا د بشري تقاضا موافق خطا ګڼي چې هغه د جنګ څخه فرار كول وو نو الله نه ورته معذرت غواړي او دا د هغې خير خواهۍ له قبيلې څخه ده چې الله په مسلمانانو لازمه ګرځولى.

،(وأبرأ إليك مما صنع هؤلاء) او په دې کې د مشركانو د دې عمل نه چې په اسلام او مسلمانانو يې تورې له پوخونو څخه راوويستې بې زاري او برائت اعلانوي يعنې د دواړو په كار خوشحاله نه دى.

(ثم تقدم) يعنې جنګ ته ورمخکې شو (فاستقبله سعد بن معاذ) په دې وخت کې ورته سعد بن معاذ رضي الله عنه مخې ته راغى چې د مسند طيالسي په روايت کې دى چې هغه دغه وخت شكست خوړلى وو نو ده پرې

اواز وکړو چې (يا سعد بن معاذ) د هغه توجه يې قتال ته راګرځوله نو ورته يې وفرمايل (الجنة ورب النضر) جنت دلته منصوب دى يعنى [أريد الجنة] زه د جنت اراده لرم او نضر د ده د والد نوم وو او ورته يې وفرمايل (إني أجد ريحها) دغه بوى خو يا حقيقة وو چې دا په وجه د ده د كرامت نه الله تعالى ده ته بښودلو او يا يې په جهاد كولو او شهادت طلب كولو سره د الله په وعده داسې يقين وو چې له هغې نه يې

تعبير په دې سره وکړو (من دون أحد) دون لفظ دا ظرف مكان دى په ډيرو معنا ګانو سره راځي دلته د (عند) په معنا دى يعنې د أحد د غر په خوا کې (قال سعد: فما استطعت يا رسول الله ما صنع) دغه كيسه بيا سعد بن معاذ رضى الله عنه رسول الله صلي الله عليه وسلم ته وکړه او اعتراف يې وکړ چې د هغه د جرأت او بهادرۍ سره د قتال دغه اقدام زما د وسع نه بهر دى سره له دې چې هغه هم يو بهادر او جنګې صحابي وو.

(قال أنس:) ابن مالک (فوجدنا به بضعا وثمانين ضربة بالسيف أو طعنة برمح أو رمية بسهم،) ضربة دا تورې ګوزار ته وايي او د نيزې ګوذار ته طعنة وايي او رمية د غشي زخم ته وايي او په انس بن نضر رضى الله عنه کې دغه ټول جمع شوى وو (ووجدناه قد قتل وقد مثل به المشركون،) وروسته دا په شهيدانو کې موندل شوى چې مشركانو ترينه پوزه غوږونه وغيره کټ کړي وو چې دې ته مُثلَة ويلى شي.

(فما عرفه أحد إلا أخته) دا چې د ډيرو ګوزارونو او دغه ټول د مُثلى له کبله يې صورت بدل شوى وو نو هيچا نه پيژندلو چې دا څوک دى مګر دا چې خپلې خور وپيژنده.

(ببنانه) بند د ګوتې ته وايي چې خور له دې څخه معلوم كړو چې دا انس بن نضر دى (قال أنس:) يعنې بن مالک (كنا نرى -أو نظن-) دا شک د راوي دى نور دواړه هم معنا دي.

(أن هذه الآية نزلت فيه وفي أشباهه) يعنې په انس بن نضر کې او د هغه په هم صفتو او هم مثلو کې نازل شوى وو چې هغه دا ايت دى . {من المؤمنين رجال صدقوا ما عاهدوا الله عليه)

فوائدالحديث

[١] د نيک عمل د فوت كيدو پسې خفه كيدل پكار دي.

[٢] اوله معركه په اسلام کې هغه د بدر معركه وه.

[٣] نيک نذر پوره كول د الله په نزد د اجر باعث دى.

[٤] د أحد معركه دويمه معركه وه.

[٥] مسلمانان هم كله كله د شكست سره مخ كيږي.

[٦] شكست د بطلان او غالبيدل د حقانيت نښه او معيار نه دى.

[٧] كفارو سره په جنګ کې همت او ميړانه كول د مدحې لايق عمل دى.

[٨] صحابه د كرامت خاوندان وو.

[٩] الله تبارک وتعالى د صحابه كرامو په حق او ستائنه کې اياتونه نازل كړي.

[١٠] د صحابه كرامو سره عداوت او هغوى پسې بدې ردې ويل د قران تكذيب دى.

[١١] رسول الله صلى الله عليه وسلم بذات خود جنګونو ته حاضريدلو.

[١٢] حديث دليل دى په فضيلت د جهاد.

[١٣] حديث دليل دى په فضيلت د مجاهدينو.

[١٤] په جنګ کې سخت ځاى او د دشمن ګڼې ته ننوتل قابل د ستايش او عندالله د عزت او كرامت سبب دى.

[١٥] په جنګ کې نورو ته ترغيب وركول پكار دي.

[١٦] كه يو شهيد دومره زخمي شي چې له پيژندګلو څخه ووځي نو بيا هم د ده په فضيلت کې كمى نه راځي.

[١٧] مُثله كول ابتداءً دا د مشركانو عمل دى.

[١٨] وراره د تره نوم ايښودلى شي دغه ټول يو قريب رشته دار د بل قريب نوم ايښودلى شي په دې خفګان او غوصه نه ده پكار.

[١٩] په نذر کې د خپل ځان قرباني كول هم جايز دي. او دا په القاء النفس فى التهلكة کې نه راځي.

(٢٠) د كفارو د اعمالو نه نفرت او برأت او د مؤمنانو د خيرخواهي د صحابه وو معمول وو.

حديث ٢٢

رقم الحديث٢٨٠٤

- وقال: ”إن أخته -وهي تسمى الربيع- كسرت ثنية امرأة فأمر رسول الله -صلى الله عليه وسلم- بالقصاص، فقال أنس: يا رسول الله، والذي بعثك بالحق لا تكسر ثنيتها. فرضوا بالأرش وتركوا القصاص، فقال رسول الله -صلى الله عليه وسلم-: إن من عباد الله من لو أقسم على الله

لأبره.

ژباړه: او انس بن مالك وفرمايل بې شكه خور د هغه (يعنې دانس بن نضر) هغه الربيع نوميده دې د يوې زنانه ثنيا (مخامخ غټ) غاښ مات كړى وو رسول الله صلى الله عليه وسلم په قصاص باندې امر وکړو نو انس بن نضر وفرمايل اى د الله رسوله قسم په هغه ذات چې ته يې په حق راستولى يې د دې (الربيع) ثنيا غاښ به نه شي ماتيدلى نو (د زخم والا) په ديت باندې راضي شول او قصاص يې پريښود نو رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل بې شكه د الله په بنده ګانو کې داسې بنده ګان هم شته چې كه په الله قسم وکړي نو خاماخه يې پکې بري كړى.

التفكر والمراقبة

فى ذكر التطبيق والمناسبة

د دې حديث سند هم د پورته حديث سند دى. مناسبت يې د مخکې حديث سره په دې ډول دى چې مخکې حديث کې د انس بن نضر شجاعيت او د الله په لار کې د قربانۍ تذكره وشوه اوس دې حديث کې د هغه كرامت ذكر كيږي په دې جملې سره چې (ان من عبادالله لواقسم على الله لأبره) دغه ډول مخکې حديث کې د انس بن مالک عمه او د انس بن نضر خور مجمله تذكره وشوه، اوس دې حديث کې د هغې مزيد وضاحت او صفت ذكر كيږي.

إغاثة المغيث في ذكر شرح الحديث

(هى تسمى الربيع) ربيع په پيش د راء او په زبر د باء او د يا په كسرى او شدّ سره دا د انس بن مالک د عمى (تورۍ) او د انس بن نضر د خور نوم دى (ثنية) دا مخامخ پورتني دوه غټ غاښونو ته وايي چې يو ترينه الربيع رضي الله عنها بلې زنانه ته مات كړى وو (لاوالذى بعثک بالحق لاتكسر...) ظاهر د حديث نه معلوميږي چې دا يې وروسته له هغې نه وفرمايل چې كله رسول الله صلى الله عليه وسلم د هغې نه د قصاص اخيستو امر وفرمايه.

شفاء الأمراض

بدفع الشبهة والاعتراض

دلته خو صفا معلوميږي چې انس بن نضر رضي الله عنه د رسول الله صلى الله عليه وسلم مخالفت كړى دى ځکه رسول الله صلى الله عليه وسلم د قصاص امر كوي او هغه په قسم سره د دې نفې كوي نو جواب د دې اعتراض او شبهې دا دى چې دلته انس رضى الله عنه د دې امر مخالفت نه دى كړى د أهل السنة والجماعة علماء د دې باره کې

جواب دا کوي چې دا خبره انس بن نضر رضي الله عنه د الله تعالی د فضل او احسان په توقع او امید کې کړې دی چې که د دې خصم الله په دیت باندې راضي کړي او د قصاص نه تیر شي او همدا جواب د علامه بیضاوي او د مشکوة د شارح نه علامه قسطلانی نقل کړی دی [۴/۴۲۶]، بل جواب دا چې جمله فقهاء او محدثین د دې حدیث نه فضیلت د انس بن نضر رضی الله عنه ثابتوي نو معلومه شوه چې دا انس بن نضر د رسول الله صلی الله علیه وسلم او دا ډول د شریعت د حکم نه مخالفت نه دی کړی بلکې دا د هغه په الله او د هغه په فضل او احسان کامل یقین وو، بل دریم جواب دا هم دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم یې مدحه کړې ده او که بالفرض دا د هغه مخالفت وی نو هیڅ کله به یې هم ورته مدحه نه وې کړی (فرضوا بالأرش) ارش دیت ته وایي نو په مالي عوض راضي شول (وترکو القصاص) یعنې بعینه بدله اخیستل یې پرېښودل نو رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل (.....لأبره) دا د إبرار څخه دی قسم پوره کولو ته وایي او د دې ضد او نقیض هغه (الحنث) دی قسم کې پاتې راتللو ته وایي.

فوائد الحديث

[۱] مسلمانان هم کله کله خپلو کې به جنگ او جدل مبتلا کیږي په دې سره د اسلام له دائرې څخه نه وځي ترڅو دغه کار حلال ونه گڼي.

[۲] په جگړو او اختلافاتو کې به فیصله په کتاب او سنت باندې کیدلی شي.

[۳] د غاښ مقابل کې به غاښ ماتیدلی شي.

[۴] که چیرته جانب مقابل د غاښ په ځای په بل عوض راځي شي نو دا هم جایز ده.

[۵] داسې امورو کې که د قاضي د قصاص د حکم او فیصلې نه بعد هم خصمین په دیت راضي شي نو جواز لري او قبلول یې پکار دي.

[٦] په خپلو أقرباء او نسبي خپلوانو باندې شفقت پکار دی.

[٧] الله د خپلو بنده گانو عزت کوي.

[٨] په الله تعالی کامل او راسخ یقین او توکل پکار دی.

د اسلامي دولت د رسمي وياند مجاهد شيخ
أبو عمر المهاجر (حفظه الله تعالى) د غږيزې وينا چې عنوان يې دى:
(ټول د الله په رسۍ منګولې ولګوئ او اختلاف مه کوئ) څـــخه

غورځن

که چيرې ستاسې هدف هغه کسان وي چې د اسلامي دولت په ساحو کې و او د حدودو په سبب ووژل شول، نو هغوى يا د دين نه د ردت په سبب، يا د قتل کولو نه وروسته د قصاص حد او يا تعزيرا وژل شوي دي او دا ټول د شرعي محاکمو له لارې پرې فيصله شوې ده، چې د الله له لوري په نازل شوې وحې فيصله کوي، مونږ د مرتد په وژلو، د غل د لاس په غوڅولو او د زناکار په سنګسارولو نه شرمېږو، که چيرې تاسې شرمېږئ والعياذ بالله، يا له ملګرو ملتونو ډارېږئ او يا يې قوانينو ته له دې ډاره ژمن ياست چې د ترهګرو په ليست کې مو حساب نه کړي، نو دا د الله دين دى او مونږ ته الله په پراخه ځمکه قدرت راکړى چې په ميليونونو مسلمانان او نور په کې اوسيږي، مونږ پرې د الله په قانون فيصله کوو او د الله تعالى شريعت په دغه سيمو کې قائموو.

مؤسسة العزائم
الإعلامية

سِيرَةُ النَّبِيِّ ﷺ

صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَعَلَى آلِهِ وَسَلَّمَ

سیرت اووم درس

بسم الله الرحمن الرحيم

الحمد لله رب العالمين والصلاة والسلام على سيد الأنبياء والمرسلين وعلى آله وصحبه أجمعين، أما بعد:

محترمو مسلمانانو ورونو، د نبي علیه السلام د سیرت مبارکه لړۍ د صحیح احادیثو په رڼا کې شروع وه، تیر درس کې تر دې ځای پورې خبره رسیدلې وه، چې نبي علیه السلام د قریشو حلف الفضول ترون ته حاضر شوی و، هغه ترون چې د مظلومانو سره کومک کولو لپاره رامنځ ته شوی و، دغه ترون د عبد الله بن جدعان په کور کې منعقد شوی و.

د عبد الله بن جدعان حالت:

د سیرت کتابونو کې د عبد الله بن جدعان خصوصي تذکره کیږي، دا د قریشو مشهور سخي او مشر و، د حلف الفضول ترون هم د ده په کور کې رامنځ ته شو. د ابو بکر رضي الله عنه د قبیلې و. نو عائشه رضي الله عنها یوه ورځ د نبي علیه السلام نه تپوس وکړو.

عَنْ عَائِشَةَ قُلْتُ: يَا رَسُولَ اللهِ، ابْنُ جُدْعَانَ كَانَ فِي الْجَاهِلِيَّةِ يَصِلُ الرَّحِمَ، وَيُطْعِمُ الْمِسْكِينَ، فَهَلْ ذَاكَ نَافِعُهُ؟ قَالَ: " لَا يَنْفَعُهُ، إِنَّهُ لَمْ يَقُلْ يَوْمًا: رَبِّ اغْفِرْ لِي خَطِيئَتِي يَوْمَ الدِّينِ " صحيح مسلم.

ژباړه: عائشه رضي الله عنها وایي: ما وویل اې د الله رسوله ! ابن جدعان خو به په جاهلیت کې خپلولي پالله، مسکین ته به یې خوراک ورکوو، آیا دا به ورته فایده ورکړي ؟ هغه وفرمایل: دا به ورته فایده ورنه کړي، هغه یوه ورځ هم دا نه و ویلي چې ربه د بدلې په ورځ زما ګناهونه معاف کړه.

عزتمندو لوستونکو!

چې د یو انسان عقیده نه وي جوړه، د طاغوت تابعداري کوي، طاغوتي نظام ته خپلې پریکړې وروړي، نو که دا د وخت حاتم طائي او عبد الله بن جدعان هم شي، یا هم د وخت بزرګ شي، ټوله شپه او ورځ رب ته په سجده پریوځي، یا هم زرګونه خلک پدې لار کې د لاسه ورکړي، خپل کور او کلی هم پریږدي، ۲۰ کاله یا زیات وکړ مبارزه هم وکړي نو دا صدقې، مونځونه، مبارزه او نور عبادات ورته هیڅ فایده نه ورکوي.

دې وجې نه د طاغوت ملګرتیا څخه ډډه پکار ده. طاغوتي تنظیمونو بیعت څخه اجتناب پکار دی، څکه چې دغه تنظیمونو کې داخلیدو له امله انسان د طاغوت لښکر حسابیږي، او په خپله لاسه د اسلام ونه وهل دي، نو ډیر احتیاط پکار دی چې اعمال مو برباد نشي. ددې فتنو څخه د خلاصې لار امام الانبیاء علیه السلام د مسلمانانو جماعت او د مسلمانانو خلیفه بیعت ښودلي. لهذا د اسلامي خلافت کاروان څخه وروسته مه پاتې کیږئ.

د نبي علیه السلام تجارت او د خدیجه رضي الله عنها سره تعارف:

د نبي علیه السلام ژوند مرحله په مرحله روان و، تر دې چې د ځوانۍ په درشل یې قدم کیښود، د ابو طالب په کور کې اوسیدو او د مکې خلکو ګډې او بیزې به یې څرولې، د غربت ژوند یې تیراوو، چې کله ځوان شو، نو ابو طالب کورنۍ نفر هم زیات وو، اقتصادي مشکل زیات شو. نبي علیه السلام هم د ګډو بزو څرولو څخه بل ګټور کار ته فکر وکړو، سیرت د ابن اسحاق لیکلي دي:

خدیجه بنت خویلد رضي الله عنها د مال، شرف او عزت خاونده میرمن وه، خپل مال به یې د تجارت لپاره خلکو ته ورکاوه، او د مضاربت د اصولو په اساس به یې هغوی ته یوه برخه ټاکله، هغه وخت زیاترو قریشو د تجارت کاروبار کاوه، او کله چې خدیجه رضي الله عنها د رسول اکرم صلی الله علیه وسلم د ریښتینولی، امانتداری، سپیڅلتیا، کرم او ښو اخلاقو نه خبره شوه، نو احوال یې ورولیږه چې ددې مال د تجارت لپاره شام ته یوسي او ده ته به له نورو خلکو نه زیاته برخه وټاکي، او خپل غلام میسره به هم ورسره واستوي.

رسول الله صلی الله علیه وسلم د خدیجې رضي الله عنها دا پیشنهاد ومانه، او له میسره سره یوځای د تجارت په خاطر شام ته وخوځید.

نبي علیه السلام په لار کې د یوې ونې د لاندې دمه وکړه، چې په خوا کې یې د یو نصراني بزرګ عبادتخانه وه، هغه بزرګ دې میسره ته راښکاره شو او تپوس یې تري وکړو: دا د ونې لاندې دمه کونکی سړی څوک دی ؟ هغه ورته وویل: دا د حرم اوسیدونکی دی. راهب ورته وویل: ددې ونې د لاندې یواځې نبي کیني، بیا نبي علیه السلام خپله سودا خرڅه کړه، او بعضې سودا یې واخسته، او د مکې په لور راوګرځید.

میسره وایي چې پدې سفر کې به چې کله ګرمي سخته شوه، نو هغه به دوه ملائک لیدل چې په نبي علیه السلام به یې سیوری کوو، او نبي علیه السلام به په خپل اوښ باندې ناست و. کله چې نبي علیه السلام مکې ته راغی او د خدیجې مال کې یې دوه چنده ګټه کړې وه او هغې ته خپل غلام میسره د سفر ټول حالات بیان کړل، د نصراني بزرګ خبره یې هم ورته ذکر کړه، او په نبي علیه السلام باندې ددوه ملائکو سیوری کول یې هم ورته ذکر کړو.

خدیجه رضي الله عنها پوهه زیرکه او شریفه زنانه وه، او الله عزوجل په خدیجې رضي الله عنها سره د نبي علیه السلام د اکرام اراده کړې وه.

نو کله چې میسره ورته ټول خبر ورکړو نو خدیجې رضي الله عنها نبي علیه السلام ته جواب ولیږو: اې د تره زویه! زه تا سره نکاح کول غواړم، څکه چې تا سره قرابت لرم، او ته په خپل قوم کې عزت مند سړی یې، د هغوی په نزد ستا امانت ثابت دی، ښایسته اخلاق او ریښتونی یې. دا داسې وخت و چې خدیجه رضي الله عنها د قریشو د غوره نسب خاونده وه، پدوئ کې عزتمنده زنانه وه، او زیاته مالداره وه، په قوم کې یې هر کس هغې سره د نکاح حرص کاوه.

تعلیق: امام ابن اسحاق په خپل سیرت کې دا واقعه پرته له کوم سنده ذکر کړې ده، او ابن سعد په الطبقات ج ۱/ ص ۱۵۵ کې د واقدي په روایت سره ذکر کړې ده، او واقدي متروک راوي دی.

د خدیجه رضي الله عنها سره نکاح:

خدیجه د خویلد بن أسد بن عبد العزی بن قصي بن کلاب لور وه، او د مور نوم یې فاطمة ابنة زید بن الأصم بن رواحة و.

کله چې د خدیجه رضي الله عنها د تجارت د لارې نبي علیه السلام سره پیژندګلوي وشوه، په خپل مال کې یې ګټه ولیده، د میسره د خولې یې د سفر عجیب واقعات واوریدل، د نبي علیه السلام صدق او امانت یې راپه زړه کړو، نو د نکاح پیغام یې ولیږو. او دا د صحابه وو سنت دي چې کوم مناسب ځای د خپل خور لور لپاره وګوري، نو خپله ورته پیشنهاد کوي، دا کومه د شرم او عیب خبره نه ده، بعضې ساده ګان دا خبره عیب ګڼي، خپله خو دا کار نه کوي، که چیرې بل کوم مسلمان داسې کار وکړي، هغه ملامتوي او بد رد ورپسې وایي.

مفسر قرطبي ددې (إِنِّي أُرِيدُ أَنْ أُنكِحَكَ) الْآيَةَ. د لاندې لیکي: پدې آیت کریمه کې د ولي لخوا خپل لور په یو کس باندې وړاندې کولو جواز مسئله پرته ده. او دا کلک سنت دي. د مدین دغه صالح انسان خپلې لور په اړه د

بني اسرائيلو صالح انسان (موسی) عليه السلام ته وړانديز وکړو، عمر بن خطاب خپله لور حفصه په ابو بکر او عثمان باندې وړاندې کړې وه، نبي عليه السلام ته يوې زنانه خپله ځان هبه کولو وړانديز کړی و، نو ولي لخوا خپله خور لور يو چاته وړاندې کول ښه کار دی، او دغه رنګ د زنانه لخوا خپل ځان (نکاح پيغام) يو نيک سړي ته وړاندې کول، د سلف صالحينو اقتداء له امله ښه کار دی. تفسير القرطبي (۱۳ / ۲۷۱)

د صحيح البخاري روايت دی، انس رضي الله عنه فرمايي چې يوه زنانه راغله او نبي عليه السلام ته يې خپل ځان وړاندې کړو، چې اې د الله رسوله! آيا ته ما ته حاجت لرې؟ د انس رضي الله عنه لور وويل: افسوس دا څومره بې حيا ميرمن وه؟ هغه ورته وويل: دغه ميرمن له تا غوره ده. نبي عليه السلام په اړه يې رغبت درلود ځکه يې ورته ځان وړاندې کړو.

دلته هم دا خبره واضحه شوه چې انس رضي الله عنه د خپلې لور په خبره رد وکړو، چې د يو کس ته د هغه د نيکۍ له امله يوه زنانه خپل ځان وړاندې کولای شي، يعني د نکاح پيغام ليږلی شي چې ما سره نکاح وکړه.

امام بخاري په خپل کتاب کې دا باب تړلی دی: باب عرض المرأة نفسها على الرجل الصالح.

او کومه ميرمن چې دنياوي لالچ له امله يو سړي ته د نکاح پيغام ورليږي نو دا ډير بد او شرمونکی کار دی. [عمدة القاري ۲۰ / ۱۱۳]

نن سبا اکثره عوام مالداره سړي ته پيشنهادونه کوي، نو دا ډير بد عادت دی، او داسې د خير والا خلک کم دي چې يو نيک مومن او مجاهد ته د هغه د نيکۍ له امله خپله خور لور وړاندې کړي.

امام ابن اسحاق [پرته له کوم سنده] وايي: کله چې خديجه رضي الله عنها نبي عليه السلام ته د نکاح پيغام وليږو، نو هغه خپلو ترونو سره مشوره وکړه، نو حمزه بن عبد المطلب ورسره لاړ تر دې چې خويلد بن اسد باندې يې جرګه وکړه، او هغه ورته په نکاح ورکړه. د واده څخه وروسته ورته الله عزوجل بچيان ورکړل، چې دغه وخت لا وحي راتلل نه و شروع شوي. ټول بچيان يې دا وو: زينب، ام کلثوم، رقيه، فاطمه، قاسم، طاهر او طيب. هر چې قاسم، طاهر او طيب وو، هغوی له اسلام راتللو زمانې څخه مخکې وفات شول، او نبي عليه السلام خپله کنيه هم د قاسم په نوم وه، [بعضې وايي دوه زامن يې و: قاسم او عبد الله (طيب او طاهر د عبد الله لقبونه و)] او هر چې لورګانې يې وې، هغوی د اسلام زمانه وموندله، نبي عليه السلام سره يې هجرت وکړو، تابعداري يې ورله وکړه او ايمان يې پرې راوړ.

بل خوا واقدي وايي چې د خديجه رضي الله عنها پلار خويلد بن اسد د فجار جنګ څخه مخکې وفات شوی و، نو دا خپل تره عمرو بن اسد په نکاح ورکړې وه. (طبقات ابن سعد 1/ 132 - 133) خو بيا نور مورخين وايي چې خويلد بن أسد په حرب الفجار کې د خپل قوم مشر و. (البلاذري: أنساب الأشراف 1/ 102 ومحمد بن حبيب: المحبر 17). او حافظ ابن حجر هم دا تاييدوي چې دا خپل پلار په نکاح ورکړې وه. (فتح الباري 7/ 134).

نبي عليه السلام د خديجې رضي الله عنها کور ته راغی، دلته يې واده وکړ او خپل ژوند يې پيل کړ، همدې کور کې ورته الله عزوجل ټول اولادونه ورکړل. په همدې کور کې خديجه رضي الله عنها وفات شوه، او نبي عليه السلام تر هجرت وخت پورې دلته اوسيدو. کله چې يې هجرت وکړو نو بيا ترې خپل تره ځوي عقيل بن أبي طالب د پيسو په بدل کې واخيستو. [أخبار مکة للفاکهي (۴/ ۷)]

دې نه دا مسئله هم ثابته شوه چې د ميرمنې شخصي کور کې سړی اوسيدلای شي، او دا کوم بد کار نه دی.

د واده پرمهال د خديجه رضي الله عنها عمر:

د واده پرمهال د خديجه رضي الله عنها عمر په اړه په عموم کې زياته مشهوره ده چې څلويښت کلنه وه، نو راځئ چې پدې اړه د علماؤ اقوال وګورو:

۱.ابن اسحاق وايي خديجه رضي الله عنها دغه وخت د ۲۸ کلونو وه. [مستدرک الحاکم 3/ 182 من کلام ابن إسحاق دون إسناد]

عبد الله بن عباس رضي الله عنهما څخه هم داسې قول نقل دی، چې د خديجه رضي الله عنها عمر ۲۸ کاله و. [البداية والنهاية ۵ / ۳۱۵]

۲.واقدي وايي چې خديجه رضي الله عنها عمر د واده پرمهال ۴۰ کال و. [طبقات ابن سعد 8/ 17.] خو مخکې تکرارا ذکر شو چې واقدي متروک راوي دی.

۳.حافظ ابن کثير وايي چې د خديجه رضي الله عنها عمر هم ۲۵ کاله و. [البداية والنهاية ج ۲ / ص ۳۶۰]

لهذا دا څلويښت کلنۍ قول د يو متروک راوي قول دی، خو خلکو کې زيات مشهور دی، چې حقيقت کې کمزوری دی.

خديجه رضي الله عنها په دغه وخت کې ځوانه وه، او شايد چې ابن اسحاق قول سم وي، چې ۲۸ کلنه شاوخوا به وه، دا د قرائنو څخه هم معلوميږي. ځکه د نبي عليه السلام څخه مخکې يې دوه خاوندان کړي وو، ابن اسحاق وايي:

لمړی: خاوند يې عَتِيق بْنِ عَائِذٍ الْمَخْزُومِي و، د هغه څخه يې يوه لور وشوه، چې هند نوم يې و. دويم: خاوند يې أَبُو هَالَةَ مَالِكُ بْنُ نَبَّاشِ و، چې د بَنِي عَبْدِ الدَّارِ بْنِ قُصَيَ حليف و. ددې څخه يې درې زامن پيدا شول، هند، هالة او طاهر. يا هم بعضې علماؤ ويلي چې اول خاوند يې ابو هاله و او دويم يې عتيق و.

د خديجه رضي الله عنها دا درې زامن او يوه لور ټول د صحابيت په منقبت فايز وو. هند بنت عتيق بن عائذ امام دار قطني په کتاب الاخوة کې ذکر کړې ده، او ويلي يې دي: چې هغې اسلام راوړی و او بيا يې واده کړی و. ابن سعد وايي: د هند تره زوي صيفي بن أميه بن عائذ په نکاح کړې وه، چې د محمد په نوم زوی يې وزيږوه، د محمد بچو ته به د خديجه رضي الله عنها له امله خلکو د طاهرې اولاد ويل. [الاصابة ۸ / ۳۴۷]

دويم بچی يې د ابو هاله زوی هند و، د لور نوم يې هم هند و او د دې زوي نوم يې هم هند و، دا صحابي و، نبي عليه السلام څخه يې روايات هم کړي دي، چې فاطمې رضي الله عنها زوی حسن ترې روايت کړي دي، امام ترمذي، بغوي، طبراني او نورو دا احاديث راوړي دي. زبير بن بکار وايي: چې د جمل جنګ په ورځ د علي رضي الله عنه په پلوۍ کې ووژل شو. [الاصابة ٦ / ۴۳٦]

دريم بچی يې د ابو هاله څخه دويم زوي هالة و، امام ابن حبان وايي دا هم صحابي دی. [الاصابة ٦ / ۴۰٦]

څلورم بچی يې د ابو هاله دريم زوي طاهر و، دا هم صحابي و، نبی عليه السلام په يمن باندې عامل هم ټاکلی و. [أسد الغابة ۲ / ۴۵۵]

دا څلور بچيان يې وو، خو عربو به زنانه زر ودولې، نو څنګه د متروک راوي په قول څلويښت کلو ته ورسيده ؟ او بيا څلويښت کلنۍ څخه وروسته يې شپږ بچي شوي دي ؟؟ سره ددې چې زنانه عموما ۵۰ کلنۍ ته ورسيږي، بيا نور بچي نه راوړي.

صحيح خبره دا ښکاري چې عمر يې نبي عليه السلام سره نږدې وو. دغه د عبد الله بن عباس رضي الله عنهما او امام محمد بن اسحاق چې د مغازي امام دی، د ده قول صحيح ښکاري چې ۲۸ شاوخوا وه. والله تعالی أعلم.

دا يوازې د رواياتو تحقيق و، نور صحابه وو وخت کې دا رواج و، ځوان هلک به د ډير عمر زنانه هم په نکاح کوله. واضحه مثال يې د زيد بن حارثه رضي الله عنه أم أيمن په نکاح کول دي، ام ايمن چې نبي عليه السلام د پلار وينځه وه، او نبي عليه السلام يې وړوکی غټ کړی دی، او بيا زيد رضي الله عنه د نبي عليه السلام د زوي په ځای و، نو تاسې سوچ وکړئ چې أم أيمن د زيد رضي الله عنه څخه څومره مشره وه؟

او زيد رضي الله عنه يې دويم خاوند و، لمړی خاوند يې عبيد بن حارث خزرجي و، چې هغه نه يې أيمن زوي پيدا شو، دا أيمن صحابي و، هجرت او جهاد کې يې ونډه درلوده، تر دې چې حنين په ورځ شهيد شو. او د زيد بن حارثه څخه ورته الله عزوجل اسامه بن زيد ورکړو، چې نبي عليه السلام ته ډير زيات ګران و. [سير أعلام النبلاء ۲/ ۲۲۴]

دغه شان صحابه وو به کونډې زنانه هم په نکاح کولې، لکه اکثر زمونږ ټولنه کې کونډه په نکاح کول عيب ګڼل کيږي، خو تاسې وګورئ نبي عليه السلام کونډه زنانه په نکاح کړې ده، چې څلور بچيان يې وو، او دوه خاوندان يې وفات شوي وو، دا يې دريم خاوند و.

ابو جعفر البغدادي به کتاب المحبر کې د هغه زنانه وو نومونه ذکر کړي دي چې هغوی درې خاوندان کړي دي، او دغه جدول کې يې ډيرې صحابيات او غوره ميرمنې ذکر کړي دي. حافظ ابن کثير وايي: د نبي عليه السلام لور زينب، ابو العاص بن الربيع په نکاح کړه، چې دا د خديجه رضي الله عنها خوری و، دده نه يې دوه بچيان پيدا شول، بيا

د ابو العاص نه وروسته يې دويم خاوند مغيره بن نوفل بن حارث بن عبد المطلب وکړ. [البداية والنهاية] حافظ ابن کثير بل ځای ليکي: د فاطمې او علي رضي الله عنهما لور ام کلثوم وه، نو عمر رضي الله عنه په نکاح کړه، او د زيد په نوم ځوی يې ترې پيدا شو، د هغه د وفات نه وروسته د خپل تره جعفر ځامنو، عون، د هغه د وفات نه وروسته محمد، د هغه د وفات نه وروسته د هغوی ورور عبد الله په نکاح کړه، او هم د هغه سره وفات شوه. [البداية والنهاية]

دا وګورئ، د نبي عليه السلام لمسۍ، د علي او فاطمې رضي الله عنهما لور ده، دومره د اعلی شان والا ميرمن ده، څلور خاوندان يې کړي دي، چې لمړی خاوند يې د وخت خليفه عمر بن خطاب دی، خو چا هم هغه ملامته نه کړه، چې دا څه کوې، د لومړي خاوند هغه بهترينه زندګي او مينه دې هيره کړه ؟ نه بلکې د هغې دي کار باندې ټول صحابه رضا وو، دا دوه مثالونه مو د نمونې لپاره د نبي عليه السلام د کورنۍ څخه ذکر کړل، نور خو دا سلسله ډيره اوږده ده، او اختصار له امله به ترې مونږ اجتناب وکړو، خو دا درس مونږ تاسې ته راکوي چې بايد د فحشاء او ګناهونو پر ځای د حلالې نکاح رواج عام کړو، زمونږ کونډې هم نکاحونه وکړي، او زمونږ ځوانان هم بايد د کونډو نکاحونو څخه انکار ونه کړي.

نبي عليه السلام د خديجه رضي الله عنها سره څومره وخت تير کړی و ؟

تقريبا ۲۵ کلنۍ کې نبي عليه السلام واده کړی و، او ټول عمر يې ٦٣ کاله و، د ژوند آخري لسيزه يې مدينه کې تيره کړه، نو مکه کې د ٥٣ کالو په عمر و، او د هجرت نه ۳ کاله مخکې خديجه رضي الله عنها وفات شوه، لکه د صحيح البخاري روايت کې رازي:

عروه وايي: «تُوُفِّيَتْ خَدِيجَةُ قَبْلَ مَخْرَجِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِلَى الْمَدِينَةِ بِثَلَاثِ سِنِينَ. صحيح البخاري 7/ 224 كتاب مناقب الأنصار. ژباړه: د نبي عليه السلام مدينې ته وتلو څخه درې کاله مخکې خديجه وفات شوه.

نو هغه وخت محمد رسول الله عليه السلام ٥٠ کلن و، ددې حساب مطابق نبي عليه السلام خديجې رضي الله عنها سره تقريبا ۲۵ کاله تير کړي و.

د خديجه رضي الله عنها مقام:

په اسلام کې د خديجه رضي الله عنها ډير لوړ مقام دی، په نبي عليه السلام باندې يې تر ټولو مخکې ايمان راوړی و، او بيا هغه سره يې د نبوت دروند امانت سر ته رسولو کې نه هيريدونکې ستړياوې ګاللي دي، چې وروسته به يې بيان راشي، ان شاء الله. خو دلته به مختصره تذکره وکړو. حديث د مسلم کې رازي، عائشه رضي الله عنها فرمايي: خديجه رضي الله عنها په ژوند کې نبي عليه السلام بل واده نه و کړی.

عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، قَالَ: خَطَّ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي الْأَرْضِ أَرْبَعَةَ خُطُوطٍ، قَالَ: " تَدْرُونَ مَا هَذَا؟ " فَقَالُوا: اللهُ وَرَسُولُهُ أَعْلَمُ. فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " أَفْضَلُ نِسَاءِ أَهْلِ الْجَنَّةِ: خَدِيجَةُ بِنْتُ خُوَيْلِدٍ، وَفَاطِمَةُ بِنْتُ مُحَمَّدٍ، وَآسِيَةُ بِنْتُ مُزَاحِمٍ امْرَأَةُ فِرْعَوْنَ، وَمَرْيَمُ ابْنَةُ عِمْرَانَ " مسند أحمد واسناده صحيح.

ژباړه: نبي عليه السلام په ځمکه کې څلور خطونه کش کړل، بيا يې وفرمايل: تاسې پوهيږئ دا څه دي ؟ هغوی وويل: الله او د هغه رسول خه پوهيږي. نو رسول الله صلی الله عليه وسلم وفرمايل: جنتي زنانه وو کې تر ټولو غوره خديجه بنت خويلد، فاطمه بنت محمد، آسيه بنت مزاحم د فرعون ميرمن او مريم بنت عمران ده.

بل متفق عليه حديث کې هم راغلي :

«إِنَّ اللَّهَ أَمَرَنِي أَنْ أُبَشِّرَ خَدِيجَةَ بِبَيْتٍ فِي الْجَنَّةِ مِنْ قَصَبٍ، لَا صَخَبَ فِيهِ وَلَا نَصَبَ». أخرجه البخاري في العمرة باب 11، والتوحيد باب 35، ومسلم في فضائل الصحابة حديث 71، 72.

ژباړه: الله جل جلاله ما ته امر کړې چې زه خديجه رضي الله عنها ته په جنت کې د ملغلرې کور زيرې ورکړم، چې شور او ستړيا به په کې نه وي.

د جنتي زنانه وو کې تر ټولو غوره زنانه وو په ډله کې ولې حساب شوه ؟ ځکه چې هر وخت به د دين لپاره ستړې وه، د قوي عزم خاونده وه، ددين کارونو کې يې خاوند ته داډ ورکوو. د هغه يې پوره بوج سپک کړی و.

د نبوت څخه مخکې د نبي عليه السلام صدق او امانت:

ابن اسحاق وايي کله چې نبي عليه السلام ۳۵ کلنۍ ته ورسيد، نو قريشو د کعبې بيا ودانول پيل کړل، [او دا ځکه چې کعبې هغه وخت له انساني قد نه د لږ شانته لوړې څلور ديوالۍ شکل درلود. د اسماعيل عليه السلام په زمانه کې د کعبې اوچتوالی نهه ګزه و، خو چت يې نه درلود، او له همدې نه په استفادې سره د کعبې په منځ کې کيښودل شوې خزانه غلو ووهله، ددې ترڅنګ ډيره زمانه وربانديې تيره شوې وه، تعمير يې خراب شوی او ديوالونه يې چاوديدلي وو. او په همدې کال يعنې له بعثت نه پنځه کاله مخکې يو ډير لوي سيلاب راغی چې مخه يې د کعبې په خوا وه، کعبه يې ډيره کمزورې کړه او هر وخت ددې احتمال موجود و چې پر ځمکه راپريوزي، نو قريش مجبور شول ددې مبارکې خونې د مقام او منزلت د بقا په خاطر هغه بيا ودانه کړي] ابن هشام خپل سيرت کې وايي: ابو وهب خلکو ته وويل چې د کعبې په بيا ودانولو کې به يوازې حلالې پيسې لګوي، پدې کې به د رنډۍ اجرت، د سود مال او په ظلم اخيستل شوې پيسې بالکل نه استعماليږي. د بيا ودانولو لپاره ضروري وه چې پخوانۍ تعمير ونړول شي، خو هيچا هم دا جرات نشو کولای چې کعبه ورانه کړي، ترڅو وليد بن مغيره المخزومي په ړنګولو پيل وکړ، خلکو وکتل چې څه زيان ور ونه رسيد، نو ټولو کار پيل کړ. هرې قبيلې ته خپله خپله برخه ورکړل شوه، هرې قبيلې بيلې بيلې تيږې راوړې او کار پيل شو. باقوم نومې رومي معمار د کعبې معماري کوله، خو کله چې خبره د حجر اسود کيښودو ته ورسيده ددوی ترمنځ اختلاف راولاړ شو چې دا شرف به د چا په برخه کيږي ؟

مستدرک د امام حاکم دا روايت راوړی، عبد الله بن سائب رضي الله عنه وايي: وَإِنَّ قُرَيْشًا اخْتَلَفُوا فِي الْحَجَرِ حِينَ أَرَادُوا أَنْ يَضَعُوهُ حَتَّى كَادَ أَنْ يَكُونَ بَيْنَهُمْ قِتَالٌ بِالسُّيُوفِ، فَقَالَ: اجْعَلُوا بَيْنَكُمْ أَوَّلَ رَجُلٍ يَدْخُلُ مِنَ الْبَابِ، فَدَخَلَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالُوا: هَذَا الْأَمِينُ، وَكَانُوا يُسَمُّونَهُ فِي الْجَاهِلِيَّةِ الْأَمِينَ، فَقَالُوا: يَا مُحَمَّدُ، قَدْ رَضِينَا بِكَ، " فَدَعَا بِثَوْبٍ فَبَسَطَهُ وَوَضَعَ الْحَجَرَ فِيهِ، ثُمَّ قَالَ لِهَذَا الْبَطْنِ، وَلِهَذَا الْبَطْنِ - غَيْرَ أَنَّهُ سَمَّى بُطُونًا -: لِيَأْخُذْ كُلُّ بَطْنٍ مِنْكُمْ بِنَاحِيَةٍ مِنَ الثَّوْبِ، فَفَعَلُوا، ثُمَّ رَفَعُوهُ، وَأَخَذَهُ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَوَضَعَهُ بِيَدِهِ.

ژباړه: او يقينا قريشو د حجر اسود کيښودو په اړه اختلاف وکړو، نزدې وو چې ترمنځ يې تورو سره جنګ وشي، هغه عبد الله بن سائب وويل: په دروازې باندې لومړی راتلونکی کس خپل منځ کې ثالث وټاکئ. نو نبي عليه السلام [تر ټولو لمړی] راننوت، هغوی وويل: دا امانت دار دی. او هغوی به جاهليت کې نبي عليه السلام ته امين ويلې. نو ويې وويل: اې محمده، [صلی الله عليه وسلم] مونږ په تا راضي يو. نبي عليه السلام يوه جامه راوغوښته، بيا يې خوره کړه او حجر اسود يې پکې کيښودو. بيا يې دې قبيلې او دې قبيلې ته وويل – د قبيلو نومونه يې واخيستل – هره قبيله دې د جامې يو طرف ونيسي، هغوی ټولو دا کار وکړ، بيا ټولو هغه جګ کړ، او نبي عليه السلام هغه حجر اسود راواخستو او بيا يې په خپل لاس باندې کيښودو [نصب کړو].

عَنْ عَلِيِّ بْنِ أَبِي طَالِبٍ، فِي بِنَاءِ الْكَعْبَةِ قَالَ: لَمَّا رَأَوَا النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَدْ دَخَلَ مِنَ الْبَابِ، قَالُوا: قَدْ جَاءَ الْأَمِينُ. [المعجم الأوسط للطبراني سنده حسن. ومسند أحمد سنده حسن لذاته].

ژباړه: علي رضي الله عنه هم د کعبې د جوړولو په اړه وايي کله چې هغوی نبي عليه السلام وليد چې په دروازه باندې راننوت، هغوی وويل: يقينا امانت دار کس راغی.

مسلمانانو ورونو! دا قريش وو چې نبي عليه السلام ته به يې صادق او امين ويل، د هغه په صداقت او امانت يې دومره اعتراف کوو چې د خپلو شخړو پريکړې به يې په هغه کولې خو کله چې نبوت ورته ورکړل شو، د توحيد دعوت يې شروع کړو، بتانو باندې يې ردونه شروع کړل، د اسلامي نظام قيام غږ يې پورته کړ نو هغه خلک چې د نبي عليه السلام عزتونه به يې کول، او صفتونه به يې کول، ټول ترې خفه شو، او ددښمنۍ په صف کې ودريدل، او په هر شکل يې دا کوشش کوو چې د مبارزې مخه يې ډب کړي.

همدا رنګ اسلامي خلافت مجاهدين و، مخکې يې ټولو صفتونه کول، حتی د القاعدې مشر ظواهري هم خليفه المسلمين ته الشيخ الفاضل

ويل خو کله چې د اسلامي خلافت د قيام خبره راغله او ظواهري څخه د مشرۍ تللو خبره شوه نو بيا د اسلامي خلافت دښمن وگرځيدو او هغه مشرکانو طالبانو سره يې بيعت وکړو، چې دا دې وس يې د څو ډالرو په عوض په امريکايانو ورخرڅ کړو او د ډرون بريد ښکار وگرځيد. د کعبې جوړولو کې نبي عليه السلام هم کار کړی دی. جابر بن عبد الله رضي الله عنه فرمايي: «أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ يَنْقُلُ مَعَهُمُ الحِجَارَةَ لِلْكَعْبَةِ وَعَلَيْهِ إِزَارُهُ»، فَقَالَ لَهُ العَبَّاسُ عَمُّهُ: يَا ابْنَ أَخِي، لَوْ حَلَلْتَ إِزَارَكَ فَجَعَلْتَ عَلَى مَنْكِبَيْكَ دُونَ الحِجَارَةِ، قَالَ: «فَحَلَّهُ فَجَعَلَهُ عَلَى مَنْكِبَيْهِ، فَسَقَطَ مَغْشِيًّا عَلَيْهِ، فَمَا رُئِيَ بَعْدَ ذَلِكَ عُرْيَانًا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ» صحيح البخاري ومسلم.

ژباړه: نبي عليه السلام د هغوی سره د کعبې لپاره تيږې وړلې او لنگ يې اچولی و. نو د هغه کاکا عباس ورته وويل: اې وراره، کچيرې ته خپل لنگ خلاص کړې او په اوږو باندې د تيږو د لاندې کيږدې [نو خه به وي]. وايي: نبي عليه السلام لنگ خلاص کړ، او په خپلو اوږو يې کيښود، نو بې هوشه راوغورځيدو، د هغه نه وروسته نبي عليه السلام بربنډ نه دی ليدل شوی.

لکه دغه وخت د جاهليت دور و، حياء کمه وه، د خلکو خويونه عموما د بانډچيانو وو، نو قريشو به دا باک نه گڼلو چې د يو سړي عورت ښکاره شي، بلکې د سختۍ پر وخت به يې خپل لنگ وغيره هم ويستلو، لکه د کعبې لپاره چې تيږې راوړلې نو خلکو به خپل لنگونه په اوږو باندې کيښودل، دې لپاره چې اوږې يې زخمي نشي، خو قربان شم د نبي عليه السلام عزت څخه، چې دغه جاهلي ټولنه کې هم ده دومره حياء درلوده چې ضمير يې دا کار نه زغملو، خو کله چې ورته خپل کاکا دا خبره وکړه چې پروا نه کوي، دا لنگ دې خلاص کړه، اوږې دې خرابيږي، نو نبي عليه السلام د هغه د خبرې لحاظ وساتلو، ځکه کتاب او سنت خو هغه وخت نه و چې نبي عليه السلام ويلي وای چې کاکا خبره مې د شريعت مخالف ده، خو الغرض لنگ يې چې خلاص کړ او اوږه باندې يې کيښودو، نو فورا راوغرځيدو، دا د هغه د کمال حياء نښه وه، چې قال الله او قال الرسول نشته، هر خواته فحاشي او عرياني ده، مشران هم ورته د يو مصلحت په خاطر د جامې لرې کولو امر کوي، خو د حياء امله د لنگ خلاصولو څخه وروسته په ځمکه راغورزيږي.

کله چې ټولنه کې حياء وي، هغه ټولنه کې ايمان، عزم، استقامت او ثبات وي، نن سبا د کفارو لخوا د فحاشۍ خپرولو وسيله د مسلمانانو مهار کولو کامياب ترينه وسيله ده، ټول مسلمانان يې د فحشاء، عريانۍ او بې حيايي په زولنو وتړل، د مبتذلو فلمونو په نتيجه کې يې ځوان قشر د خپلو سيکولر نظرياتو او افکارو غلامان وگرځول. فحاشي نه خبره شروع شي چې عموما انتهاء يې د کفارو سياسي دامونو کې گيريدل وي. ځکه خو نبي عليه السلام فرمايي:

عَنِ ابْنِ عُمَرَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا، قَالَ: قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «الْحَيَاءُ وَالْإِيمَانُ قُرِنَا جَمِيعًا، فَإِذَا رُفِعَ أَحَدُهُمَا رُفِعَ الْآخَرُ» المستدرك على الصحيحين للحاكم ومصنف ابن أبي شيبة.

ژباړه: حياء او ايمان دواړه يوزای جمع کړې شوي دي، کله چې په دواړو کې يو پورته (ليرې) کړې شي نو بل هم پورته کولای شي.

عَنْ أَبِي مَسْعُودٍ، قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «إِنَّ مِمَّا أَدْرَكَ النَّاسُ مِنْ كَلَامِ النُّبُوَّةِ، إِذَا لَمْ تَسْتَحْيِ فَاصْنَعْ مَا شِئْتَ» صحيح البخاري.

ژباړه: د نبوت د خبرو څخه چې خلکو ترلاسه کړي، يوه خبره دا ده: کله چې ته نه شرميږې نو څه چې دې خوښه وي هغه وکړه.

نو نن چې زمونږ ځوانان د سريالونو او ناولونو په رنځ اخته شوي دي، نو دوی د بيت المقدس، بيت الله په شمول اشغال شوې اسلامي نړۍ غم چيرې کوي ؟ دوی راکټ لانچر، پيکا، کلاشن او استشهادي واسکټ څه پيژني ؟ خپله ځواني د الله ددين څخه زارولو په خوند څه پوهيږي ؟ د الله ددښمنانو جسمونو تکړې تکړې کولو لذت څخه څه خبر دي ؟ هغه د الله عزوجل محبت چيرې پيژني ؟ د هغه زړه کې به د الله متعال خوف، ډار، خشيت، تقوی او عظمت څنگه راشي ؟ هغه به د اسلامي نظام قيام په پار اسارت، بند، زخم، شهادت، ولږه او تنده چيرې وزغمي ؟

د نبوت وړاندې د نبي عليه السلام سليم فطرت: نبي عليه السلام د نبوت څخه مخکې هم په خپل سليم فطرت پاتې و، نه يې چيرې بتانو ته سجده کړې وه، نه يې شراب څښکلي و او نه يې هم د بلې گناه اراده کړې وه، راځئ ددې په اړه به يو څه احاديث ولولو:

په مکه کې د کيسو او گپ مجلس اراده کول: امام ابن حبان په خپل صحيح کې او د هغه شاگرد امام حاکم په مستدرک کې روايت راوړی دی. عَنْ عَلِيِّ بْنِ أَبِي طَالِبٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ، قَالَ: سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ: «مَا هَمَمْتُ بِقَبِيحٍ مِمَّا يَهُمُّ بِهِ أَهْلُ الْجَاهِلِيَّةِ إِلَّا مَرَّتَيْنِ مِنَ الدَّهْرِ كِلْتَاهُمَا عَصَمَنِي اللَّهُ مِنْهُمَا. قُلْتُ لَيْلَةً لِفَتًى كَانَ مَعِي مِنْ قُرَيْشٍ بِأَعْلَى مَكَّةَ فِي غَنَمٍ لِأَهْلِنَا نَرْعَاهَا: أَبْصِرْ لِي غَنَمِي حَتَّى أَسْمُرَ هَذِهِ اللَّيْلَةَ بِمَكَّةَ كَمَا يَسْمُرُ الْفِتْيَانُ. قَالَ: نَعَمْ، فَخَرَجْتُ، فَلَمَّا جِئْتُ أَدْنَى دَارٍ مِنْ دُورِ مَكَّةَ سَمِعْتُ غِنَاءً، وَصَوْتَ دُفُوفٍ، وَمَزَامِيرَ ،قُلْتُ: مَا هَذَا؟ قَالُوا: فُلَانٌ تَزَوَّجَ فُلَانَةَ لِرَجُلٍ مِنْ قُرَيْشٍ تَزَوَّجَ امْرَأَةً مِنْ قُرَيْشٍ، فَلَهَوْتُ بِذَلِكَ الْغِنَاءِ، وَبِذَلِكَ الصَّوْتِ حَتَّى غَلَبَتْنِي عَيْنِي، فَنِمْتُ فَمَا أَيْقَظَنِي إِلَّا مَسُّ الشَّمْسِ، فَرَجَعْتُ إِلَى صَاحِبِي، فَقَالَ: مَا فَعَلْتَ؟ فَأَخْبَرْتُهُ، ثُمَّ فَعَلْتُ لَيْلَةً أُخْرَى مِثْلَ ذَلِكَ، فَخَرَجْتُ، فَسَمِعْتُ مِثْلَ ذَلِكَ، فَقِيلَ لِي: مِثْلُ مَا قِيلَ لِي، فَسَمِعْتُ كَمَا سَمِعْتُ، حَتَّى غَلَبَتْنِي عَيْنِي، فَمَا أَيْقَظَنِي إِلَّا مَسُّ الشَّمْسِ، ثُمَّ رَجَعْتُ إِلَى صَاحِبِي، فَقَالَ لِي: مَا فَعَلْتَ؟ فَقُلْتُ: مَا فَعَلْتُ شَيْئًا، قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: فَوَاللَّهِ، مَا هَمَمْتُ بَعْدَهُمَا بِسُوءٍ مِمَّا يَعْمَلُهُ أَهْلُ الْجَاهِلِيَّةِ، حَتَّى أَكْرَمَنِي اللَّهُ بِنُبُوَّتِهِ»

ابن حبان وسنده حسن لذاته.
مستدرک للحاکم وسنده حسن لذاته.

ژباړه: علي رضي الله عنه وايي ما د نبي عليه السلام څخه اوريدلي دي، هغه وفرمايل: د جاهليت خلکو به چې د کومو ناوړه کارونو ارادې کولې، ما دوه کرت نه علاوه هيڅ کله د ناوړه کار اراده نده کړې، او دواړه کرت الله عزوجل ساتلی يم، ما يوه شپه هغه ځوان ته چې ما سره به يې د مکې په پورتنۍ حصه کې زمونږ گډې بيزې څرولې، وويل: زما گډو بزو ته نن شپه وگوره چې زه هم لاړ شم او د مکې نورو ځوانانو په څير د شپې کيسو مجلس کې شريک شم. هغه وويل: سمه ده، کله چې زه د مکې د کورونو څخه نږدې کور ته ورسيدم نو موسيقي غږ مې واوريدو، او د چمبو او د شپيلو غوږنه مې تر غوږه شول، ما تپوس وکړو دا څه دي ؟ خلکو راته وويل: فلاني قريشي د فلانۍ قريشۍ زنانه سره واده دی. ما دې سندرو ته غوږ کېښود تر دې چې خوب راباندې غلبه وکړه، نو ويده شوم او تر هغه ويده وم چې د لمر وړانگو راپاڅولم، خپل ملگري ته راغلم. هغه راته وويل: څه دې وکړل ؟ ما هغه ته کيسه وکړه، بيا مې بله شپه هم داسې کار وکړو، زه راووتلم، هماغه شان غږ مې واوريدو، او هماغه زړې خبرې په شان خبره راته وکړې شوه، نو ما د تير په څير غوږ کيښود تر دې چې خوب راباندې غالبه شو، او د لمر وړانگو راپاڅولم، بيا ملگري ته راغلم، هغه راته وويل: څه دې وکړل ؟ ما ورته وويل: ما هيڅ هم ندي کړي، رسول الله عليه السلام وويل: قسم په الله ددې دوه کرت نه علاوه ما هيڅکله هم د کوم گناه اراده نده کړې چې د جاهليت خلکو به کوله، تر دې چې الله عزوجل زه په نبوت سره عزتمند کړم.

[دې حديث سند ته علماؤ صحيح ويلي دی، که څه هم بعضې علماؤ ورته ضعيف هم ويلي دي، خو راجحه دا ده چې سند يې حسن دی]

عزتمندو ورونو! تاسې وگورئ د نبوت په ژبه دا خبره واضحه شوه چې نبي عليه السلام د جاهليت په ټولنه کې خپل ځلويښت کلنې ژوند په موده کې يوازې او يوازې دوه کرت د شپې کيسو او گپ شپ مجلس ته د ورتگ اراده کړې وه، او هغه هم الله عزوجل پرې خوب راوستلای و، نو بتانو عبادت کول خو ليرې خبره ده. هغه نه خو الله عزوجل په طريق اولی محفوظ ساتو. نن سبا زمونږ د امت ځوانان اروپا، امريکا او روسيا ته چې لاړ شي، نو د نورو مفاسدو ترڅنگ د فحاشي موقع ورته په لاس ورشي نو هيڅ نوعه ناوړه عمل ترې نه پاتې کيږي، معاذ الله.

د جبير بن مطعم گواهي:

دويم دليل پدې خبره چې محمد رسول الله عليه السلام د نبوت وړاندې هم په خپل سليم فطرت پاتې و، او د مکې مشرکانو په څير غير شرعي اعمال به يې نه ترسره کول، دا دی: عن جُبَيْرِ بْنِ مُطْعِمٍ قَالَ: أَضْلَلْتُ بَعِيرًا لِي، فَذَهَبْتُ أَطْلُبُهُ يَوْمَ عَرَفَةَ، فَرَأَيْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَاقِفًا بِعَرَفَةَ، فَقُلْتُ: «هَذَا وَاللَّهِ مِنَ الحُمْسِ فَمَا شَأْنُهُ هَا هُنَا» صحيح البخاري. ژباړه: جبير بن مطعم وايي: ما نه زما اوښ ورک شوی و،

نو زه لاړم، د عرفې په ورځ مې لټوو، نو نبي عليه السلام مې وليد، چې عرفه کې ولاړ دی، ما وويل: والله دا خو قريشي دی نو دلته څه کوي؟ الحُمس د أحمس جمع ده، او دا شديد او کلک ته ويل کيږي، قريشو ته به حُمس ځکه ويل کيدل چې دوی هم د پلار نيکه شرکي رسم ورواج په کلکه راټينګ کړي وو، نو جبير بن مطعم ځکه حيران شو، چې قريش به د عرفې په ورځ حرم څخه بهر نه تلل، خو نبي عليه السلام د خپل ټول قوم پر خلاف عرفې ته تللی و، او هلته ولاړ و.

د زيد بن حارثه ګواهي:

زيد بن حارثه رضي الله عنه وايي:

مَا مَسَّ مِنْهَا صَنَمًا حَتَّى أَكْرَمَهُ اللهُ.

[المعجم الكبير للطبراني ج ٥/ ص ٨٨]

ژباړه: نبي عليه السلام هيڅ يو بت ندی لمس کړی (لاس يې ندی وروړی) تر دې چې الله عزوجل هغه (په نبوت سره) عزت مند کړو.

بل روايت کې زيد رضي الله عنه وايي چې نبي عليه السلام زه ددې کار څخه منع کړم، د هغه روايت سند حسن دی.

د عبد الله بن عمر ګواهي: عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عُمَرَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا، " أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَقِيَ زَيْدَ بْنَ عَمْرِو بْنِ نُفَيْلٍ بِأَسْفَلِ بَلْدَحٍ، قَبْلَ أَنْ يَنْزِلَ عَلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الوَحْيُ، فَقُدِّمَتْ إِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سُفْرَةٌ، فَأَبَى أَنْ يَأْكُلَ مِنْهَا، ثُمَّ قَالَ زَيْدٌ: إِنِّي لَسْتُ آكُلُ مِمَّا تَذْبَحُونَ عَلَى أَنْصَابِكُمْ، وَلاَ آكُلُ إِلَّا مَا ذُكِرَ اسْمُ اللَّهِ عَلَيْهِ، وَأَنَّ زَيْدَ بْنَ عَمْرٍو كَانَ يَعِيبُ عَلَى قُرَيْشٍ ذَبَائِحَهُمْ، وَيَقُولُ: الشَّاةُ خَلَقَهَا اللَّهُ، وَأَنْزَلَ لَهَا مِنَ السَّمَاءِ المَاءَ، وَأَنْبَتَ لَهَا مِنَ الأَرْضِ، ثُمَّ تَذْبَحُونَهَا عَلَى غَيْرِ اسْمِ اللَّهِ، إِنْكَارًا لِذَلِكَ وَإِعْظَامًا لَهُ " صحيح البخاري.

ژباړه: نبي عليه السلام زيد بن عمرو بن نفيل سره د بلدح په لاندې سيمه کې مخامخ شو، مخکې د دې چې نبي عليه السلام باندې وحي نازله شي. نو نبي عليه السلام ته خوراک وړاندې کړې شو. [سفرة د سفر پرمهال وړونکي خواړو ته وايي]، نبي عليه السلام د هغې خوراک څخه انکار وکړو، بيا زيد بن عمرو بن نفيل وويل: زه هم هغه څه نه خورم چې تاسې يې خپلو بتانو لپاره ذبح کوئ، زه خو يوازې هغه څه خورم چې د الله عزوجل نوم پرې ياد شوی وي، او زيد بن عمرو به قريش د خپلو ذبيحو په اړه خه رټل او ويل به يې: ګډه (بيزه) الله پيدا کړې ده، د آسمان څخه يې ورله اوبه راښکته کړي دي، د ځمکې څخه يې (واښه) راټوکولي دي، بيا يې تاسې د الله پرته د بل چا په نوم ذبحه کوئ؟ زيد بن عمرو به دا خبره د قريشو پدې کار باندې رد له امله او دا کار يې د الله تعالی د عظمت له امله کاوه. دا حديث هم پدې باندې ښکاره دليل دی، چې نبي عليه السلام به هغه خوراک هم نه کاوه چې هغه به د الله پرته د مخلوق په نوم ذبح شوی و. نو د بتانو عبادت خو يې په طريق اولی نه کاوه.

نن سبا هم د ذبيحې په اړه احتياط څخه کار اخستل پکار دي، ځکه د نواقضو شبهه زياته ده. اګر که ددې اشغال شوي سيمو ټولو اوسيدونکو ته به د کفر نسبت نشي کيدای، بلکې مسلمان به په خپل اسلام پاتې وي، او د چا څخه چې اسلام ماتونکې کړنې وليدل شي او مسئله ورته رسيدلې وه يا اسباب د تحقيق موجود وي، نو هغه کس باندې به د کفر فتوه ورکولای شي، خو چې کومه سيمه او منطقه کې د اسلام د نواقضو شبهه زياته وه، لکه شرکي انتخابات، يا کفري او وضعي محکمو ته خپلې شخړې د پريکړې لپاره وړل، قوم پرستي، قبر پرستي، يا داسې نور شرکونه عام وي، نو هغه ځای کې به احتياط کولای شي، او د سم سړي ذبيحه به خوړلې شي.

نو دا د پخواني موحدينو طريقه ده، او الله عزوجل قرآن کريم کې او محمد رسول الله صلی الله عليه وسلم په احاديثو کې په پاک او حلال خواړو امر کړی دی، او مشتبه شيانو خوراک څخه يې مونږ تاسې منع کړي يو، ځکه دغه مشتبه شيان انسان په حرامو کې اخته کوي، چې انسان د جهنم مستحق ګرځي، اعمال يې نه قبليږي، دعا يې نه قبليږي، د رب کومک ورسره نه وي.

لهذا دې مختصر بحث څخه په ډاګه شوه چې نبي عليه السلام د نبوت څخه مخکې هم ډير غوره صفات درلودل، صادق او امين و، حياناک انسان و، هر ډول ګناه څخه يې ځان ژغورو، په خپل سليم فطرت باندې پاتې و، بتانو عبادتونه يې نه وو کړي، د بتانو نذرانې يې نه خوړلې. [صلی الله عليه وسلم]

د جاهليت موحد زيد بن عمرو بن نفيل پيژندنه: زيد بن عمرو بن نفيل د جاهليت زمانې موحد و. د عمر رضي الله عنه تره زوي و، خطاب او عمرو دواړه د نفيل زامن دي. او د ده زوی سعيد بن زيد رضي الله عنه په عشره مبشره صحابه وو کې داخل دی يعنې هغه لس صحابه چې په ژوند کې ورباندې نبي عليه السلام د جنت زيری کړی دی، ټولو نومونه يې يو مجلس کې واخستل ابو بکر جنتي دی، عمر جنتي دی، مونږ مخکې ويلي وو، چې د چا مشرانو کې خير وي، الله عزوجل يې کشرانو کې خامخا خير اچوي. دا زيد بن عمرو بن نفيل د حق پلټونکی و، او پدغه هدف يې تر شام پورې سفرونه کړي دي، عامو قريشيانو به د تجارت په پار شام ته سفر کاوه، خو زيد بيا هغه موحد و، چې ده سره ددين غم و، عقيدې زده کولو هڅه يې کوله. رازئ د عبد الله بن عمر رضي الله عنهما څخه به يې کيسه واورو، امام بخاري په خپل صحيح کې د هغه څخه روايت ذکر کړی دی:

زيد بن عمرو بن نفيل شام ته د (حق) دين لپاره ولاړ، هغه يې لټوو، نو د يهوديانو يو ملا سره مخامخ شو، او د هغوی دين په اړه يې ترې پوښتنه وکړه، او ورته يې وويل: کيدايشي زه ستاسې دين قبول کړم، ما ته خپل دين بيان کړه. يهودي ملا ورته وويل: ته تر هغه پورې زمونږ دين ته نشي داخليدای ترڅو چې د الله د غضب يوه برخه وانخلې، [قبوله کړې] زيد ورته وويل: زه خو د الله له غضب څخه راتښتيدلی يم، او زه د الله له غضب څخه هيڅ برخه نشم اخستلای، زه ددې توان چيرې لرم؟ آيا ته ما ته بل دين ښودلای شې؟ هغه وويل: د حنيف دين پرته بل دين ماته ندی معلوم، زيد ورته وويل: حنيف دين څه شی دی؟ هغه ورته کړه: دا د ابراهيم عليه السلام دين دی، چې هغه نه يهودي و او نه نصراني و، او يوازې د الله عبادت به يې کولو.

بيا زيد ووتلو، نو د نصاراوو يو عالم سره مخامخ شو، هغه ته يې هم دغه شان خبره وکړه، وايي: ته زمونږ دين ته تر هغه نشې راتلای ترڅو چې د الله د لعنت څه برخه وانخلې، هغه وويل: زه خو د الله د لعنت څخه تښتم، او د الله لعنت نشم زغملای، او نه هم د هغه غضب څخه څه برخه اخستلای شم، او زه دا توان چيرې لرم، آيا ته ماته بل دين ښودلې شې؟ هغه وويل: ماته د حنيف دين پرته بل دين ندی معلوم، زيد ورته وويل: حنيف دين څه شی دی؟ هغه ورته کړه: دا د ابراهيم عليه السلام دين دی، چې هغه نه يهودي و او نه نصراني و، او يوازې د الله عبادت به يې کولو. کله چې زيد د ابراهيم عليه السلام په اړه هغوی وينا واوريده نو ووتلو، کله چې بهر شو نو لاسونه يې پورته کړل او ويې ويل: اې الله ته ګواه اوسه چې زه د ابراهيم عليه السلام په دين باندې يم.

سبحان الله، ورونو دا وګورئ، د حق دين په لټنه کې له عقل څخه کار اخلي، چې دا مخلوقات الله عزوجل پيدا کړي دي، ددوی خالق، مالک، پالونکی او روزونکی يو الله دی، او د حق دين په لټنه کې يې ليرې پرتو هيوادونو پورې سفرونه کړي دي، او آخر هم حق معلوموي، خو نن سبا د بعضې خلکو لخوا دا عذر وړاندې کيږي، چې مونږ نه پوهيږو، مونږ ناخبره يو. خو په دغه خلکو تحقيق لازم دی، اسباب د تحقيق شته، کتاب او سنت کې هر څه واضحه بيان شوي دي، خو بيا هم چې څوک ځان نه پوهه کوي، نو دا سړی د الله په نزد مجرم دی، او دغه بهانې يې نه قبليږي. مثال په ډول کله چې دومره خبره چاته ورسيده چې اسلامي خلافت مجاهدين د طالبانو د ارتداد دعوه لري، نو اوس خلکو باندې لازمه ده چې د اسلامي خلافت دريځ ولټوي، هر سړی يې په آسانه پيدا کولای شي، خو بالفرض که تحقيق نشي کولای حد اقل دومره خو کولای شي چې د طالبانو څخه ځان لرې وساتي. دنياوي کارونو کې عوام خلک څومره کوشش کوي، خو ددين په کار کې بيا ځان ناپوهه ګڼي. او دا د دين سره ستره جفا ده. والله المستعان.

زيد بن عمرو بن نفيل د توحيد سره سره د مشرکانو په غلطو رسمونو او مظالمو هم رد کوو، د صحيح البخاري بل روايت دی:

اسماء بنت أبي بکر رضي الله عنهما فرمايي: ما زيد بن عمرو بن نفيل وليد، ولاړ و، کعبې ته په شا سره تکيه وهونکی و، ويل يې: اې د قريشو ډلو، قسم په الله زما پرته په تاسې کې هيڅوک د ابراهيم عليه السلام د دين تابعدار نشته. او هغه به ژوندۍ خښيدونکې جينۍ ژغورله، کله به چې يو کس خپلې لور وژلو اراده

وکړه نو هغه به ورته وويل: دا مه وژنه، ددې مصرف چارې زه په غاړه اخلم، بيا به يې واخسته، کله به چې ستره شوه نو ددې پلار ته به يې وويل، که ستا خوښه وي چې اوس يې تاته درکړم او که خوښه دې وي چې زه يې کفالت چارې (نور هم) په غاړه واخلم.

الله أکبر! دا د توحيد کمال و، چې زيد توحيد وپيژندو، نو د الله عزوجل مخلوقاتو لپاره هم نرم شو، د هغوی د ژغورلو هڅې يې هم شروع کړې. او دا د موحدينو امتيازي صفت دی چې په مظلوم باندې يې زړه درد کوي، او حتی الوسع يې د ژغورلو هڅه کوی، ولو که دغه مظلوم د نړۍ په هر گوډ کې وي، لکه اسلامي خلافت د ايغور د تعذيب خانو څخه تر امريکايي او اسرائيلي بندي خانو پورې د هر مظلوم مسلمان درد خپل درد گڼي، او اراده لري چې يوه ورځ به دغه مسلمانان هم د ظلم او استبداد د پنجو څخه خلاصوي، ان شاء الله، خو افسوس په هغه طالبانو چې پدغه مظلومانو يې يوه ورځ هم زړه کې رحم رانغی او دغه د کانو په څير د سخت زړونو څښتنان خپلو بادارانو چينايانو ته پدغه ظلمونو ډاډ ورکوي، چې تاسې که ايغوري مسلمانانو سره هر څه کوئ، خو مونږ درته هيڅ هم نه وايو، په ډاډه زړه ددوی بيخ کندي وکړئ. انا لله وانا اليه راجعون. وا اسلاماه!

نو گرانو لوستونکو!

د زيد بن عمرو بن نفيل دې تذکرې څخه مونږ تاسې دا مسئله وپيژنده، چې يو انسان خپل سالم فطرت او عقل څخه کار واخلي نو هم توحيد پيژندلای شي، حق او باطل معلومولای شي، پاتې لا دا چې د کتاب او سنت سلگونو او زرگونو نصوص په يوه مسئله موجود وي، خو يو کس ترې ځان غافله کوي او وايي چې مونږ عوام يو، پدې خبرو نه پوهيږو!! بله خبره ددې بحث څخه دا څرگنديږي، چې همدا قريش و، زيد بن عمرو بن نفيل به د ټولو په مخکې په بيت الله کې د توحيد اظهار کاوه، ددوی معبودان به يې بې وسه مخلوق بلل، ورقه بن نوفل او داسې نور د جاهليت موحدينو به هم د توحيد غږ پورته کاوه، خو آخر کوم علت و چې قريشو ددوی په خلاف برخورد نرم و، خو چې کله نبي عليه السلام د توحيد دعوت شروع کړو، نو د لر بر ټول مشرکان په لړزان شو ؟ نو جواب واضحه ده، چې دغه يو څو تنو موحدينو خپل شخصي ژوند په توحيد ښايسته کړی و، خو د نبي عليه السلام مهم هدف د شخصي اعمالو ترڅنگ د اسلامي نظام قيام و، او دا هغه هدف او مطالبه وه چې د مکې مشرکانو څخه تر ننه هيڅ يو کافر يې نه برداشت کوي، او پر وړاندې يې مبارزه کوي، نو مسلمانانو ورونو! دا د حق پيژندنې بل معيار شو، چې کوم دولت يا ډلې خپل هدف او مرام د اسلامي نظام قيام بللو خو کفار ترې راضي وو، پر خلاف يې تحالف او تړون نه کوو، نو مونږ تاسې به وپوهيږو چې دا دولت او ډله په حق نده، کچيرې حق وای نو زمونږ خوږ نبي عليه السلام په شان نړيوالو کفارو به يې پرضد پريکنده گامونه اخستلي وای. لکه نن سبا چې طالبانو د امريکايانو اقتصادي، سياسي، ثقافتي، تعليمي او اجتماعي استعمار ومانه او امريکا ورته د کابل واک وسپارو، هره اونۍ ورته ۴۰ مليون ډالر هم راليږي، او بل اړخ ته د اسلامي خلافت مجاهدينو شهادت او اسارت کې همکاري کونکي بې ضميره جاسوسانو لپاره يې لس لس مليونه جايزې مقررې کړې دي !! نو اوس هم چې څوک نه پوهيږي دغه کس بيا تيارو کې پروت دی.

الحمد للـه الـذي جعـل في سِـيَرَ الصالحـين عـبرةً للمعتَبِرِيـن، وذكـرى للذاكريـن، وجعـل في الصادقـين منهـم أسـوةً وقـدوةً للمقتديـن، وأشـهد أن لا إلـه إلا اللـه، وحـده لا شريـك لـه، إلـه الأولـين والآخريـن، وأشـهد أن محمـداً عبـده ورسـوله. امـا بعـد :

قـال تعـالى " وَالسَّـابِقُونَ الْأَوَّلُـونَ مِـنَ الْمُهَاجِرِيـنَ وَالْأَنْصَـارِ وَالَّذِيـنَ اتَّبَعُوهُـمْ بِإِحْسَـانٍ رَضِيَ اللَّـهُ عَنْهُـمْ وَرَضُـوا عَنْـهُ وَأَعَـدَّ لَهُـمْ جَنَّـاتٍ تَجْـرِي تَحْتَهَـا الْأَنْهَـارُ خَالِدِيـنَ فِيهَـا أَبَـدًا ذَٰلِـكَ الْفَـوْزُ الْعَظِيـمُ. التوبـة " ١٠٠

سـعيد بـن عامـر جمحـي رضـی اللـه تعالـی عنـه ،لـه هغـه زرو خلکـو څخـه يـو ځـوان وو ، چـې د قريشـو د سردارانـو پـه بلنـه د مکـې پـه څنـډه د تنعيـم سـيمې تـه وتلـې وو، ترڅـو د محمـد ﷺ د يـو ملګـري خُبيـب بـن عـدي رضـی اللـه عنـه وژلـو تـه حـاضر شي ، چـې دوی خبيـب بـن عـدي رضـی اللـه عنـه لـه غـدره او دوکـې وروسـته نولـې وو.

ده تـه خپلـې ښايسـته ځوانـۍ د دې تـوان وربښـلی وو، چـې خلـک پـه اوږو پـوری وهـي ، تـر دی چـې د قريشـو لـه مشرانـو لکـه ابوسـفيان بـن حـرب ، صفـوان بـن اميـه او داسـې نـورو سره ددې کتلـو لپـاره پـه اول سر کـې ودريـږي ،ده ځـوان ددې وسـه درلـوده چـې د قريشـو اسـير پـه ولچکـو کـې بنـد پـه داسـې حـال کـې ووينـي چـې ميرمنـې ، کوچنيـان او زلميـان پـرې راټـول وي او د مـرګ سـاحې تـه يـې ديکـه کـوي ، ترڅـو لـه محمـد ﷺ څخـه دده پـه وژنـه غـچ واخلـي ، او بـل داچـې پـه بـدر کـې ددوی د مقتولينـو بدلـه ورڅخـه واخلـي.

کلـه چـې هغـوی سـترو ډلـو خپـل نيولـې شـوی اسـير هغـه ځـائ تـه ورسـاوو ، چـې دده د وژلـو لپـاره يـې د مخکـې نـه مقـرر کـړې وو؛ نـو ځـوان سـعيد بـن عامـر رضـی اللـه عنـه، ودريـد او خپلـه دنګـه غـاړه يـې د خُبيـب رضـی اللـه عنـه د ليدلـو پـه نيت پـه داسـې حـال کـې ورجګـه کـړه چـې خبيـب رضـی اللـه عنـه يـې د پانسـۍ لرګـي تـه را وړانـدې کاوو، سـعيد بـن عامـر رضـی اللـه عنـه د ښـځو او کوچنيانـو د چيغـو پـه مينـځ کـې د اسـير ډاډه او د سـکون غـږ واوريـد ، چـې ويـل يـې : کـه مـو زړه وي اجـازه راکـړئ ترڅـو تـر وژلـو وړانـدې دوه رکعتـه مونـز وکـړم.

وروسـته ده ورتـه کتـل چـې خُبيـب قبلـې تـه مخامـخ ودريـد ، دوه رکعتـه مونـز يـې وکـړ ، د ښـه والي او اتمـام خـبرې يـې نـو مـه کـوه، وروسـته سـعيد بـن عامـر رضـی اللـه عنـه وليـد ، چـې خبيـب رضـی اللـه عنه د قريشـو مشرانـو تـه مـخ راسـتون کـړ او ورتـه يـې وويـل: قسـم پـه اللـه ﷻ کـه چيرې دا خـبره نـه وای چـې تاسـو بـه ګـمان وکـړئ، چـې ګواکـې د مـرګ لـه ويـرې لـه وجـې مـې مونـز اوږد کـړ؛ نـو مابـه ډيـر اوږد مونـز کـړی وای.

وروسـته سـعيد بـن عامـر رضـی اللـه عنـه د سر پـه سـترګو خپـل قـوم ليـدو چـې دوی د خُبيـب رضـی اللـه عنـه د بـدن او جسـم نـه اندامونه پـه ژوندوني پريکـول ، دوی دده د بـدن اندامونـه پـه داسـې حـال کـې يـو پـه بـل پسـې پريکـول ، چـې ورتـه يـې وويـل؛ آيـا تـه داخوښـوې چـې تـه خـلاص وای او سـتا پـر ځـائ محمـد ﷺ وای ؟

نـو هغـه ورتـه پـه داسـې حـال کـې چـې وينـې يـې د بـدن نـه څڅيـدې جـواب ورکـړو : زمـا دې پـه اللـه قسـم وي کـه زه دا غـواړم چـې زه دی پـه خپـل کـور د خپـل اهـل سره پـه امـن يـم او محمـد ﷺ تـه دی يـو اغـزی هـم ضرر ورکـړي، خلکـو لاسـونه پـه فضـا او هـوا کـې ښـوځول ، او داسـې نـارې يـې وهلـې چـې ؛ وی وژنـئ ، وی وژنـئ!!

وروسـته سـعيد بـن عامـر رضـی اللـه عنـه خُبيـب رضـی اللـه عنـه پـه داسـې حـال کـې هـم وليـد چـې د پانسـۍ پـر لرګـي يـې پـاس سـترګې د آسـمان لورتـه پورتـه کـړې وی او ويـل يـې؛ ای اللـه ! يـو، يـو شـمار کـړې، ټـول هـلاک کـړې ، او يـو هـم مـه پاتـه کـوې ، وروسـته يـې خپلـه وروستـۍ سـاه پـه داسـې حـال کـې ورکـړه چـې د تـورو او نيـزو زخمونـه يـې پـر بـدن خوړلـی وو او دا دومـره زيـات وو چـې د شـمير نـه وتـلي وو.

قريـش بيرتـه مکـې تـه راسـتانه شـول او د سـترو سـترو واقعـو پـه بهـير کـې يـې خُبيـب رضـی اللـه عنـه او دده د شـهادت واقعـه هـيره کـړه ، خـو د ځـوان سـعيد بـن عامـر رضـی اللـه عنـه لـه زړه څخـه خُبيـب رضـی اللـه عنـه يـوه لحظـه هـم نـه وتـو.

چـې کلـه بـه ويـده شـو ، پـه خـوب بـه يـې ليـدو ، او کـه بـه ويـښ وو؛ نـو پـه خيـال کـې بـه يـې اوسـيدو ، پـه داسـې حـال کـې بـه يـې ترسـترګو کيـدو ، چـې دپانسـۍ پـه وړانـدې بـه يـې پـه ډاډه زړه سره دوه رکعتـه مونـز کاوو، د خُبيـب رضـی اللـه عنـه د غـږ هغـه انـګازه يـې تـل پـه غوږونـو کـې وه ، چـې قريشـو تـه يـې ښـيرا کولـه ، د سـعيد بـن عامـر رضـی اللـه عنـه سره بـه دا ويـره هميشـه وه، چـې يابـه تنـدر پـرې رالويـږي او يـا بـه لـه آسـمان څخـه پـرې کاڼـي وريـږي.

خُبيـب رضـی اللـه عنـه سـعيد رضـی اللـه عنـه تـه هغـه څـه وروښـودل چـې ددې نـه مخکـې يـې نـه وو زده ، دا يـې وروښـودل چـې ريښـتونی ژونـد او عقيـده د مـرګ تـر ورځـې، د عقيـدې پـه لاره کـې جهـاد کـول دي، او دا يـې هـم ورزده کـړل چـې راسـخ او مضبـوط ايمـان داسـې عجائـب او معجـزې ښـکاره کـوي چـې عـام حالـت کـې نـه ښـکاره کيـږي.

او ددی سره يـې بـل دا هـم وروښـودل چـې کـوم کـس چـې دده ملګـری دی، او دومـره زياتـه مينـه ورسره لـري داد آسـمان د طـرف نـه يـو تائيـد شـوی نبـي دی ، پـه دی وخـت کـې اللـه ﷻ د سـعيد بـن عامـر رضـی اللـه عنـه سـينه د اسـلام لپـاره پرانيسـتله د خلکـو پـه ډلـه کـې ودريـدو، او د قريشـو لـه ګناهونـو نـه يـې ښـکاره د برائـت اعـلان وکـړ، او ددوی لـه بتانـو او جرائمـو يـې توبـه ووايسـته ، د اللـه ﷻ پـه ديـن کـې داخـل شـو.

سـعيد بـن عامـر رضـی اللـه عنـه د مشرانـو صحابـاو څخـه وو چـې د خيـبر د جنـګ نـه مخکـې يـې اسـلام قبـول کـړو مدينـې تـه يـې هجـرت وکـړ، لـه رسـول اللـه سره هسـتوګن

شو او د رسول الله صلی الله علیه وسلم سره خیبر او تر هغه وروسته غزاګانو کې شریک شو، کله چې نبي کریم ﷺ د رب جوار او ګاونډیتوب ته انتقال کاوو، نبي علیه السلام له ده څخه راضي وو، سعید بن عامر رضی الله عنه د نبي علیه السلام روسته دده دوو خلیفه ګانو ابوبکر او عمر رضی الله تعالی عنهما د لاسونو لوڅه توره وه، سعید رضی الله عنه یو داسې مثالي ژوند وکړ او د هغه مؤمن لپاره یو مثال وو، چې په دنیا سره یې اخرت اخستې وي ، د الله ﷻ خوښي او ثواب یې د نفس تر ټولو غوښتنو او د تن تر ټولو شهوتونو غوره وګڼل.

د رسول الله ﷺ دواړو خلیفه ګانو ته د سعید بن عامر رضی الله تعالی تقوی او ریښتنولي معلومه وه ، دده نصیحت ته یې غوږ نوه او دده خبره یې منله ، سعید رضی الله عنه د عمر رضی الله تعالی عنه د خلافت په اوائلو کې امیرالمؤمنین ته ورغلی او ورته یې وویل؛ ای عمره ! زه درته دا وصیت کوم چې د خلکو په باره کې له الله ﷻ څخه وویریږه ، او د الله ﷻ په حق کې له خلکو څخه ویره مه کوه ، خپل قول دی ، باید له فعل سره مخالف نه وي ځکه غوره وینا هغه ده چې فعل یې تصدیق وکړي.

ای عمره ! د هغو لیرې او نژدې مسلمانانو په اړه فکر کوه چې الله ﷻ یې مسؤلیت درسپارلی دی ، هغه څه ورته خوښوه چې ځان ته یې خوښوی او هغه څه دوی ته هم بد ګڼه چې خپل ځان او خپل اهل ته یې بد ګڼې ، د الله ﷻ په لاره کې هرې سختې ته ور وراندې کیږه او د الله په لاره کې د ملامتیا ویونکي له ملامتیاڅخه ویره مه کوه.

عمر رضی الله تعالی عنه ورته وویل: ای سعیده ! د دې وس څوک لري؟! ده ورته وویل: د دې وس داسې څوک لري لکه تا غوندې چې الله ﷻ د محمد ﷺ د امت کارونه ورترغاړه کړې وي ، د ده او د الله ﷻ تر مینځ بل هیڅوک نه وي.

په دې وخت کې عمر رضی الله تعالی عنه سعید رضی الله عنه ته د خپل وزیر ددندې سپارښتنه وکړه او ورته یې وویل : ای سعیده ! موږ تا د حمص د والي په حیث ټاکو ، ده ورته وویل : ای عمره ! الله ﷻ ته وګوره په همدې فتنه کې ما مه اچوه ، عمر رضی الله تعالی عنه ته غصه ورغله او وی ویل : خوار شئ تاسو زما غاړې ته دا کار یعني خلافت اچوئ او وروسته ځان راڅخه ساتئ!! زما دی په الله ﷻ قسم وي که دی پریږدم ، ورسته یې د حمص والي کړ ، او ورته یې وویل : معاش درته مقرر کړم ؟ ده ورته وویل: ای امیرالمؤمنینه! په هغه به څه کوم، له بیت المال څخه چې څه ماته ملاویږي ، هغه هم زما له ضرورت نه زیاته ده ، وروسته حمص ته لاړو.

ډیری ورځې لا نه وې تیرې شوې چې امیرالمؤمنین ته له حمص څخه ځیني داسې خلک راغلل چې عمر رضی الله عنه پرې باوري وو، ده ورته وویل: ماته ستاسو د مسکینانو نومونه ولیکئ ، دی لپاره چې د دوی ضرورتونه ورپوره کړم ، دوی لیک ورته وسپارو په هغه کې لیکلي وو، فلان کې ، فلان کې او سعید بن عامر ، امیرالمؤمنین وویل: سعید بن عامر څوک دی ؟ دوی ورته وویل: زموږ امیر ، امیرالمؤمنین ورته وویل: ستاسو امیر فقیر دی؟ دوی وویل: هو! قسم په الله ﷻ ډیر ځله په ده باندې اوږدې ورځې داسې تیریږي چې دده په کور کې اور نه دی بل شوی، عمر رضی الله تعالی عنه دومره وژړل ، چې په اوښکو یې ږیره لنده شوه ، بیا یې زر دیناره را واخیستل په کڅوړه کې یې واچول او وی ویل : زما له طرفه ده ته سلامونه ووایه او دا هم ورته ووایه چې امیرالمؤمنین تاته دا مال ددې لپاره رالیږلی ترڅو خپل ضرورتونه پرې پوره کړې.

وفد د روپو کڅوړه راوړه ، سعید رضی الله عنه چې ورته وکتل په هغه کې دینارونه وو، نو هغه په داسې حال کې چې دغه دینار یې له ځانه لرې کول وویل: اناالله وانااليه راجعون

داسې ښکاریدله لکه یوه پیښه چې ورسره شوې وي، او یا یې سیمې ته یو ناڅاپه واقعه اوښتی وي، ښځه یې په بیړه او وارخطایې سره راجګه شوه ، او وی ویل: ای سعیده ! څه شوي دي ؟ آیا امیرالمؤمنین وفات شوې ؟ ده وویل: تردې هم ستره واقعه شوې ، دې وویل: آیا مسلمانان په یو ستر مصیبت کې لویدلي ؟ ده وویل: تردې هم ستر څه دي، دې وویل: تردې لوی به څه وي؟ سعید رضی الله عنه وویل: ماته دینار راغلي چې آخرت مې خراب کړي ، او په کور کې فتنه را واچوي ، ښځې یې وویل: ځان ورڅخه خلاص کړه – هغه په درهمو هیڅ نه وه خبره

– ده ورته وویل: ایا ته په دې کې ما سره مرسته او مدد کوې؟ هغې ورته وویل: هو! سعید رضی الله عنه درهمونه په کڅوړو کې واچول ، او په فقیرانو یې وویشل.

په دې خبره ډیر وخت لا نه وو تیر شوی چې عمر رضی الله تعالی عنه د شام سیمې ته لاړ، ترڅو د شام په اوضاع له نژدې خبر شي ، کله چې حمص ته ورغلی- حمص ته به خلکو وړه کوفه ویل – حمص یې ځکه له کوفې سره تشبیه کاوو، چې خلکو به کټ مټ د کوفې د خلکو په ډول له خپلو والیانو څخه سر ټکونه کوله ،کله چې عمر رضی الله عنه هلته واړول ، د حمص خلګ د ستړي مشي لپاره ورته راغلل ، ده ورته وویل: تاسو خپل امیر څنګه بولئ؟!

دوی یې شکایت ورته وکړ، دده څلور کارونه یې ورته بیان کړل چې هر یو تر هغه بل ډیر ستر وو، عمر رضی الله تعالی عنه وایي: ما دوی او د حمص والي سره یوځای کړل له الله ﷻ څخه مې وغوښتل چې په هغه ګمان کې مې دی نه شرموي چې ما دده په باره کې کړی وو، ځکه زه په ده ډیر باوري وم، کله چې سحر شو، دوی او ددوی امیر زما په وړاندې حاضر شول ، ما وویل: تاسو له خپل امیر څخه څه شکایت لرئ؟ دوی وویل: تر هغه موږ ته نه راوزي ترڅو چې لمر ښه راپورته نه شي، ما وویل: ای سعیده! په دې کې څه وایې؟ دی لږ وخت چُپ پاتې وو، وروسته یې وویل: والله ما دا بده ګڼله چې چاته دا حال ووایم ؛ خو وس مې چاره ورځخه نشته ؛ نو زما د کور خادم نشته زه هر سحر خپل کور وړه لندوم ، بیا ورسته لږ انتظار ورته کوم چې خمیره شي ، ډوډۍ ورځخه پخه کړم ، وروسته اودس تازه کړم او خلکو ته را ووزم.

عمر رضی الله تعالی عنه وایي: ما دوی ته وویل: بل څه شکایت ورځخه لرئ؟

دوی وویل : د شپې له لوري هیڅ چاته هم نه راوزي.

ما ورته ویل : ای سعیده ! په دې کې څه وایې؟

ده وویل : والله ما ددې ښکاره کول هم نه غوښتل ؛ خو ... ما ورځ د دوی او شپه د الله ﷻ لپاره ګرځولې ده .

ماورته وویل : بل څه ګیله ورځخه لرئ؟

دوی وویل : په میاشت کې یوه ورځ بیخي نه راوځي.

ماورته وویل : ای سعیده دا څه خبره ده ؟

ده وویل: امیرالمؤمنینه ! خادم مې نشته او له دې اغوستو جامو پرته نوري جامې هم نه لرم ، زه هغه په میاشت کې یو ځل پرې وینځم او تر وچېدو پورې ورته منتظر یم ، بیا د ورځې په وروستی برخه کې راوزم.

ما بیا ورته وویل : بل څه شکایت ورځخه لرئ؟

دوی وویل : کله چې راغلی ، له هغه مهال څخه بیا تر اوسه بې هوښه کیږي او څوک چې په مجلس کې ورسره ناست وي له هغوی نه زانته شي.

ما ورته وویل : ای سعیده ! دا بیا څه خبره ده ؟

ده وویل : زه چې مشرک وم ، د خُبیب بن عدي رضی الله تعالی عنه وژلو ته حاضر شوی وم او قریش مې ولیدل چې دده د تن غوښې یې په داسې حال کې غوڅولې چې ورته ویل یې : آیا ته غواړې چې محمد ﷺ ستاپه ځای وي؟ ده به وویل : والله که زه دا خوښوم چې زه دی په خپل کور کې له خپلو بچیانو سره په امن ناست یم او په محمد ﷺ دی یو اغزی جګ شي او د اغزي د ټک هومره ضرر ورته ورسیږي، قسم په الله ﷻ چې کله ماته هغه رایاد شي چې ما یې څنګه مرسته ونه کړه ، سمدستي په خیال کې راشي چې الله ﷻ به مې ونه بخښي ؛ نو بې هوښه شم.

په دې وخت کې عمر رضی الله تعالی عنه وویل : الحمد لله چې رب العالمین زما ګمان دده په باره کې باطل نه کړ ، وروسته یې زر دیناره په دې وجه ورولیږل ، ترڅو خپل ضرورتونه پرې پوره کړي ، ښځې یې چې کله دینارونه ولیدل ورته یې وویل : الحمد لله چې رب العالمین موږ ستا له خدمت څخه بې پروا کړو، نو موږ ته ضروري سامان واخله او یو خادم راته ونیسه ، ده ورته وویل : آیا تردې غوره څه دی نه دې په کار ؟ هغې ورته وویل: هغه څه دي؟ ده وویل: موږ به یې هغه چاته ورکړو چې په داسې وخت کې یې راکړي چې هغه وخت به موږ ډیر ورته ضرورت لرو، هغې وویل: هغه څوک دی؟ ده ورته وویل: الله ﷻ ته به یې قرض حسن ورکړو، هغې وویل: سمه ده وجُزِیْتَ خیرا . او تاته دی غوره بدله درکړې شي.

د هغه مجلس څخه له نه وو ودریدلی، چې دینارونه یې په کڅوړو کې واچول ، د خپلې کورنۍ یو تن ته یې وویل: داد فلاني کورنۍ کوندو ، د فلاني ټبر یتیمانو ، د فلاني کورنۍ مسکینانو او د فلاني کور ، ته وروره .

" رضی الله عن سعید بن عامر "

الله تعالی دی له سعید بن عامر جمحي رضی الله تعالی عنه څخه راضي شي، سعید رضی الله عنه له هغو کسانو څخه وو چې تر ځان یې بل غوره کاوو، که به څه هم دی ډیر محتاج او ضرورتمند وو.

حافظ ابن حجر رحمه الله په الإصابة في تمییز الصحابة کې ذکر کړي چې سعید رضی الله عنه په رقه نومی ځای کې وفات شو.

انالله وانا الیه راجعون

د سعید بن عامر رضی الله عنه

مزید معلومات حاصلولو لپاره"
تهذیب التهذیب ۴/۵۱
ابن عساکر ٦ ـ جلد
الاصابة ۲/۳۲٦
وغیرهم کتابونه وګورئ

بعضې فوائد یا زمونږ دپاره په دی واقعه کې کوم درسونه دي

اول " خبیب رضی الله عنه مشرکانو نیولې وو او ډیر په سختې سره یې شهید کړو ..... په دی کې مونږ او تاسو ته دا درس پروت دی چې مومنان به زندان کې اچولې شي، کافران او مشرکان به ورسره ظلمونه کوي، سختي به ورسره کوي سزاګانی به ورکوي غمونه به پری رازي مشکلات او تکلیفونه به پرې راځي او داسې نوری سختې به پرې راځي

خو مومن ته پکار دي چې پدغه امتحاناتو سختیو مشکلاتو او تکلیفو باندی هم همت کمزوری نه کړي خپله حوصله د لاسه ورنکړي خپل منهج پرینګدي د جهاد نه په کور باندی کینه ني او جهاد پرینګدي بلکی د سختو امتحاناتو او مشکلاتو په وجه به د مومن ایمان نور هم مضبوطیږي او د مضبوطیدو کوشش به کوي همت به یې نور هم وچتیږي او د وچتیدو کوشش به کوي کافرانو او مشرکانو ته به نور هم په غوصه کیږي او د خپلې غوصې زیاتولو کوشش به کوي داسی نه چې د زندان دهمکی درکړي او ایمان او توحید ورته انسان پریګدي د مرګ دهمکې او اخطار درکړي او د توحید عقیدی ورته پریږدي .... او داسی نور....

دویم " کله چې انسان د اسلامي قانون او نظام نه دفاع کوي کله چې انسان کفري نظام او قانون ختمول کله چې انسان اسلامي قانون او نظام راوستل غواړي نو په دی کی به زندان هم غمونه تکلیفونه او مشکلات به هم رازي د خپلو خپلوانو نه جدایي او د خپل وطن او خاوری پریخدل په کی هم رازي .... نو دغه مشکلاتو او مصیبتونو مونږ او تاسو ته پکار دي چې د رب العالمین نه دعا وغواړو او رب العالمین ته متوجې شو داسې نه چې مونږ او تاسو د رب العالمین سره تعلق ختم کړو او عبادت کی سست شو .....

دریم " ای مومنانو مسلمانتنو ورونو " کله چې مونږ او تاسو د رسول الله صلی الله علیه وسلم سیرت

يا واقعه اورو او يا د کوم صحابي سيرت او واقعه اورو نو مونږ او تاسو ته پکار دي چې په هغې کې سوچ وکړو او د زان سره يې ولګوو زکه چې دا رمونږ او تاسو لپاره د هدايت او کاميابی سبب ګرځي لکه ځنګه چې سعيد رضی الله عنه د خبيب رضی الله عنه د شهادت په واقعه کې سوچ کولو حال دا چې سعيد رضی الله عنه پدغه وخت کی مشرک وو نو سعيد رضی الله عنه د هدايت سبب وګرځيدو دا چې يو مومن د صحابي يا د رسول الله صلی الله عليه وسلم په سيرت او واقعه کې سوچ وکړي هغه ته به څومره فايده ورکوي؟ ....

څلورم " که څوک غواړي چی ماسره دی الله او رسول الله صلی الله عليه وسلم محبت وکړي نو هغه ته پکار دي چې د خپل نفس او دنيا خواهشات پريږدي او د رب العالمين په عبادت کی خپله زندګي تيره کړي نو څوک چې داسی وکړي رب العالمين او رسول الله صلی الله عليه وسلم به تری داسی راضي او خوشحاله شي لکه ځنګه د سعيد رضی الله عنه او د نورو نه خوشحاله شوی.....

پنځم " کشرانو مجاهدينو ته پکار دي چې خپلو مشرانو لپاره خيرخوا وسيږي او څه نصيحتونه ورته کوي او مشرانو ته پکار دي چې خپلو کشرانو نصيحت په خايسته طريقی سره واوري لکه سعيد رضی الله عنه چې خپل امير عمر رضی الله عنه ته نصحيت وکړو څو مونږ تاسو څه کوو؟ مونږ او تاسو څو د مشرانو په بدي بيانولو او غيبتونو کولو باندي خپل مجلسونه ابادوو هغه مجلس مونږ او تاسو ته خوند نه راکوي چې هغې کی غيبت نه وي او بيا د الله تعالی نه داسی دغا غواړو چې يا الله زمونږ داسی مدد او نصرت وکړي لکه ځنګه دی د صحاباو کړی وو څو عملونو ته نه

ګورو چې اعمال مو د چا پشان دي او دعا د کومو خلکو پشان غواړو؟

شپږم " امير بايد عاجزه وي او زره تکبر هم پکې نه وي او امير به دنيا پرسته او خواهش پرسته نه وي امير کې به څه کلک او مضبوط صبر موجود وي ځکه چې امير يو سړی دی او د يو قسم طبيعت واله دی او دده به مختلف خلک د مختلفو ځايونو د مختلفو مايندو بچې او د مختلفو طبيعتونو واله خلک ملاويږي نو دا کار ډير صبر او استقامت غواړي رب دی زمونږ په مشرانو او کشرانو کې دغه ښايسته صفتونه پيدا کړی دغه ټولی خبری د سعيد رضی الله عنه ددی حالت نه معلوميږي چې عمر رضی الله عنه د مسکينانو ليسټ وغوختو او په دی کې د سعيد رضی الله عنه نوم هم وو سره ددی چې هغه د يوی علاقې والي او ګورنر وو او داسې غريب هم نه وو چې ورځ کې يو ځل دوه ځله خوراک کوي بلکې په ورځو ورځو يې په کور کې وور ندی بل شوې ای مومنه مسلمانه وروه وس زما او ستا څه حال؟ د لسو شلو کسانو اميري نه وي راکړې شوی زمکه اسمان ته خيژوو او اسمان زمکې ته راکوزوو لسو شلو کسانو اميري نه وي راکړې شوې تکبر په ما او تا کې وي بی صبري په ما او تا کې وي جنجالونه ما او تا کوو په کشرانو باندی ظلم ما او تا کوو او داسې نور بد صفات درواخله په مومن باندي د زړه او نفس اصلاح لازم او ضرور دا.....

اووم " کله چې د مسکيني او د سختي محتاجې او د ضرورت په حالت کې سعيد رضی الله عنه ته خپل امير روپې راوليږلې نو سعيد رضی الله عنه وويل چې انالله وانا اليه راجعون " دغه د روپو راتلل يې

يو غټ مصيبت او غم وګڼلو او د مومنانو د امير د وفات کيدو د غم نه يې زيات غم او مصيبت وګڼلو وس چې زما او ستا کور ته پنځه زره روپې راشي نو څه کوو؟ ددی خبری وضاحت ته ضرورت نشته چې زه يې وکړم هر سړې دی خپل زان سره ګريوان کې سوچ وکړي

اتم " امير ته پکار دي چې د خپل مسؤليت لاندی علاقې پخپله وګوري او ورشي لکه عمر رضی الله عنه شام ته دی لپاره لاړو چې د هغه ځائ د حالاتو نه ځان خبر کړي خو وس ما او تا څه کوو؟ موبايل رواخلو او د هغې په واسطې سره خپل مسؤليت سر ته رسوو نور به څه نه وايم خو دومر به ووايم چې پخپل مسؤليت کې قهار ذات نه يره پکار دا او د مسؤليت جواب ډير سخت دی .....

نهم " يو مشر امير چې چاته اميري ورکړي نو د هغه مسؤليت او د هغه امير شخصي حالت معلوم بايد معلوم کړي او دا معلومات هم وکړي چې رعيت تری خوشحاله دی که خفه دی لکه ځنګه چې عمر رضی الله عنه د سعيد رضی الله غنه په باره کې معلومات وکړل.......

نهم " کشران دا حق لري چې خپل امير باندې نورو مشرانو ته شکايت وکړي خو کشرانو ته پکار دي چې دغه شکايت هغه چا ته وکړي چې هغه د شکايت اوريدو او حل کولو واله وي لکه د سعيد رضی الله عنه کشرانو عمر رضی الله عنه ته شکايت وکړو ......

لسم " کله چې مشرانو ته د يو مجاهد يا د امير باره کې څوک شکايت وکړي اګر شکايت کوونکې هر څومره اعتمادي وي نو ددی شکايت تحقيق کول په ځان لازم کړي هغې نه پس اقدام وکړي او ددی سره شکايت کوونکي د هغه چا سره مخامخ کينوي چې د چا نه يې شکايت کړې وي داسې نه چې شکايت کوونکې پټ پاتی شي او چا نه چې شکايت شوی هغه راونيولی شي لکه ځنګه چې د سعيد رضی الله عنه نه خپلو کشرانو عمر رضی الله عنه ته شکايت وکړو او عمر رضی الله عنه دغه شکايت کوونکې د سعيد رضی الله عنه سره مخامخ کينول او عمر رضی الله عنه تحقيق وکړو او پدی کار کې ډيری فايدی دي که هغه بيانوو نو بيا درس به اوږد شي......

يولسم " بعضې خلک د خپل اهل او خپلې کور واله سره زياتې کوي بلکې هغو ته نصيحت کول او د هغې خيرخوا جوړيدل په هر انسان لازم دي لکه ځنګه چې د تحقيق نه پس عمر رضی الله عنه سعيد رضی الله عنه ته د فقر او سخت ضرورت په حالت روپې وليږلې نو خپلې ښځې ورته وويل چې په دی باندې د کور ضروري سامان واخله مونږ ته نو سعيد رضی الله عنه ورته غوصه نشو او نه يې ورته دا وويل چې ته خو دنيا پرسته او خواهش پرسته ښځه بلکې هغه يې په ښې طريقې سره پوهه کړه او ورته يې وويل چې دا رب العالمين ته په ښايسته قرض باندې ورکړو او ددی نه سخت حالت کې به زمونږ پکار شي نو ښځې ورسره خبره ومنله او سعيد رضی الله عنه ته يې دعا هم وکړه...... وس زمونږ او ستاسو څه حال دی؟ څه خلک خو داسې دي چې ښځو نه يريږي د رب العالمين په لاره کې ورسره صدقه او داسې بعضې نور اعمال نشي کولې او څه خلک داسې دي چې په خزو باندې ظلم کوي مطلب دا چې په هر حالت کې د قهار ذات نه يره پکار ده ...

د اسلامي دولت د رسمي وياند مجاهد شيخ
أبو عمر المهاجر (حفظه الله تعالى) د غږيزې وينا چې عنوان يې دى:
(ټول د الله په رسۍ منګولې ولګوئ او اختلاف مه کوئ) څـخـه

غورځنګ

په ځانګړي ډول په ختيځه آسيا، فليپين، سنګاپور، ماليزيا، اندونيزيا، هند، بنګله ديش او پاکستان کې ټولو مسلمانانو ته وايم، مونږ ولېدل چې تاسې بې وسه ياست، خو دا ستاسې د کموالي وجه نه ده، بلکې تاسې په شمېر کې د ستورو په څېر ياست، مګر هوډ او حوصله مو کمه ده، د الله د دين د نصرت او د الله دښمنانو سره له جګړې ويرېږئ او جرأت نه شئ کولاى، په اسلامي دولت کې د خپلو مجاهدينو وروڼو لاره ونيسئ، د دوى له ليکو سره يوځاى شئ، د دوى مدد وکړئ او د ځايي کمونيستانو، هندوانو، کفارو او مرتدينو پر ضد جګړه کې د دوى ملا وتړئ،

سره د دې چې تاسې چوپ ياست، وژل کېږئ، شکنجه کېږئ او سپکاوى مو کېږي، تاسې سره دا دښمني نه ده مګر له دې وجې چې تاسې مسلمانان ياست، ستاسې په خوا کې هندوانو ځان ډاډه احساس کړى، ځکه په نبي صلى الله عليه وسلم -زما مور او پلار دې ترې قربان شي- پسې سپکې سپورې وايي او په دين کې عيبونه لټوي، تاسې به په کوم مخ له الله سبحانه وتعالى سره مخ کېږئ او کوم دليل به ورته وړاندې کوئ؟ آيا د غوا بنده ګان په خپله غوا او د مږې بنده ګان په خپله مږه غيرت کوي او تاسې په خپل دين او د نبي صلى الله عليه وسلم په ناموس غيرت نه کوئ؟

مؤسسة العزائم الإعلامية

د سفارتونو امارت

هر کله چې اسلامي دولت په دې بریالی شو ترڅو په صلیبیانو ځانګړی تکتیکي برید تر سره کړي؛ د جهاد د ډیری دعوه دارو پانې ژیړې شوې چې کلونه یې زمونږ ماغزه په دې خوړلي و چې نږدې دښمن سره جګړه وکړئ او لرې دښمن سره جګړه وکړئ، ښکاره دښمن ونیسئ او پټ دښمن راونیسئ!، هغه دښمن ته مخه کړئ چې د ټولو دښمن دی او هغه دښمن ته مخه کړئ چې د ټولو نه دی خو کلونه وروسته دا روښانه شوه چې له اسلامي دولت پرته بل څوک نشته چې ټول دښمنان دې ورته یوځای شوي وي، دا بحثونه یوازې د منعې لپاره و چې وروستی انجام یې د جهاد تعطیلول دي.

هغه اتلوال برید چې د اسلام زمریو په خراسان کې د روسیې په سفارت تر سره کړ، څه موده وړاندې به په داسې پیښه، د مسلمانانو له لوري جشن کېده او جهادي ډلو به کوښښ کاوه چې داسې ورته کړنه تر سره کړي، دغه ډول مبارکو بریدونو به د ستاینې او ملاتړ پیغامونه څخول چې د دوی د ادبیاتو موافق "نږدې دښمن" په نښه کېږي!، د دوی په اصطلاح هغه دښمن هدف ګرځول چې صلیبیان او یهود یې د جنګ لپاره راټول شوي دي، خو د کلونو پټو او ښکاره شاتګونو او منهجي سترو کږلیچونو چې دا ډلې او جماعتونه یې ووهل؛ د هغه صلیبي دولت په سفارت چې د مسلمانانو وینې یې وڅښلې او ځانونه یې پرې ډک کړل، دې برید ته د اسلام او مسلمانانو پر ضد دسیسه وایي، شکمن جهاد او د نړیوالو استخباراتو کړنه یې بولي خو دا سفارتونه بیا د "جاسوسانو ځاله" نه بولي، لکه څنګه به چې پخوانیو جهادیانو، دا سفارتونه د جواسیسو ځالې بللې، دلته یوه یادونه اړینه ده چې د "جهادیانو" او "مجاهدینو"؛ د "اسلامیانو" او "مسلمانانو" تر منځ توپیر دې ته رسېږي لکه یو څوک وایي چې د دوه "ضدینو" او "نقیضینو" ترمنځ توپیر دی، دواړه په حکم کې یوشان نه دي.

د طالبانو او د هغوی د نورو خویندو ملاتړو رسنیو، له برید وروسته په ډیره سپین سترګی، په افغانستان کې د روسیې د سفارت د تاریخي

رول په اړه له څه ویلو ډډه وکړه! ګواکې دا صلیبي سفارتونه چې د مسلمانانو په خاوره یې خپلې پنجې خښې کړي د مسلمانانو د خدمت او د هغوی د حقوقو د دفاع لپاره شتون لري.

د جواسیسو د ځالو او د اسلام پر ضد د جګړې د پلان جوړونې د مرکزونو هدف ګرځول، د "نوي جهادیانو" په نزد دسیسه شوه، هغه جهادیان چې د "کرزي" او "قدیروف" په تګلاره روان دي، تر څو له هرې ممکنې لارې د واک پر ګدۍ پاتې شي.

مونږ دا تمه نه لرله چې مونږ به کلونه وروسته دې ته مجبوریږو تر څو د صلیبي سفارتونو او کونسلګریو په خطرونو او د اسلام پر ضد دغې سوځوونکې جګړه کې د دوی په رول وغږیږو او نه مو دا تمه درلوده چې د دې سفارتونو د هدف ګرځولو د جواز په اړه خبرو ته به اړتیا پیدا شي، پخوا د ډیری جهادیانو په نزد دا خبره د بدیهیاتو او بیخي ساده خبرو څېنې وه خو نن روښانه شوه چې لا تراوسه هم دا خبره منلې شوې نه ده، د دوی د عوامو او خواصو ترمنځ توپیر یو بېځایه توپیر دی، د دوی عقلونه سره برابر دي.

د جهاد دعوه کوونکو، کوم مصیبت د مسلمانانو په زړونو او ذهنونو واچاوه چې اوس د صلیبي سفارتونو هدف ګرځول هم داسې وګرځېده چې نظر پکې دی؟! دغو ګمراهانو او ګمراه کوونکو څومره لوی جرم تر سره کړ چې مسلمان نسل یې د شک او حیرانۍ پیړیو ته شاته کړ، اوس د هغه دولت په سفارت برید کې هم شک کوي چې د یهودو په نسبت یې څو چنده زیات مسلمانان قتل کړي دي؟! بیا هم د روسي - اوکراین د جنګ د لومړیو ورځو یادونه کوو چې د ځینو مرتدو خوځښتونو مشرانو په اوکراین کې اوسېدونکو مسلمانانو ته فتوه ورکړه چې د صلیبي اوکرایني پوځیانو په لیکو کې د صلیبي روسي پوځیانو پر ضد جګړه جواز لري! له دې امله چې له روسیې د هغو وحشتونو غچ واخلي چې د مسلمانانو په حق کې یې په شام کې تر سره کړل خو کله چې مسلمانان بریالي شول، د صلیبي روسیې سفارت یې هدف وګرځاوه او د سفارت کارمندان یې ووژل، دا غیر مشروع جهاد وګرځېد او داسې ناکاره کړنه شوه چې مسلمانانو ته فتنه راوړي؟! خبردار! دوی خپله په فتنه کې غورځېدلي دي.

